ژبه یٔ په دوستی پرانته ورته ی وه و هرکاه چه خپل مقصود د راباندی پوره کړٔ او په خپل مراد ورسید اوس په وفا او عهد ولی کاهلی کوڅول چه دلما سره کړیوه اوس درضا ده چه مات ی کړٔ زه پوهیدم چه په نن رمانه وفا هغه دارو ده چه په دوکان کښی دعطار روزکار مونده نشیْ او په سر رَسول دعهد او پیمان هغه جواهر دی چه په خزانه کښی دزمانی موجود ندیْ وفاداری پیدا زمانه نن چه وه لکه سیمرغ چه نوم ی چا آرویدلَیْ دَیْ اَمّا چا لیدلَیْ ندَیْ او نیکو عهدی په مثال دکیمیا ده چه چوك یٔ له حالَ خبرنه دیْ مژك وه وی سوکند دَیْ دما چه زه به خپله چهره پداغ بیوفائی بدرنكَ نه کړمٔ مصراع ای خاك برآن سر که درو مغز وفا نیست * پشو وه و که دا هسی وی لکه وائی خپل کردار کواه پیدا کړهٔ مصراع دو صد کفته چون نیم کردار نیست * ای مژك واروه وپوهیژه هرچه پیمان شکن او نادرست عهد ویْ هغه ته به هغه ورسیْ لکه ددهقان وشپی ته ورسیدل مژك وپشتیده چه چرنك ی ده

حکایت دا وه و یو عرب صحرا نشین وشهر ته ننه‌ووت نانونه یٔ دنان بایٔ په دکان کښی ولیدل په اضطراب کښی شه بیچاره چه په بوی دروهلی آرزومن وه وه خودی چه نانونَ په سترکو ولیدل کریوان یٔ دصبر چرِ شه

نان بایٔ ته راغی وه ی ویل ای خواجه چه به زاچنی واخلی چه ما به نانونو مور کړ نان بایٔ ولیدل چه یو سړی دی چو به خوری که هر چو وژی دیٌ دوه در روپی به وخوری وه یٔ ویل ای غریب یو درم جه راکړه هر چو چه توانیژ خوره عرب یو درم ورکړ دسیند په غاړه کشیناست نان بایٔ نانونَ ورکړه په اوبو به یٔ ګکول خوړل به یٔ چلور بجر دیوه درم تر حساب تیر شه آخر تر هغه هم تیر شه ودینار ته نیژدشه نان بایٔ ولیدل چه اوس کار په دکان تالا کول راغی وه یٔ ویل ای عرب دا صحبت دخوراك به تر کوم کړم عرب جواب ورکړ چو دا اوبه بهیژی

—

من کتاب مخزن پښتو

II.

کل آغاز دنیك چارِ پنامه دحق بهتر دی * بی مثل بی مانند دی * تر جمله عقلون بردی * هر چار چاکړ آغاز دحق نوم ته پر یاد نه کړ لاوّل * دغه چار دشی اوتر * پحدیث کښ دنبی دخل خبر دی * زه اوس ځك پنامه دحق آغاز کړم څو توانیږم * دی رحمن رحیم خدای دی مهربان لك پ.ر دی * اندرانکه حضرت شیخ الامام مفتی الجن والانس مولانا نجم الملة والدین عمر النسفی رحمة الله علیه در رساله خود آورده است که ببباید دانست که تصوف چیست پرانکه تصوف پاکیزه کردن دل است از دوستی غیر خدای تعالی واراستن صوفی بر طریق سنن ختم الانبیا علیه السّلام تا اکر ذره ازان تجاوز کند صفوت را نشاید وبدعت را باید اکنون اهل تصوف برکزیدکان حق اند آنها که روندکان اند بر سنت محمد مصطفی صلی الله

علیه وسلم مگر درین زمانه فساد که ایشان دوازده فریق گشته اند یازده فریق در ضلالت وبدعت میروند مگر یك گروه اند بر سنت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم میروند که ایشان از آزادکانند وآن یازده بر ضلالت اند الی هذا کلام پس چون حضرت السامی با خاصیت ایشان با خانه هر یکی بیان کرده است این فقیر نیز میخواهد که ترجمه این رساله را بزبان افغانی بیارد تا افغانان را فایده بود ازانکه این طایفهای ناموافق در میان افغانان بغایتی پراکنده گشته اند واکثر مردم را از راهی مراست بیرون برده اند امام عمر نسفی هس ویلی مبرهن دی * چه صوفیان دحق دوستان دی * هم دزړه پاك کردن دی * دوی پربنبی غیر مین آشنائی ی دل خدای * موافق دڅو لکتاب ارسته دپاك لرسول پر نبه سنن دی * پاك الله دی پدوستی واړ نیو چه لخلق تبرا دی * هم چه آغستی درسول دشریعت په پیرهن دی * پدا فساد زمانه کښ هر څوك لاف ددرویښی کا * دوی دولس فرقه شوی * غه یو طائفه ناسبت دپاك رسول پرینبه (پرښه) سنن دی * غه یولس گمراهان دی * دنبی لمنه ورادی * دوی بواړ دشمیرم افغانان ور خبر نه دی ودانات مبرهن دی * اول حبیبه الیایه شمراخیه اباحتی دی * حالیه حلولیه احوریه دی * دوی واړ پغلت چار برند دی *

واقفیه متجاهلیه متکاسلیه الهامیه دی * پظاهر دوی درویښان دی * په
باطن دوی ل شیطان سر پیوند دی * فرقه اول اول حبیبه مذهب ته زده کړ
دنبی پسروی دیوتلی * دوی وائی دهغو چه دښه خدای مین روزی شوی
عبادت ځن نور ولاړشه په بندګی نه دی نیولی * دنبی لګ لعامان هم حرام
حلال وین * دنبی پدین کښی ندی چه فرضونی برمنلی دی ول دوکټ
چوتی دیوهلی * دوی ګفتارکا پمثال داولیاوهم ی دیر خلق ګمراهوین * سکه
احتیاط ځن وکاندی دوی دکفر پکرداو دی ګنبیوتلی * ځوک پیران ځوک
مریدان شوول دیر خلق ی کړی لوم حلق ی کړ ګمراه عامی خلق لګ مرغئی
پکښ نښلی * دوی بیشک کافران دی درویشی ترک وجود دی ول دوی پهود
غواړی چه پنور پتوبری وبلت زغلی * پهر زمانه کښ چه دا ګمراهان پیداشی
بادشاهان ب پرغه خلق باندی ظالم وی هم ب هر رنګ بلا هله پیداشی
دحضرت رسالت هس دی ویلی * سکه پرهیز دهر ځوک وکا لدهس ګمراهی
زیات هغه چه دوی پخدای پرسول لاس ورلګولی * دروایت کړ دی امام
عمر نسفی پفارسی کړی افغانی ی درویزه ځن ویلی * فرقه دویم بل مذهب
اولیایه دی * نی کور چه ددوی کفر هم څه بلا روښان دی * دوی وائی هر
بنده چه اولیا شی پرده امرنهی ورګ شی ددوی هم تللی ایمان دی وسکه

سنت جماعتي دورته وائي چه كه امر نهي نه وي پر نبي باندې نه وو
چه نبي پ انبياو كښ ترخان دي * شفاعت بدي دنور رسولان دامت كا *
چه دپاك نبي م روي پر الله كران دي * هم داګمراهان وائي چه ولي ب هم
افضل تر نبي وين * پدغه دې خبر بد مذهب دحق پدين كښ شويدلي
هم لغزان دي * ته پناه لخداي غواړ لدي هس ګمراهي * درويزه خبر پند
كړ دا فقيرم دنبي ددجويان دي * فرق سيوم دريم مذهب دشمراخيه دي
كافران ذي ناروا روا كوين * دوي وائي دهغو چه نه خداي آشنائي شو
امر نهي څه لر پر ځاي كوين * هم هس هر آواز چه وي ددف يا دشپلي
هم لچنك لرباب دغه سپي ي اروده روا كوين * هم ي كفر پيدا كړي چه
زناه ي دي حلال كړي دوي وائي دا عورت وي * كلون كل همه هر څوك
بويوين * دغه قوم دعبد الله شمراخيه دي پظاهر دوي صالحان دي *
دباطن كښ كافران دي * اوس څموږ پزمانه كښ لك خوك تاريك پيدا
شه دا خبري انشا كړ ول دير افغانان ي وياسته لدين * ددوي خون دي
مباح سوي نبي هس دي ويلي * چه پر مركه ي سرپه مكانړي امت هرچه
څما دين ب بدل وين * درويزه بيان پوښت كړ لكتاب لحديث ي ويلي *
بل هرچه مومنان دي پرسينه هم پرتټر دي ګنبيزدين * فرقه څهارم څلورم

مذهب اباحتی دی پ بدان کښ بتر دی * دوی وائی پر ځپل ځان وم
قوت نشت چه ی ببارت کړو لبد سکه پنوړ چاوم ځه چار ده پ دغه وئ
کافر دی * نه وچات وائی چه نیکی کړ نه ځوك لبد اووین * پردی مال
او هم زناه حلال وین * تر کافران لابتر دی کفتار کرداری دی دکفر هم
اذل حجاب کنړوین * ددوی بی شك کافران دی تر کافر هم بتر دی *
داهس کمراهان پدا فساد زمانه کښ دل دل ب دوی کرزی بر منډ کړی بی
فرض وی سکه حتیاط (احتیاط .l) ځن وکانړی چه دکافران سردی * سکه ځموږ حجت
هم دادی امر نهی پر رسول بانډ راغلی هرچه امرنهی نکا تی وائی مسلمان نه
دی اوتر دی * دامام اعظم اقوال دی * درویزه په کتابون کښ لیدلی *
هرچه امر معروف نه کا (1 شیطان دی * دوی ناست پر شو. شر دی *
فرقه پنځم پنځم مذهب ی حالیه دی سرهوا خار به رکاند هرچه مرد او زن یو
کوری دوی سماع حلال وین * کاه بیهوش شی دوی پریوزی کاهی لاس پر
بله وهین * کهی ځرخ کا کهی ښوری دوی پ زورکا خبر هم سرون خوځوین *
دوی وائی داوم حال دی لك پیری ؤزت حاضر شی * دوی وائی فرشتکان
دی راغلی رات کوری مریدان یو وهی لاپ چه دا حال ځموږ پیر دی *

1) شیطانان

عالمان ور خبر نه دی * هرچه پیر وائی سپینه د چه علمان وائی غه توری پدا
رنك ضلالت او بدعت سری کافر شی * پقیامت ب ی محتورکا چه اتلس
ذرقام بی کوری هرچه سر هوا خبر محتور کاند لنبی سری جنك دی * او هغو
چه دنبی سنت خلاف کر درب نه ی شی دشفاعت پر لوری * درویزه کتاب
پوښت کر بل وار مومنان دی هم پیاد کا * چه فرقه ی دکمراهان دوی زده
کا هم ایمان لدوی وژغوری * فرقه ششم شپږم مذهب دماولی چه ی کفر
پیدا وار دی * دوی وائی دشهوت نظر حلال دی دغو سپی دغه مال دغه
کردا دی * لك ښه صورت ووینی رقص کاند چه دا خدای دی چه دخدای
جمال دم وکرت * دا اقوال دکافران دا کافر پدغه کفر کبنی کرفتار دی *
درویزه بنده کفتار دزړه صیقل دی کی نغوز هرچه وائی لقران لحدیث دنبی
دچهار یار مینه‌دار دی فرقه هفتم اوم مذهب دحوریه و ثان درویش او
شایخ شمرین * نپوهیږی * لك دوی پخلوت شی شیطان وائی چه خدای را
کر دوی پهر رنك لیده ب غلطیږی * لك ورشی دشیطان لښکرون دوینی
وار رنګارنك شی ول ښن لك حور چه پلاس ی صراحی وی هم چراغون ور
نمایږی * لك بی هوښ شی بخرخ کښی وسکه تخت بل شیطان ورته ښرکند شی
چه دا عرش دی هم شیطان پښه صورت ورت ښرکند شی چه زه خدای یم

ستا لخدای لیده کیزی * بیا ب دا ورت وواٸی لعلمان خپل وی مکړ دوی راه زن دی * ستا لحال دوی منکر دی چه دا حال ی نه حصلیزی * هم ب دا ورت وواٸی * چه موسی لیده صفات وته ذاتوین اوس پهس مرتبه شو چه موسی غند نبی در نرسیزی * کاه پیری شی ور حاضر واٸی دور دی راغلی * موز ب ملاست وسرکړون چه پرهوشی غسل کاند پردا وار کمانون چه یقین کا کافر کیزی * دا بیان که افغانی دی پدغه رنکه ویلی عبد الله یافعی دی * پرساله صکیه کښ ی وغوار که باورد په پوښت ژب نکیزی * درویزه دی بیان کړی روایت ی ارودلی لجمله‌و امامان * چه آکاه لدی ځلور علم نوی پیری کاند مریدان بی شوبزی * اول علم تفسیر دی لحدیث لکلام ځلورم علم تغات ثقات (l. دی * که لدر وار آکاه وی * لتعاط (لثقات .l) آکاه نوی عاقبت ب وشوبزی * او که لاپ کا لتعاط لتفسیر لحدیث لکلام خبر نوی دی کمراه دی خلقه کمراهوین ول هر رنك سړی ور نپوهیزی * فرقه هشتم اتم مذهب دواقفیه دوی * لشناخت منکر شوی دوی واٸی خدای ب پیژانده رانشی * دوی پشناخت کښ حیران شوی دوی واٸی خدای دی خپل خپسر بخپل پیژاندلی په بنده ب پیژانده نشی * پدغه وئ کمراه دی غلط تللی لاسلام بیرون شوی * ل سنت جماعتی دی ورت واٸی * پیژانده دحق اسان دی پر بنده باندی راغلی هر بنده دهمر زده

کا چه خدای یو دی * کل کارون ی پحکم پیدا شوی * درویزه بیان دی
کړی بل هر څوك دا زده کا * چه خدای یو دی * هرچه وائی خدای ب
پیژانده رانشی غه کسان دی کمراه شوی * فرقه نهم نم مذهب متکاسلیه
دی * دوی لکسب لاس وکښتلی تل نبی کاند پغاړ درویزه کا * هم کچکول
ی دی پملا پور تړلی * تل لخلق ب زکوة صدقه غواړی پزاری تل بی عذر
درویزه کا دوی خلاف دی دنبی لکفت کړی * نبی هس دی ویلی که وم
وچولی خولی شی یا وم لاس شی پترانکه کسب کانړی * هرچه آسانی کا
کسب نکا رزق بغواړی * تل لخلق هغو دین دی پرلولی چه مطلق آسانی کا *
نه ب کړی وی * نه ب شل وی نه طالب ب وی دعلم نه ب زوئی لور ودوین *
نه ب ډیر عیالی لرین * چه ته فصل به نرسی نه ب دی وی پور وړی *
هم هس تل بی عذر درویزه ددعادت وی پقیامت بی دمخ غوښه ورژیږی *
چه بدیوی شرمولی * اوکه داهنمبره عذرون چه م یاد کړ ول یو پرده پیدا
وی * باکی نشت که خواست کاند پقیامت نه دی نیولی * درویزه چه دا بیان
کړ روایت ی لمعتبر * کتابون ی راوکښلی * هرچه پسروی ب کا دکتابون
دنبی پاکیزه راه هغو نیولیَ * فرقه دهم لسم مذهب متجاهلیه دی * څه
ب وایم دبدبخت لبیان ددوی قوم دی دهریان چه منکر دی لحدیث لقران

بیزار شوی دی لعلم لعلمان * سر هوا خبر کاند دلیل وائی دوی وتلی لایمان دوی وائی * چه قران حجاب دراه دی را بدل دی بر حق چه قران دطریقت دی * څه ب وایم دغو سپی لکمان دوی عمر پ بدل هم پکفر کمراهی کښ تیروبن * کله وائی چه دا پیر څموز خدای دی یَا نبی دی یا ولی دی * کل وائی چه مهدی اخر زمان دی * پدا بد زمانه کښ اوس هرنك کمراهان ډیر شوو لزیات یه په افغانان کښ بنیاد دی لتاریك پیر روښان او که نه طالب دخدای ی تب بی دپاك رسول لپسروی قبول نش ددروېزه خبر پند کړ دویلی لحدیث لقران * فرقه یازدهم بیا هم زده کړ دا مذهب دحلولیه ددوی څه رنك به کمان دی شوی دوی وائی خدا پخلق کښن خلق پخدا کښ محو شوی * خاوری پخله شی چه هیڅ نه ووهله خدای و هس دی هس بوین * هرچه څه پکښ وی میان بی کا واکه وی او هغه چه څه په کښ وی عه عاجز وی پیدا شوی * بل مذهب دالهامی پهٔ حلولیه پور تیرلی ** نغل نمونځ روزه ب نکا لفرضون ول مخ ی لقران هم لعلم لعلمان جاروتلی نیك بد پر بل وهین * دوی وائی موز رندان خراباتی یو لقران لمعراج ی منکر دی * دوی بدکمراهان شعر دقران پر ځای نیولی * دو عمر پدا بهوده بدل تیروین * دوی بی شك کافران دی هرچه دا خبر وائی

غه کافر دی هم عورت ی طلاق چه پ دا حدیث دپاك نبی تر خله وتلی درویزه چه دا بیان کړ افغانان لربس دی * که یقین باند وکاند هرچه دا خبر زده کا پر باور کا هغو لاس پ پاك نبی ورلکولی * فرقه دوازدهم دولسم مذهب ت زده کړ چه دا پاکیزه مذهب دی دسنیان دوی سنت جماعتی دی هم پسرو دپاك نبی دی * هم دایم مدام صحبت ی دی لعلم لعالمان * دخدای فرضون نه قضا کوین لحرام پرهیز کاند لجمله حرام فعل لشراب هم لرقص لسماع لبازی لطیانی کاندی کسب کاندی دحلال هم معراج بر حق کنړوین چه پتن و * تل صحبت ی لسنت جماعتی نیك کار پرهیز کاند ناست نکا لبدان * که څوك ورت شکنځل کا دوی ب بد ورت نه وائی چه شریك ب پلعنت شی دوستی کا دخدای لخلق ول کبر او می نك تر هرچا خپسر کوزوینی * دغه خوی دی دخاصان * پفارسی پعربی هر څوك پوهیږی * ول درویزه بیان پوښت کړ پفارسی پعربی کښ علمان دی دخپل قام وت پښپل ژب وائی ول کم څوك پیدا شوی لافغان *

دخالق صفت بکړم څوم توان وی دژبی * دغه پس درسول ثنا بوایم * څو حیاة بم پر نړی * دغه پس درسول له چهار یارته اګاه شه له ابابکر لعمر * پس عثمان پس علی دی * دزره غوږو دا چار ورَ * تاس واروی عالم *

هر هلك چه نو عاقل بالغ شرکند پر دا جهان شی * دی عورت که میره وی *
تر دا کل فرض ورنبلی دبنه خدای پیژاند کلی پرده ناوان شی * اٰمنْتُ بالله
اول هسی نه آکاه شی چه خدای ذات لری بیمثل بی نظیر بی مانند بی
مثال * نه ی ذات دچا پرنك دی * نه هیڅوك دده پرنك دی * کل اتکل
لزیره وباس وویریږ لجلال * نه ی پلار شت نه ی مور شت نه عورت نه دی
زوی لور لرین * نه خواره خوری نه اوبه څښی * نه دی ژاړی نه دَیْ خاندی
نه ښادی کا نه پخساك کا * نه پرواه دچا لرین * نه دی تور نه دی سپین
دی * نه چه زیړ او سور زرغون دی * پرنکون کښ هیڅ رنك پر ده جوړ نه
دی * نصورت لری ای یار * دی بی شبه بی نمون دی * منه‌ی ځای چر
نیولی * چه دی پورت وی یا کښت * یا پچا ننوتلی * نَه ذره شی نه قطره
شی چه بیلیږی * نه نور چا پده کښ ځائی مقام نیولی * پعربی وائی چه ذات دی *
په پوښت وائی وجود دی * سکه وجود دخپل ښښتن هم پدا رنك وپیژنی * اوکه خپل
اتکل بکاڼړی * بیا پفکر بی غواړی * لایمان وم واته دی * که باور پدا قران
او بحدیث تاس لری * بیا آکامنده ش چه خدای تل وتل بوین * نه اول نه
پائین * نه دی نوی پیدا شوی نبه ورك شی * هرچه دا اتکل بکاندِ هغه
وواته لدین * لك آکاه دخدای پذات ش لاول * دغه پس ی آکاه ش

لصفاتِ * لك ی ذات بی مثل زده کړ او آکاه ی پصفات ش * دَبْ بخلاص
شی لَیِسَاتَ * دخدای ذات صفاتْ قدیم دی هیڅ زوال ددوی نشت * دغه
ذات او صفتون سَرَیو پقدږی کښ څپل بیل دی پوئی کښ بیارت کیزَ لکهښت *
دخدای دیر دئ صفتون دَغَه واړه ب بیان نه هیڅ ولی نه هیڅ نبی کا *
ول لازم پر هر مومّن دی * چه دا څوسره دزده کا * چه ایمان خپل پر قوی کا *
اول زده کړ چه وجود دحق ژوندی دی تل ته تل بی زوال * نپه ارواح دی
دی * دا ژوندون هم ددغه وجود یو څوی دی بی مثال * دویم زده کړ چه وجُود
دحق دانا دی ته ازل ته ابد * هرچه وشو یاَبَ شین * لکل زړه حب آکاه
دی * چه هیڅ څیز نه نوی نوی زده کوی نه وهیروین * دریم توان هسی لرین *
که اوه واړه اسهانِ دیوه ماشی پَ پوست کښ ځایوین * نَبَه دا لوی اسمان
هلك کا * دا بهم پده وشبنَ * که څوك مت پر نیکی وکا * بیا ږیینَ محبّت پس
روان شی * که هر څوی پر دا لوح محفوظ کښولی وی بی دین دی ب اوس
اهل ایمان شی * او که څوك سُسْتِی ونسی مت نکاند پر نیکی پَ بدی پس
روان شی * کهر څوی پر دا لوح محفوظ کښولی پَ ایمان وی * ول اوس ب بی
ایمان شی * دغه کُړه ب الله ورك کا * دغه هسی توان لرین که پوهیزی *
سکه دائده دی مومّنان * هر څوك مت پرنبه وکانړی * چر نوی ته اَبَدَ وکهیزی *

لاوبو کا صورتون لآسمان بارانون * رنکارنك کیاه وکور چه لزمکه زرغونیږی
ځلورم دغه وجودم خواهنده دی * هرچه وشو یا بشینَ * دغه واړه ده خواستلی
لاپخوا وو * ته اَبَدَ بَ لاکیږی * نهایتَ بَ نه لرین * او پنځم دغه وجودم
آرویده لری بی غوږ بی اسباب * که تر خله څوك څه وباسی یا پزړه ی
کرزوبن * دی آروی بی حجاب * او شپږم دغه وجود لیده لرینَ * دا لیدهٔی
دی بی سترکۀ بی کمان * که میږی پر توره شپه پر توره تیږه چلیږه کا * دا
ماغزهٔی دی وینی لاستخوان * بل اوم دغه وجود وَیل لرینَ * دا ویل ی دی
بی شونډ * هم بی ساهَ * خپل اتکل په کښ ومکړ * چر نه چه ش بیرزاه * غه
آواز آواز چه دموسی پرکوه طور وارویدلی * یا چه جبرائیل څن قرآن موندلی *
غه آواز هم مخلوقی و دخدای نو * بی صورت په قدرت ی پیدا کړی * بل
اتم دغه وجود لك په آزل چه خواهنده و * هسی اوس هم خواهنده دی *
هرچه نوی نوی کیږی * دی دوار پهر دم کښ خواهنده هم کُننده دی *
نم بیچون بیچکونه دی * دا بیچون یعنی بی وقت بی زمانه دی * زمانه پر
نه نیږی * نه ځوانیږی نه زړیږی * تل ته تل دی یکسان دی * بیچکونه
یعنی بی مثل بی مانند دی * ترجل عقلون بر دی * هرچه مثل ی پیدا
کړ یا صورت بی کنړین * مسلمان ندی کافر دی * لسم بی عیب او بی نقصان

دی * هیڅ نقصان پر نه رغیږی * سکه مطلق ی خدای مه نسی * هرچه
عیب او نقصانون پر جوړیږی * پعربی وائی چه ذات دی * سکه پهر وجود
کښ دیر رنك خوبون * ول وجود دپاك الله یو بی نظیر دی * هم بی مثل
بی مثال ی دی پدا کل سره خوبون * لك وجود د الله تل و * دا خوبون
ی هم تل وو تل بوبن * په بی شك گمراهان دی * هرچه یو صفت د دق
نوی کنرینَ * هم آکاه ش دحق کل سره نومون نوی ندی قدیمی دی * هرچه
وائی دحق نوم نوی پیدا شه * یا څه نوی نوم ی کیږدی * هغه دوب پکمراهی
دی * دخدای ذات او صفتون جدا دی له مخلوقات * پمخلوق رانه گډیږی * چه
مردان او آسمانون یا دا زمکه دنبه خدای صفت کنرین کافر کیږی * بل آکاه
ش چه خدای یو دی بی شریك * مل ی نشت دخدامی * نه محتاج دپا
دنیك * نه پرواه لری دبَد * غمْ نکاند دَد خپل بادشاهی * دخدای شناخت
په بیل بیل دی بی حد * واړ نه را بیانیږی * ول هرچه ی پذات او پصفات
دا همبره پوه شه * هغه کس لعارفان حسابیږی * وَمَلَآئِکَتِه بل آکاه شی
مومنان * دا فربست بنده دخدای دی * څوك لنور څوك لنار پیدا شوی
پحساب پهر ځای دی * دوی خواړه او به نه خورین * اغوستن نه اغوندی *
دوی هم نر او ښځ نه دی * نه دوی زوی او لور لرین * دوی دخدای

پحکم چار کا نه ستړیږی نه غم کا نه زهیریږی * هیڅ عمل بی حکم نکا * څلك
دوی پدغه کړه نه غلطیږی * هرچه وائی چه فرښت شول غلطه دفلانه ارواح
ی وکیښ بیای پرینبو * پدغه وئی کافر شو * دویم داغ لعنتی پر خپسر
کښو * وکتبه لك فرښت وم کړ قبول مومنان * ومنی داکتابون * چه راغلی لښه
خدائی پر نبیان جبرائیل هم لآواز آرویده پر افلاکون * دا څلور پکښ مشهور
دی * نوری ندی حساب شوی * ته ایمان پر واړ راوړ منکر مه ش * چه
منکران ی ودوزخ وته تیر شوی * دغه واړه مخلوق نه دی نه دی قدیمی دی *
خالقی او صفاتی * لك نبیان مخلوق راغلی * څلك دویم تر نبیان په بیهی
دی * ول هرچه را پکښت اماماں بیان کړی * دغه هم دی پدر رنك مومنان *
څوك اصول دی څوك فروع دی * او دریم څن ویلی ملحدان * غه اصول چه
دسنیان پر څلور مذهب روغ وی پس څی * مسله که دفروع هم برابر پر
اصول وی * پر لیمه ی قبلوی * ول هرچه ملحدان بیان کړی * که پلاس
وم چر کښوری * یا په اور یا په اوبه ی ورانوی * چه دکفر ښاخ به
پر بوزی * دملحد دکتابون نقش داد که پوهیږی مومنان * روایت بی هیڅکل
لااصول نه جوړیږی * چه دوی دی دګمراهان * ورسله بیا نبیان واړ قبول
کړ پحساب ی مه کښباس * ول به پکښ مرسل دی * پرسل کښ څښتن

دشریعت م دغه شپږ دی * دغه شپږ پکښ افضل دی * په اول آدم صفی و چه
تر ده پخوا هیڅوك نه سړی وو * نه څوك نبی و * چه تر نوح پخوا نبی و که
مرسل و * دآدم په پیروی و * بل ښښتن دشریعت بیا نوح نبی و * چه ده
نوی شریعت بیاناوین * هرچه تر خلیل پخوا نبی وکه مرسل و * دا عالم ی
پدغه دین پوهاون * دریم ښښتن دشریعت خلیل الله و * ابراهیم ددنامه و *
هرچه تر موسی پخوا نبی و که مرسل و * هم دده پر شریعت ی انبوهه و *
څلورم ښښتن دشریعت مهتر موسی و * ویدلی پرښتیا و * هرچه تر عیسی پخوا
نبی وکه مرسل و * دغه دین ی وعالم وت رسا و * پنځم ښښتن دشریعت مهتر
عیسی و * شریعت ی ډیر آسان و * هرچه تر رسول پخوا نبی و که مرسل و *
دی ولاړ هم ددغه دین په بیان و * شپږم ښښتن دشریعت پدا آخر زمانه
کښ محمد آخر زمان دی * شریعت بی بدل هیڅوك نکاند * که نبی و که
ولی وی تقیامت دی چلان دی * دا نبیان لك عیسی بآخر راشی * یا الیاس
یا مهتر خضر پر دنیا حیات غږیږی * دوی در واړ درسول ددین بیان هم
پسروی کا * لك علمان هسی چلیږی * سکه نه زده کړ هرچه پس له محمد بل
یو هسی پیغمبر نه پیدا شه نبه وشین * چه دده دین ب منسوخ کا * او دا خپل
دین ب وخلق وته وښیین * اوکه څوك هسی ووائی هرچه پس له محمد پیغمبریم

ما منی * که باور چا پر دَه وکړ * دغه دوارِه کافران شو * دوار لاس ی
وخاته له مومنی * محمّد ختم دجمله پیغمبران * پس لده پیغمبر نشت بی علمان *
عالمان حقانی بی ددین بیان وائین * څوحیات پر دنیا کی وی ای یارانْ *
عَالمَانَ حقانی هم خلیفکان دپاك رسول دی * پاك نبی هسی ویلی چه زه
هر نیم حیات یم * عالمان حقانی م پر خپل ځای دی کښنولی * بیا ته زده کړه
دنبی یاران انبوه وو * ول دډ دیرش زرْ یارو پدفتر پور وتلی * ول به تر
دوی وار غه ځلور وو * چه هیڅ یار ددوی ته حدّ هرګز نورسیدلی * ول به
پدا ځلور کښ و بابکر پر دا در و مرتبه و دده بلند * دغه پس پر دا دوه و دعمر
عادل اویٔ وبته ځرکند * دغه پس پر علی هم دعثمان ډیر لویٔ و * دغه پس
پر اصحاب پر اهل بیت مرتبه ترو دعلی و * دغه پس مرتبه داهل بیت
دغه پس مرتبه دغو کسان * چه رسول و دبهښت ګواهی پر لوی دوی شپږ
وو ای یاران * دغه پس مرتبه دهغو ډیر پر سری پر پیری پر دیوانْ * چه
حاضر وو لرسول مت ی وکړ جنك ی وکړ دبدر لکافران * دغه پس مرتبه
دغو یاران * چه حاضر دحُدَیْب پر انبوهی وو * دوی رضا ورسول ورکړ بی
اختیار * دخپل ځان پرك راضی وو * دغه پس کل اصحاب وار افضل تر
امامان * امامان تر پسر روان * دغه پس ترو بی علم بی عمل بی تقوی څه بیهی

نشت وپوهیزی مؤمنان * اوس که هر رنك سړی وی دی ساوو وی که مرئی
وی * حبشی که قریشی وی * که بیعلم بیعمل او بیتقوی بخره وشوه لایمان
بمطلق بدی ولی وی * اوکه اصل ی سید وی قریشی وی هاشمی وی په اولاد
دپاك نبی وی * که سنی مذهب ی پربښو شریعت ی پس شا کړ * هغه کس
بروزخی وی * سکه دخدای او درسول دچهار یار دغه هنمبره پیژانده پرهر چا
فرض دی * پر عورت پر مړون پر آزاد پر بندهٔ و لازم شوی لك قرض دی *
کریمراد وار دخدای دپاره وو * پوښتانه دی پیاد کا * لك پوښت دین ووایه
ش * ورك حجت دپوښتانه ش * چه وخدای ته بی زیاد کا * وَالْيَوْمِ الْآخِرِ
بیا باور کاندي خلق دقیامت ورځ بهم راشی * آسمانون براپریوزی هم بکل
غرون هباشی * نور لاوزم هم لستوری براپربوزی * لور پرلور ب سهمانی وی *
هم ته پونس کال لرب غرزی ددوزخ درومی * هم ته سل کال لورب لبنی
وی * دا وینبته بوار سپین شی هم دلوی دهلك لهیبت له حیرانی * دا مرده
بکل زنده وی چه یغت بی گوری * دا خواری * پغه ورځ بهر ځوك ځان ځان
وی * انبیا که اولیا وی * دا مهتر عیسی ب تښتی لمریم * ابراهیم لاسماعیل
لاسحاق * دهرچا ب دغه خپل پیتی پشا وی * پغه ورځ بدنسب پوښتن نوی * چه
ته زوی او لور دچای * پغه ورځ پد (بد) پوښتن لعمل که سیدی که علمای * که

عمل دبرابر پر شریعت وی * سکه ماوی بَدِ جنت وی * او که تل دشو سپك
لبنکی * وسکه سَتَا بَ پدوزخ کښ سکونت وی * پغه ورځ ب لك هر څوك
پښان ځان شی * یوب عرض دبلَ ونکا * دا څموز رسول بودری پښپل دزَاری
کُوکاَر بوَکا * چه فریاد لرم وتات دغه یو فریادم ونغوز ای خدای * چه
ایمان ی سلامت ده وی راوړی * لدوزخ ی آزاد کړ وبهښت وته ی بیای *
لك څموز رسول رویدار پپاك اللّٰه دی * هم پدَرْ دحق قبول دی * هر اُمت بور
روان شی داب وائی * هرچه موز وقبول کړی دا رسول دی * دوی بهَ غړ ور
پس وکا محمّد ستا امت یو عمل دار دشریعت یو * پمذهب بد سنّت جماعت
یو * ول خدای دانا لهر حال پر دنیا پآخرت دی * هر سړی په بیل ب څرکند
کا * چه رسول دا ولاړ پر شریعت دی * څن نور بور څرکند کا * چه رسول
پظاهر داهم عامل پر شریعت وو * کامه بی وَیَلَ هم ددین دعوه ی کړل *
ول غرق په بدعت وو * غه کسان چه بعامل پر شریعت وی * پمذهب بد سنّت
جماعت وی * پتحقیق بور پوهیږی * چه رسول بی پکروړ حمایت وی * ول
زار دبدعتی کمراهان بد مذهب بی راهان * چه رسول ب پیَکْلَخْت څن
ویزار شی * څما خدای نی بوی لدی هسی بی ایمان * سکه بایده دی مومنان
لهر رنك بدعتی بدعت بیارت اوسی * هرچه بیل بیا درسول لطف نشی * ارسول

بخره یوسی * پغه ورځ بکل عالم خپل بیل کا * به جدا بی لطف کا * که نیکان وی

که بدان وی * دوی بهر ځوك پدا خپل امام پس کا * که امام ی سنّی نوی او

ولاړ پر شریعت دنبی نوی * دی دواړاند دوی دورست ودوزخ ته بی

بیائی * دغه حال بی دَسِپیْ وی دوی بواړ پس درمی * او لعنت به باندی

وائی * چه تا پند ومونږ رانه کړ دنیکی * دا شومیت واړ دتا دی * ودوزخ

ت مونږ بیائی * او پسځ ی دغو و چه امام بی سنی وی * پمذهب بد سنّت

جماعت وی * هم پتن عبادتی وی * هم پسرو درسول وی * پر عمل دشریعت

وی * دیْ دواړاند دوی دورست پبنادی کبس وجنّت ته بی بیائی * ددغه

شُکر دپاړ چه نیکی ی وروبسو * صد رحمت بباند وائی * سکه حذر کانړی

یاران * لبیراهٔ بد مذهب امامان * چه پحق بوم آکاه هیڅکل نکا * پآخر

بودری لبی ایمان * پسروی خود قرآن کانړی خلق * ول پند آری سَنی امام

نغوزی * که ثابت پر دغه پند شی * پآخر ب وبهبست وته وکوزی *

در بیان مفسدات نماز

بیا آکاه شی یاران پآدَبْ ی کذاری * چه دا نمونځ لخدای رازدی * فهم

کانړی لپنځه ویشت ځیزون * که یو ځیز پده کبس راشی * سکه فاسد دغه

نمانځه دی * اول خبر ددنیا * دویم سلام چه نماز کذاری دچاولی * او دریم

که څوك سلام لی دی علیك کا * دا علیك دده پر خدای او پرسول ندی منلی * څلورم که څه وخورین * او پنځم که کریز وکاند * او شپږم که اُه ی وکړ * بیا اوم که اوه ی وکړ * او اتم که ژړا کاند ددنیا لیو درد یا لغم چه عزیزی چرو مړ * نم چه بی عذر نوخی کا * یا دی غاړ هم بی عذر کا وښان * او لسم چه ب ونړی څواب وکاند * یولسم که څرك دښو زیری دبد * یا ځبر وی نادر بیا وده وته ی کاند * دی څواب وهغه ورکا * که څواب وی په بل دنك خبر یا اَیتْ وی لقرآن * لك الحمد لله انّا لله سُبحَانَ اللّه وی نمونځ ی مات شی * بی گمانَ * دولسم که امام اړشی مقتدی دی اړوکښائی روا دی * او که خپل امام ی نوی دنور چا اړوکښائینَ * نمونځ ی مات شی ناروا دی * دیارلسم که امام اړشی مقتدی کی اړ وکښوائی دَیْ نغوزی باك ی نشت * او که ونغوزی ونْیاَ دهغه کس چه اقتدای پس نو * نمونځ ی مات شی چاری زَښْتَ * څوارلسم کڅوك قرآن غلطه ولولی پغه رنك چه ی معنی تغیر شین * پنځلسم که سجده وکا پر پلیت زمکه باندی * یا تنکه قیاس قدمون پر پلیت زمکه ږدین * شپاړسم که ددنیا څیز وغواړین پنمانځه کښ لښه خدای * اولسم که ډیر چاری پکښ وکړ دغه نمونځ ی شه بی ځای * اتلسم که پنمانځه کښ څوك وخاندی نمونځ ی مات شی * نولسم که مخ ی فیر لقبل

وخور لَتَتَرَ پڼغه هم لری پسات شی * او شلم هرچه فرضون دنمانځه دی که یو
فرض ځن پریږدین * یو ویشم (یو ویشتم ا) که شی عورت برابر لمردان * چه پصف
کښی لمرذانْ ودرین * که دغ کړی اقتدا وی لامام * هم امام وی دعورت نیت
ترلی * دمردان نمونځ بات دَد بوشی * روایت هسی راغلی * دویشتم ګځوك قرآن
دوړاند کیږدی ورته کوری بیای لولی * درویشتم که وقتی کاند او نژدی
قضایا دشی تر دا شپږ نمځه پکښت * نمونځ ی مات شی روایت دی ما لیدلی *
څلیرویشتم که څوك سجده کا دواړ پښی پسِ واخلین * پنځویشتم که تر امام ی
وی پښی تیر نمونځ ی ماة شی مومنان دی وارورین * بیا آگاه شه چه دا نمونځ
دجناز پر واړ فرض کفایت دی * که ادای یو سری وکا نور آزاد شی دَغَه
هم لحق شوی شفقت دی * که مرده ی وی شغ کړی جنازه کړی وی ته
دریم ورځ پور هم پر کور باند رَوَادَ * ول هرچه دغه پَسَ ی کوین * یا درمه
ورسوین * دغه چار لوی خطا د * ول نیت پخپل ژب که عرب ی که مغل
ی که پښتون ی وی کړن * پ پوښت ژب نیت دا دی * که مومن ی پاخلاص
ی قبلون نیت م وکړ دزړه لاخلاص فرض کفایت به کرم پرضا دخدای پڅلور
تکبیر ثنا دخدای * درود پر مصطفی ثواب دِدمرده مخ م پر قبله کړ الله اکبر *
دغه پس چه سبحانك اللهم ته پوره پس بل تکبیر ووائی * دغه پس هم ته ولْوِلَ

الحمد بیا دریم تکبیر ووائی * دغه پس بیا الحمد ولولن څلورم تکبیر ادا کړ
لك پوره کړ څلور سرا تکبیر * دغه پس سلام شی وچپا کړ دینه خدای ثنا دکړو
د چه دَدَو لار پیدا پردا جهان کړ یو داسلام دا بل دکفر * بیا ی دواړ څبل بیل
پقران کړ * بیا پهر زمانه کښ انبیا وُو تار پتار وَوْ وعالم وث ویلی * اوس
څموږ پزمانه کښ دا خبَر محمد آخر زمان کړ * درسول و بتول دو رنك وو یاران
کاه پخله ی کړ خبر * ول هرچه بی ننغوت خبر سکه شپ دا کوړ ی پر هغو باند بی
یاران کړ * دالله حکم پر دا وچه سرون بی پر کړ دکافر بی ایمان * هم زهزاد بی
بنده کړ اوجی بی پریشان په یاران کړ * مخمس افغانی قوله تعالی وَاعْتَصِمُوْا بِحَبْلِ
الله جیعًا وفی التفاسیر حبل الله اَلْقُرَانْ لَیَسُوْا مثال دی حق ویلی * اوس پر
موزی راستولی * هرچه تیز فهم پروکا هغه لاس دی پحضرت ورلګولی * وپوهیږی
مومنان * که نعره سری ولویږی پکمد کښ ودریږی لار نه کښت وی نه پورت
پخه رنك به خلاصیږی * وپوهیږی مومنان * پحیله ی را وباس ای مومن * که
مین ی لاخلاص پر دپاس ودریده رسی کښت کړ للائی * وپوهیږی مومنان *
دغه نښتی پهوا او پکمر کښ اندیشه دینه وکاند پکوکل که به بی رسی خلاصیږی *
دواړ لاس دخپل وبنی په بغل کښ * وپوهیږی مومنان * اوکه بَلْ حیله نه لری
یارانْ او دا له وت ی ویر للرمْ لماران دواړ لاس دبه رسی ولکوبن بل نشی

تل ت تل و پښیمان * وپوهیږی مومنان * که دغه رسی پکروړ ونسین په بیشك به
دی پورت وخیژین * دی بخلاص شی لخواری * بخوښی به لهون ولی ودرین *
وپوهیږی مومنان * سکه دا عرش لدته لوح لقلم پشال دهغه غره کیږی عالم چه
سری ځن را ولوډ یکبار * اوس په بیارته ختای نشی پسَل غم * وپوهیږی مؤمنان *
او دا زمکه پشا (پشال ا.) دکمر میان دی * دا بنده پکښ حیران دی * پورت تل ی
پَوَاكَ نه دی * او پکښت کښ ی زیان دی * وپوهیږی مؤمنان * ول خدای
لریږ فضل لکرم * دقرآن رسی را واچول سم * هرچه لاس ی لکولی پقرآن
دی * دی بخلاص شی لاندوه هم لغم * وپوهیږی مؤمنان * ته آکاه ش هرچه
لاس ی لکولی پقرآن دی * که ایمان ی سلامت وی * دا دوزخ پر ده حرام
دی * دا قرآن بې په پورت وخکوین * هرچه جنت الماوی دده مقام دی *
وپوهیږی مؤمنان * ول هرچه لاس ی وکیښ لقرآن * دهغه بخره ونشو لایمان *
وای ځه پکښت ځای دجهنم دی * نور ب هیڅکل و نوز ای نادان * وپوهیږی
مؤمنان * کرېنداد یو کناه کار دی * دښه خدای لکرمون امید وار دی * کی لاس ونه
خیژی لقرآن * په امید غه دبهښت او دديدار دی * بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ *
سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ پاکی ستا دپاك خدای * چه راغلی دلځای * كل
ثنا دستا لایق * ای خالق رهنمای * وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالٰى جَدُّكَ وَلَا اِلٰهَ غَيْرُكَ

نوم د دی لبرکت * ستا غناد لرفعت * بل ځښتن بی تان نشت * نبه وشی تقیامت *
اَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ * پناه غواړم لرديم * لرانده ديو رجيم * که م
خلاص کړ لوسواس * دا بندکی بشی سليم * بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ *
پنامه دحق آغاز کړم * اوس لحق سره براز کړم * دی رحمن رحيم خدای
دی * دطاعت قَدَم بسَاز کړم * اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ * کل ثنا پر حق ثابت * ته ی مهٔ باس
لېت * ځو دساه او صورت جوړ دی * ته ژبی مکړ ساکتِ * رَبِّ الْعَالَمِينَ *
ساتند وی دعالميان * دسړی دپېريان * پهوا کښ دمرغونْ * پدرياب کښ
دماهيان * الرَّحْمٰنِ * رحمن رحم کا يارانْ * پر جمله ځانوران * رزق روزی
دی رسوين * وجمله روزی خوران * الرَّحِيمِ * رحيم رحم پقيامت کا * مومنان
ب پجنّت کا * مومنان بَ پښادی کا * کافران بهزيمت کا * مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ *
دي بادشاه پآخرت دیَ * پهر چا ی حکومت دی * دی بادشاه پد واړ کون *
ولزيات پآخرت ی ډير هيبت دی * اِيَّاكَ نَعْبُدُ * عبادت خاصه دتا کړم * کل اغيار
ب پس شاکړم * زه بل شم دبيراه * که بندکی بَ پر يا کړم * وَاِيَّاكَ نَسْتَعِينُ *
زياری غواړم لتانَ * توفيق ته راکړ رحمان * که توفيق م کړ پ بخره *
ما ب خلاص کړ لزندان * اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ * روغ لار کړ را دوځار *
چه مذ بود وی قرار * برابر ځی وتات * هم اېن وی لخار صِرَاطَ الَّذِينَ

اَنْعَمْتَ عَلَیْهِم * روغ لار دهغو کسان * دهغو پیغمبران * هرچه تا پر کرم کړی *
امان دیْ لشیطانان * غَیْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَیْهِمْ * نه غه لار چه وی باریك * پر
گمراه شی تاریك * دوی پیژاندلی نشی * تیریږی ڤان خورکی کا * وَلَاَ الضَّالِّینَ *
نه چه لار دکافران * دبی دین بی ایمان * دوی پقصد گلار غریږی * دښنی
کا لعالمانْ * امین * هس چار وش حیات * لك وویل وتات * که م دا حاڅت
روا کړ * دا ښائی هم ستا لذات * قُلْ هُوَاللّهُ اَحَدٌ * نه اوس ووای رسول *
سَتَا وَیْنَا پا قبول * چه اللّهَ م یکانه دی * باور وکړ ای فضول * اَللّهُ الصَّمَدُ *
اَللّهَ بو دی بی نیاز دی * لهر چا سَر پراز دی * کل عالم دده محتاج دی *
که محمود دی که ایاز دی * لَمْ یَلِدْ * لده هیڅ نه دی زوکړی * ده خواره
ندی خورلی * دده زوئی او لور د کوم * دودون نه دی کړی * وَلَمْ یُولَدْ *
دی لچا ندی زوکړی * نه ی پلار دی ڤوك نیولی * هرچه دا گمان بکاند *
هغو خپل ایمان خورلی * وَلَمْ یَکُنْ لَّهُ کُفُوًا اَحَدٌ * سیالی نشته دخدای *
نه ی مل دبادشاهی * بی پرواه دی لاَنْبَازَ * هم دبل لکا الخواهی * اَللّهُمَّ رَبَّنَا
وَلَكَ الْحَمْدُ * ای باری خدای خالق * کل ثنا دستا لایق * زه اوس ستا ثنا
وایم * دا ثنام کړ صادق * سَمِعَ اللّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ * زه یو زیری دښا دی کرم مومنان *
پدا زیری ونازیږی مصلیانْ * هغه کس چه ی دحق ثنا ویل * دا ثنا شول

قبول ای یاران * لك نبی وپورت تللی * وبنه خدای ته دردلی * بل پیښ کښ ورځ نو * دا کلام و دنبی تر خله وتلی * اَلتَّحِیَّاتُ لِلّٰهِ * هرچه ما پغله څه کړی * پدا ژب ما صفت ثنا ویلی * هغه واړه پ اخلاص دی * ما درګاه لره راوړی * وَالصَّلَوٰاتُ * هم چه ما پتن څه کړی * مونځ روژه م ادا کړی * نور افعال چه څه پ تن وی * پتحفه دحق راغلی * وَالطَّیِّبَاتُ * هم دیر ډل مالون دی بازلی * سر سایه او زکاتون م یستلی * بل غرض م پکښ نو * خاص دحق پلوری تللی * بیا دحق ثواب هم دا و * چه نبی هم پر رضا و * بل او ستا ځی تر میان نو * حق بخپل ور رسا و * اَلسَّلَامُ عَلَیْكَ اَیُّهَا النَّبِیُّ * کل سلام لایق دتا ش * لنقصان دپناه ش * سلامت اوس رسول * اندرون دمصفا ش * وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَکَاتُهُ * حقانی رحمت هم ستا ش * برکت ی هم پر تا ش * پدوستی ی حق نیولی * مرتبه دپورت تیر تر (شمار) سما ش * لك دخدای رحم پر وش * دحضرت زړه کی پر بنه ش * ول حضرت پعقل پور و * ځك دا رنك وئی پر ووایه ش * اَلسَّلَامُ * دا سلام چه دی راغلی * تا پر ما (موږ) دی راستولی کرم وکړ ای کریم * کل مومن پر تازیدلی * عَلَیْنَا * دا سلام دښه پر موږ * ستا لقهر وم کوږ * پر عاصی که رحم وکړ * لګناه بی خلاص کړ لك موږ * وَعَلٰی عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِیْنَ * هم پر واړ بندګان * چه دوی دی

دصالحان * هرچه تا پر ردم وکړ * هغه وشو دخاصانْ * لك تمام دنبی راز ش *
پر دا نه سَرَ افلاك يو انكاز ش * كل فرښته وويدل * دا وئی ی پخله ساز ش *
اَشْهَدُ اَنْ لَآ اِلٰهَ اِلاَّ اللّٰهُ * زه كواهی لم لاخلاص * چه بل خدای نشته دپاس *
جزْ اللّٰه چه يكانه دی * بی شريك خداهی كا لخپل لاس * وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ
وَرَسُولُهٗ * بيا هم كواهيم كواهی لم * محمد رسول مَنمْ * چه دی بنده دپاك
الله دی * هم رسول بی شميرم * اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَسْتَعِينُكَ * زه ياری غوارم لتانَ *
ځما سه خدای سبحان * كه توفيق دطاعت راكړ زب نشم بی ايمان *
وَنَسْتَغْفِرُكَ * آمرزش لتان غوارم * زهم ستا پكرم ويارم * كه ت نيك نظر
ونكړ * زه به تل ت تل ژارم * وَنُوْمِنُ بِكَ * ما ياور پتا راوړی * لكل
غيرم پر كړی * هرچه دا ياور خطا كا * هغو خپل ايمان خوړلی * وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْكَ *
توكل ځما پتا دی * لكل غير ما ورا دی * چه نكيه پتا ونه كا * دهغو ايمان
خطا دی * وَنُثْنِي عَلَيْكَ الْخَيْرَ * ستا ثنا دنيك وايم * ځو ژوندی پر دا دنيايم *
بل ځښتن نه پيژنم خاص بنده دپاك اللّٰه يم * وَنَشْكُرُكَ * شكر استا وايم
رازق * كه قبول ی كړ خالق * ولی حق به دشكرت ادا نكاندی * دا كويا
ژب ناطق * وَلَا نَكْفُرُكَ * لخداهی دمنكر نه يم * به اخلاص درته پزړيم * ته
آكاه ځما لحال * لك پزړه هس بخله يم * وَنَخْلَعُ وَنَتْرُكُ مَنْ يَفْجُرُكَ * هرچه

*

غاړی غړولی لغړان * ته آگاه ی زه دوتم لیان * هم پزړه هم پصورت لړوی
بیل یم * بل خلاص شم دبدان لتاوان * اَللّٰهُمَّ اِیَّاكَ نَعْبُدُ * بندکی کړم
زستا دپار * ردم وکړ ای غفار * لك حق دی هس نشی * قهرم وکړ قَهَّارَ *
وَلَكَ نُصَلِّی وَنَسْجُدُ * غونځ هم تالر کذارم * سجده ستا پلوری کړم * په اخلاص
یم پطاعت کښ * ول دیر زه دریا للوری مرم * وَاِلَیْكَ نَسْعیٰ * کوشش
کړم دتا ولورته * چه سفرم دی وکورت * لكم وروړلی ته کور بیا * په بیارت
به رانشیم وکورت * وَنَحْفِدُ * ستا خدمت ب کړم پخل * بل چارم شی افضل *
که توفیق دخدمت راکړ * تر دا به بل چار نشت اکمل * څما کل مین خالق
اوس لتا د * دا خبرم ویلی پربتیا د * هرچه ستا للوری دبن بنه م یشی *
ول دیر لکمراه لاغیار بلاد * وَنَرْجُو رَحْمَتَكَ وَنَخْشَی عَذَابَكَ * امید وار دیم
لرحم * ویر کړم زستا لسهم * لعذاب دیر وبریږم * وم مه باس لفهم *
اِنَّ عَذَابَكَ بِالْكُفَّارِ مُلْحِقٌ * ستا عذاب دکافران * لایق دی دبی ایمان * سکه
پر دوی ارزانی کړ * ردم کړ پر مومنان * کرېداد هم ستا بنده دی * دی
لړ بر کناهون شرمنده دی * نه بل ځای نه بل پ اخپل امید پ امید دتا زنده
دی * مناجات * اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا اٰتنا فی الدنیا حسنة وفی الاخرة حسنة وقنا عذاب
النار * باری خدای ساتند وی * ته محتاج دبنده نه ی * دبنده لتان بوی *

ستا کلام رویدار کړی دی وثنات * هرچه بنه دی پدنیا کښ * ته ی را کړ ددخپل کلام لروی * هم بښکړه دقیامت ومات راکړ * بیا لاورم نکاه کړ * پغه ورغ چه ب بیلتون وی * دا مین مور ب بیل شی لزوی * اللهم صل علی محمد * ای باری خدای کرم کړ محمد رسول مُنْعَمْ کړ که کرم پر حبیب وکړ * پدغه کرم بکل جهان بیغم کړ * وعلی ال محمد کما صلیت علی ابراهیم وعلی ال ابراهیم انك حمید مجید * هم کرم کړ دنبی پر پسروان * لك دکړی پر خلیل وَ لَیَارَانْ * ته لایق هم دثنا هم دبزرکی * ستا لوی دموز منلی پعینان * اللهم بارك علی محمد وعلی ال محمد کما بارکْتَ علی ابراهیم وعلی أل ابراهیم انك حمید مجید * برکت هم پرسول کړ لامت * لك دکړی پر خلیل و بی منّت * ته لایق دثنا خدای ی * ستا بزرکی د پوز دیر تقیامت * سبحان ربی الکریم * پ پاکی ی یاد وم * دخپل رب ثنا وایم * شما رب بو نیکوکار دیْ * لنیکی ی طمع کرم * سبحان ربی الاعلی * پپاکی ی یاد وم * دخپل رب ثنا وایم * شما رب تر عقل برْ دیْ * وسکه ثلك نهایت نوموم *

نکته پنځم در بیان ده صفت خدای تعالی که از دانستن آن مسلمانان را ناچاری است

دخدای نور نومون دیر دیَ * په لس صفت دی هر ثوك دپیژنین چه هېغ

نه وو هله خدای و هس دی هس بوین زنده دانا توانا دی * چه ي خواست
دغه ي وکړ هم بکړين * شنوا بينا گويا مشيت ي کننده دی * ته پاين هغه
څلور سر ذاتی امهاتی وو * دا څلور مولودانی دی انه واړ ثابت دي * تل لذات
وړاند بيارته نه لرين يو بيچون بيچگون دی * بل بی عيب بی نقصان دی
وسکه دا دوار سبلی (سببی؟) او تنزيهی ويلړين دغه دو صفت بی خدای پر
نور چا ته مسازيږی * نور څوك چار نه لرين ول نور لك محي ميت دی * معزّ
مذلْ خدای دی * صفات فعليه ي ويلړين * دخدای شناخت پر هرچا فرض
دی * درويزه څکه دخدای دپار وائی افغانان زرکوين *

نکته دوازدهم نيز اندرانکه الله تعالی را بسه
څيز دانستن فرض است

هر عارف لر بأيده دی * چه په در څيز دخدای وپيژنين * اول يکانکی دضد
او ندی نشت تل وتل بوين * بل ي ذات پاك موجودی ته ازل ت لابد *
دريم صفات هم قديم دی * تل له ذات سر وون هم بوين * دتوحيد اشارة
مکړ چه خدای دی پر دغه لوری هرچه و توحيد اشارت کا به کافر شی په
قيامت بی محزون توروين *

نکته سیزدهم در بیان شرکه جلی وخفی

په قیامت به لکه خدای پر موٌمنان باندی کرم کا بی له شرك جلی وخفی به لنور کناهون دی جمله عامی بیغم کا * شرك جلی وخفی وی پر دو رنکه راغلی په جلی سری کافر شی وخفی وته ی بدمذهب ویلی بوی جلی چه به دغو وژ مهرجان کا یا وکانړی یا وڅلی یا وقبرون ت سجده کا * خفی چه سود زیان له خدای نکنړین هم للوری لسبب اندیښنه کا او که سود زیان له خدای نکنړین دی اندیښنه کا وبیا خلق وته ی ښه کا پر ښیوه کا *

نکته چهاردهم در بیان که ده دانستن در کلمه شهادتْ فرض است ودر شرح است هر که نداند بحقیقت مسلمان نباشد

لس خوبون فرض په شهادت کښ پر ازاد پر بنده و دی یاران * هرچه لس واړی نزده وی نه دی له موٌمنان * اول دکلیمه یو څل ویل پرتان فرض (فرض) دی * او تکراری تل سنت دی چه منکر دی له سنت غه ندی له موٌمنان * بل معنی هم ته زده کړ * بل بلوری یعنی وکړ موٌمن * څلورم ته مستقیم پر دایم اوس بل مل ش لخاصان * پنځم دغه حرفون صحیح وای چه معنی نشی تغیرك حرفون بدغلیت کړ چه معنی ی شو تغیر تبه نیل شه لسنیان * او شپږم که

ځوك سړی درته ووائی کاږه وای ای مومن ته ی ځرته زر وای بل نشی لجهود
کافران * اوم زده کړ چه خدای یو دی بی شریك ناس زده کاږی دوستان *
نم ووای محمد دخدای استاځی پس لده پیغمبر نه وبه وین * او ك ځوك چر
ځه اویی بکافر شی لنبی ختم دمرسل دنبیان * لسم ځلور پیری دنبی علیه
السلام زده کړ پر تا فرض دی * هرچه دا نه پیژنین دی بل شی دعامیان *
دا بیان ی په شرح مختصر کښ ی په فارسی ژبه وبلی * دفقیر ځن پښتو کړ *
بل غاړی شی خلاص ددوی عالم افغان خدای پهر ژبه بول ك عربی وی
که فارسی که هندی وی که افغانی وی پهغه ژبه ی بول چه دزړه وی داقوال
دامامان * اوس اکثر عام دا هس وایی چه قران په عربی دی * پناحق
فرض واجب پښتو کوبن * دوی په دنیا له غزان دی نپوهیږی دغه خوی
دجاهلان * درویزه چه په پښت ژبه بیان کا غم ی دا بهله افغانان دی * هرچه
فرض واجب زده کا * دوی به نشی دمنکر کافران دا فقیر ځه لپیران منکر نه دی
ددی لاس ورلکولی * ازاد وی که بنده (که) وی چه سنی وی پر جمله دمسلمان *

نکته پانزدهم اندرانکه پنج چیز دانستن در کلمه طیب نیز فرض است

بیا پنځه ځیزون فرض په طیبه کښ پر دا واړه ادمیان * هرچه دا واړ پر

ځای کا دی بشی دمؤمنان * اول دکلمه ویل هم فرض دی ابطالب * دویم

یو ځل ویل په هرچا فرض دی * پر ازاد پر بندګان * دریم مشغول ی په

باور ش تله ته تل ځو حیات ی * څلورم دکلمه م معن هم زده کړ بل تبه پنابیں

ش دنیکان * پنځم دزړه په صدق ی وای که مؤمن ی دا نښان دمنافق چه

پغله کلمه وایی محبت ی له بدان * فقیر چه دا بیان پښتو کوین کلی غم ی

دغه بی علم افغانان دی * غه کسان چه دنبی پر راه ولاړ دی محبت

ی لعالمان هرچه دنبی دښنی کاند لعلم لعالمان صحیح ځای جهنم دی * هم ی

بغر تاریکی د وسکه څپه ته درته وایم دبدبخت زیان کاران دا فقیر چه څه

ویږی شب روز ګناه پور دی * امید وار دښه خدای له رحمتون خاک پای

دی دمریدان دمردان *

نکته هژدهم

هرکه پنج بنای مسلمانی بجای ارد او مسلمان متشرع باشد وهرکه بعدازا دای

پنج بنا مسلمانی حواس پنج کانه را نیز مهمات نکاه دارد از اولیاء الله باشد *

دشریعت بیا (بنا) پنځه دی * پنځه نور ورسره کړ بل دی شی له کمال *

هرچه لس وار پر ځای کا اولیادی دی به خلاص شی دحرام لاوبال * اول ته

خله نګاه له حرام لك كذب وی یا غیبت وی یا سكنځل وی هم دبیګاه عورت
له خبر مقال * هم له بی هوده خبر چه نور څوك به پرو ځاندی * یا بهتان
وی یا په غور وی یا بدل چه لزلف وی ل خال * هم ته دونین نګاه کړ
دشهوت له نظرون چه دسترګو زناه نظر دی * وویریږ لقادر بر کمال * هم چه
څوك سحر بازی كاند مه ی کوږ مه ی نغوږ وسکه څه به درته وایم له دغه
بد افعال * غوږ نګاه کړ مه ی کړ له جمله بد آواز لك چنك یا رباب وی یا
غوږ و څه به څوك باسی یا دزلف بدل بځوك وائی دمحبوب لجمال * یا ژړای
دعورت یا سندریا هم ذکر وی ددوی دعورت غږ فتنه دی خبر شه دغه
رسول لښه مقال * لاس کوتاه کړ دحرام لاخست که یو زره خواره وی یا
وانبه وی یا وی لوټه حذروخر بل خلاص ش لزوال * هم هرچه ی الت
دملاهی پلاس واخست کنږ الت دی کلاب هر شیخ چه دعورت قبض
نسی په قیامت بشی بدحال * پرینبن مه څه دحرام پر مجلسون لك بنك
خوری یا لولی نه څوین * یا په چنك رباب سوی دغه چار کنږی حلال * یا
چه غلا کا یا به زناه کا هم چه لار به وهین داور څپلی به ی په پښی کاً چه
دسر ماغزه ی یشی لدغه بد خصال * هغه پل صراط هم حق دی لاری سخت
تر اتش د * تر نری ویښته باریك دی تر دا تور شپه تیاره تر تیغ تیره

تر موی باریك دی ول ی مثل شریعت دی لکاهال * دشریعت وړدی
ډیر هرچه ډاړی پر ځای کاږ دهغو ماوی جنت دی به دیدار بشی خوش
حال * ددرویزه غرض خوبش و مختصر بیان ی وکړ کی نغوز که پر دا ت
مستقیم به پیشوا د ډیر عالم ش هم خبر لهر حال *

نکته نوزدهم در بیان چهار یاران رسول الله صلی الله علیه وسلم

رسولان واړه بزرکان دی به عالم کښ محمد پکښ سرور دی دغه پس ی
بزرکی دابوبکر دښنی صدیق اکبر دی یو داولیاو پیر دی خلیفه دمصطفی
دی مرتبه ی ډیر به اصحاب کښ بهتر دی * پس بزرکی چه حق باطل کا
ځبل بیل کړ دخطاب زوی عمر دی پس بزرکی دعثمان دچه لخدای ډیر
شرمیږی هم ی ددو لونړ ځښتن دی * دی م زوم دپیغمبر دی * پس بزرکی
دمرتضا علی دچه داماد دپاك رسول دی * پس له در سر یاران مرتضی دی *
پس بزرکی داهل بیت دی * دغه عورت ی هم ی غه واړ عزیزان دی
چه پاك نبی ی کښی ویلی به نظر دی هرچه هس نکنړین با ورستی به وړنبی
یاد کا دغه کسان م رافضی دی چه له شیطان ددوی رهبر دی * به لعنت
نبی یاد کړی به څلور مذهب کښ نه دی به پنځم مذهب کښ درومی دا

مذهب ددوی ابتر دی * په عرصات بشرمنده شی * پاك نبی هس ویلی
احتراز ځن وکانړی تر کافری دین بتر دی کافران دڅان دسنه وی رافضیان
ددین دښنه دی مسلمان بد راهوین دنبی ددین خطر دی * نبی دین
دخدای سپارلی عالمانی پاسوانان دی اوس بدل بی څوك نه کا تر قیامت
په امان دی * برابر دی غه سړی چه په سنی مذهب پوه نشی سړی نشی وسکه
څشوکه صورت ی دادم دی یعنی کښ کاو خر دی * چه آگاه له علم نشی کمراهی
کړ اختیار غه سړی کور په عقل کور کړ دی دبد مذهب محبت مکانړی عالم دوی
پشان دین ین بداثر دی دا مذهب درافضیان چه پیری پر سیدان دی *
بادشاهی پر دوی ښائین هرچه اصل ی بهتر دی دا غلط وائی عالم بادشا
دشاهی پر شرع پر هرچا روغ بادشاهی دهغه کاند چه لحق لوری شوی پر
نظر دی * او پیر دهغه کاند چه خدمت ی دچا کړی وی نه دیر هم ی اذن
وی موندلی هم په علم معتبر دی هغه کس تر هر چا اوی دی چه پر شرع
مستقیم ش که بنده دی که ازاد وی اوس قبول دخدای پدر دی * رافضیان
ددوزخ سپی دی تل نه تل په حدیث کښ درسول دغل خبر دی * حضرت
نبی او مرتضی ځن ویزار دی په دوکون وسکه څشوکه دوی وائی چه رسول
څموژ نیکه علی پدر دی * بل درافضیان روش دا دی چه دښنی کاند لعلمان

لعلمان دبنني مكانري عالم چه په لاس ی دپاك نبي دفتر دی جنت الفردوس
بي مغام وی که بنده وي که ازاد وی * غه سړی چه شریعت ی قبول کړی
په خپل سر دي * هرچه دشریعت للار ووته که قریش دی که سید دی صحیح
ځای جهنم دی یا سقر دي * درویزه ځه لپیران منکر نه و مومنان پیر هغه
نبولی بوي ځه سی وی په شریعت کښ معتبر دی * یعنی کښ مواحد وی
لجلال له جال آکاه شری عبادت دایم مدام کا په ظاهر طاعت سمر دي *
هغه پیر چه سنی نوی بدعت او کمراهی کا دی یمثل ددجال دی شیاطین
ددلبنکر دی * راه راست وپیژنی مومنان وسکه بد شرمندکی ددقیامت
عظیم سفر دي * غه کسان چه په سنی مذهب پوه نشو طلب نکاند سکه
پر وقت دځان کیندن دایمان عظیم خطر دی * لك ښی لدپه جهان بدرکه
بی شیطان وی له فرست مددی نشت بل مقام ی تحت ثری دی *

—

نکته بیست سیوم

در بیان پنځ ځیز یدر وجود ادمی جوهراند وپنج دیکر در وجود زایل
کننده ان جوهراند پس باید که جوهر را از زوال نکاهدارند واین ملحقات
ملا عبد السلام است * ستا په تن کښ دا پنځه ځیز کوهر دی نه ی وسات

غافل هرچه دا کوهر خوندی کا دنبی پاکیزه راه ی ونیول * اول کوهر ایمان دی * دایمان زوال دروغ دی * لك تول چه وزی کازی په ناکاه ی زلی ووهی پر بل * دویم کوهری عقل بیا دعقل زوال قهر لك کوته مانړی کا نیار اور پر پور کا پخپل * دریم کوهری علم بیا دعلم زوال کبر لك نادان چه په باغ کی شی اومه خرپوزه پرکاند لکل * څلورم کوهری سخاوت دی * بیا زوال ی پښیمانی د هرچه پښیمانی پر سخاوت کا خزانه ی شیاطین ول تول * پنځم کوهری صبر بیا دصبر زوال حرص دی هرچه حرص دی پر غلبه ش غیر لاری ونیول فقیر دا چه پښتو کړ هر مؤمن دی په یاد کا دو کوهر خزانه ی وساتل * یو ویی به درته وایم پزمان کران دی * حقیقت ی لابیاندی تور دریاب اوبه ی تور سپکی (سنکی) جوی څن چلان دی * هغه تور دریاب سپین ته شه چه دسپین څن روان دی * تور پرډی دی دغه سپین څن روان دی * هرچه دا بیلتون وو هغه کس شاهی شاهان دی * که مشتاق دوی بیان ی لر مه څه سك مرید دشیخ علی پردا پوهان دی * یو ویی به درته وایم * ای طالب که پوهیزی داهستی و لوی لوم لدیه اوم به ترهیزی او که پوه پما ومن ش پغیر تیرس ته په مثل دکوتر به بندی ش ته ابد کهیزی دیر ش په دا بند کبس دغه نور بندیان مرغون بد وخری په ارمان بناده کړ نبه خلاص

ز * نه لك ها هس راغلی و له ځای چر نبه وی اوس واورته وچلیږی ونور
چان دیر مه وای کرعداد پر تا لازم دی دریږی * اوس افغانی مذکور
از ایشان این رباعی گفته اند * اهل تعلق که درین کامگاه * طعمه مرغان
تعلق شوند * بیضه صفت که ازشکم جانور * چون بدر ایند باتش روند *
بیان از حروفات دیگر افغانی گفته شده * الف * امان غوارم لنار * ب * بندگی
کړ اختیار * ت * توبه کړ له خودی * ث * ثنا کړ لغفار * ج * جهان نابود ونس *
ح * حق بین شه ای دلدار * خ * خالی کړ زړه لقیر * د * دو بین مه ش ای
یار * ذ * ذاکر ش خپسر ورك کړ * ر * راووز لاغیار * ز * زاهد ش عبادت کړ *
س * (سرون نوس ؟) نوس سرون غوخ کړ بی اختیار * ش * شاکر شه په نعمت
کښ * ص * صابر لړ درته بار * ض * ضرر بر بدن کړ * ط * طالب شه مطلوب
غوارم * ظ * ظاهر په علم پورشه * ع * عاجز مش یکبار * غ * غنی پدغه زړه ش *
ف * فارغ ش له مالدار * ق * قدم پر غیر کښیږد * ك * کمین شه لك خاور *
ل * لطف لك سور کل * م * مانده مشه له خار * ن * ناظر حاضر پرده ش * و *
ووبریږ لاغیاز * هه * هادی هردم واصل لده ش لاغند ترغار * ی * ی هم یو
غوارم یو کور اگاه اوس له دیدار * غافل مه اوس حلیم شاه دادیم درته ولاړ *

ان را که جای نیست جهان جای اوست *

درویش هر کجا که شب امد سرای اوست *

چه ځای تنها دی * دا کلی جهان ځای دی بر هر ځای چه شب پر راغلی هم
هغه ځای ددسرای دی

بیت مرد خدا که مشرق ومغرب غریب نیست *

هر جا که می رود همه ملك خدای اوست *

پمشرق ومغرب کښ کرزی غریب نوی بی پرواه وی پر هر لوری چه درومی
هغه ملك ددخدای دی

بیت بی جان ومال هیچ نداند بجز خدا *

اورا گدای مگو که سلطان گدای اوست *

چه څوك نه لری بی خدای ځای نوی بلك تنها وی ته گدای ورته مه وای
چه بادشاه ددگدای دی

بیت گونه دیدگان همه راحت طلب کنند *

عارف به بین که راحت اندر بلای اوست *

چه دزړه پسترگو بوینی هراند وی * دراحت طلب کوین تل دایم
پر هوهی دی

بیت بگذار هرچه داری بگذار هرچه هست *

این پنج روز عمر که مرگ از قفای اوست *

هره چار تر نیر ش بیارته مکور چه څه دد * دا پنځه روځ دی عمر مرگ دورست تر به ش دی ځان بائیده دی *

بیان ذکر ماعدی که سبب شده مر تالیف این کتاب را چنکه در سر نامه کتاب کفته م تا آخر القصه افغانی احوال لعین است *

وارزوی یاران لك پاك نبی هس ویلی * لك آخر دزمانی شی کمراهان به پیدا کیږی په هر کلی دا امت به څما دری اویا طف شی پغه بد زمانه کښ غه یو طف شي دی * دغه د اوویا کمراه دی چری مزدی په خانه کښ هرچه ځای ودوی ورکړ یا امان ودوی ورکړ تکیه کاه ی رغوین * غه کسان هم لعنتی دی به لعنت دخدای پروری ته پایین * ول سنح دغو سری چه سنی وی پذهب بد سنت جاعت وی بیا په ډیر تیر سنح دعلمان چه دعوه به لګمراه له بیراه سر کاند دخلیفګان دپاك نبی شو هم دیدار لرب وریشی دوراند * او په زاری دغو چه پوهیږی حق نه وائی هرچه سر لګور هسك کا ودوزخ ته بی بیا بی اوس څوز پزمانه کښ کمراهان بی حد ډیر دی که

خویون وکور ترغه دو اویا هم بتر دی * ول زیات اوس څوز لبازید انصاری
سر دعوه د * دی دخدای دلار غل دی دعلمان څکه دیر هم له ده ی ذرخښه
د دده حال به درته وایم لاول ته ی نس په یقین کښ دبازید پلار نیکه وار
علمان ی وو ور مرهم روښتی وو په دین کښ ول بازید لك ملا ش دده
فهم پسودا ش سوداګرش داسون په طلب دددنیا ش سمرقند لر وتللی اس ی
راواسته دوسر هندوستان لر روان ش ورغی ترکلنجر لك داله ی دیر
مقام شه * دیر خلل په ایمان شه دایمان خلل ی راو چه آشنای ملحد دګمراه
سلیمان ش لك محبت او محبت ی لسلیمان ش سلیمان پور په ګمراهی وګمراهی
شو بازید وزړه ته تیر دغه پس ی تل له علم لعلمان ی دښنی شو له قران
ی زړه شه سورشه دده بخره ګمراهی شو لك له هند بیارته راغی دفتنه دیر
پیدا کړ ګمراهی ی کړ آغاز وشریعت وته ی شاکړ خلوتون ی بنیاد کړ عامی خلق
ی وربالن چه راڅه ی خلوت کازی خدای به وویني دل دنن * ول پلار دبازید
دیر دینی سړی و ور خبر ش دی ددین له دیرڅل یعني کښ کور کرش عبد الله
دد نامه و بی اختیار ور روان شه په جړی وواهن دی دویر مسلمان شه څه ابا
څما توبه د له کل وار ګمراهی * نور به مت پر شریعت کړم څو حیات یم پر نړه ی
بلك پلار وزړه ی وسه دی ی پریښو دغه پس شه تیښت ی وکړ دی په قولی

بی او دس لك ی تیبنبت وکړ له پلار ورغلی تر ننګهار * په مهمند کښی ی مقام کړ * ګمراهی ی کړ اختیار په مهمند کښ ملکی سلطان احمد کړ پغه وقت ای طالب پنامه دملائی پر بازید ی هم ډیر مین وکړ غالب بأزید ډیر به عقل پور و ددنیا عقل ی ډیر و هښیاری او زیرکی ی ډیر زړه و دقیامت عقل ی وهیرو لك ی وکاته ته ډیر چه تاجك شریعتی دی ګمراهی نقبلوین * پیروان دپاك نبی دی صلی الله علیه وسلم ځکه ډیر ګمراهی ی ذاله نه ښرکند ول ای عالم * دیرغ وکړ په بیل لاحمد ښما کار دی پښتن خا لر ب ښم لك راغی تر پښه ور په خلیل کښ ی مقام کړ ګمراهی ی کړ آغاز پر خلیل ی دین حرام کړ اوازه ی کړ بنیاد هرچه په دنیا ونه وښین دغو لار وخدای ته نشت غه کسان پنه ښه خدای په ږسین پښتن ډیر به هله قایم دی خلق شول ورمات دوی له صدق ور روان شو آګاه نه وو له پسات پښتانه ی په ذات به هله دیری عورت دی ګمراه * دعورت صحبت دی له تول دمردان دزنان ځکه دوی ښی بیراه بیا پښتون یو کم همت دی * دعورت پیروی کاند په بیل * او نبی هس ویلی صلی الله علیه وسلم هغه کس چه پیروی کا دعورت دهغه چار داحول * سکه بازید یو حکمتی و ده په بیل آشنائی کړ له عورت لك عورت شوګمراه دا مردان ی هم همراه شو دغلت * دبازید وبلت تول کړ دزلی دعورت

مند لسون چه راشی کښی دښه خدای بولی ذکرون جون زلمی اور واښه وو للك ی ټول پیوښای کړ په زناهون مبتلا شی غلمان ی دښه خدای کړ * ورکول ی ومردان وزنان کوښی کوښی خلوتون * چه خلوتون ی کازی خلق مسافر لوموز به ښون * دا بازید په عقل لور و ددنیا عقل ی دیر و او شیطان غند پیښ رو و دبدان * دهرچا په خوی کار کړ ځکه دیر ټولی وشوی دعاصیان * هر سری چه به مین پر شریعت ووا پر دین ی محبت و په لباس دشریعت به ی غلاون په لباس ی ور غلت و * شریعت به بی حد استوار پر هغه کښ ښوی په اول به ی زهیر پر شریعت کړ دغه پس بی وو چه ای یار اوس آگاه شو له ښښتن دیر چار مکړ ته ورکار هر مریی چه کیدی واخلی دلرکی او ښښتن نه پیژنین دی به خواره شی له خواره ی دا دکیدی به ته ابد کرزوین که آگاه وی له صاحب داکیدی به لاول واچوین * ته هم راش ای طالب اوس آگاه شه لدیه رب العلمین داوری دشریعت لسر کښیږد * خپل ښښتن ویژین * دا بندکی وده ته پریږد * هر سوی چه بی مین پریدی پر لونږی و * لاول بی زره له دین سوړ کړ دد بخر کمراهی و * دغه پس ی وو ته آگاه ش لاته سر اذکار لاته سر خلوت هرچه ووه بی په ذکر شو یاران * په یو ځل ی لاس خاته له شریعت بیا نه زده کړ چه دا ذکر دده ځه و په پښتو

بی خبر جوړ ول دښه خدای نوم وس نه و هرچه پوه به ش په ذکر او مشغول
به ش په فکر که هرڅو دینی سری به و عبادت بی نور نکړ * ده به دا ورنه
ویل نور عبادت مکړ ابله * لك خدای په منکل کښوت خپل چار کړ وربله * تا
بندکی دشریعت کړ دښه خدای دمعرفت دیار یارك روزی دمعرفت ش
بندکی پربرد اوس قرار * معرفت دده دغه ارواح ی خدا کاونه * ارواح
ذات کالبوت صفات دی * هم دا ساه ی خدای کانړن * مومّنان دپوهیری
دا اقوال دي * دملحد دکافر دجوکیان خدای په عقل نه کښوزی دسری
دپیریان * کاه ی دا ویل یاران * خدای پخلق کښ محو شوي * لك مالك
په اوبه کښ با دانو په کیاهون له هرچا سر پو شوی * په اول به ی دا ود
چه دسیر مرك هم مکړ له هیچا بدی هم مکړ که مومّن کروزی دیو الله دي
هس نه چه ته ضامن ی تنکی نشت غوغ مکړ له هیچا بدی دمکر * راش
پو ش له معبود * دا انلس زرقام نه دښنه کړ * بیاي دا و ویاران نه ویلی
بي پرواه نور عالم واړ مړده دي دوی آکاه نه دي لساه دمرمال دي دژوندی
میراث ی وړرسین سر او مال نکاحون ی جایز پر تاس دین * به آخر به ی
بیا دا وو راشی لاس کانړی پر تور ای یاران دا عالم واړ بیځاندی * اوس
سرون پرکوي دیځان * که هر څوم عزیزان وي * سری پرکانړی بی درنکه

مال ی روانړی حلال دی * نوری مکانړی ننکه * په دا هس لباسون مکاری
خلقه ی کړل تول بی حساب کل مردان زنان غره شو هرچه ده وویر نشت
له عذاب دی منکرو لڅوندون له صراط له میزان له دوغښ ده وینه ساعت
بهښت دی * او دا بدساعت دوزخ دی * هغه کړ چه دوی خوښه * لك ی
دیر ددوزخ بخر کړ * بیل لغوره ی اندیښنه ی هس وشو چه دا هنمبر خلقه
به بیل وم له ښخی کښ محمد زی عالم دی دیر له عقل پلی * لهغه را روان
کړ داشنغر پر کله دیری وکړ کلی * تر اول ی اوس لادیر گمراهی او بیراهی
کړل آغاز * لور پر لوری اوازه شو جهان دك ش لانکاز دفقیر استاذ حضرت
سید علی ترمذی وښویز کښ پښتنخا مثال شپه و دی دیوه و په اندهیر کښ *
دی نیك خواه دپښتنخا و ساتند دی په دنیا و دی دین له گمراهان دیر ساتن
هم دایم ی په دعا و * لك ی واروده ددبازید لحال غایبی ی کړ اختیار
شه او زور به ی دعوی کړی نوری نه درله قرار * لك بازید داله قایم
ش خپل لقب ی پیر روښان کړ دیر عالم ی دوزخی کړ * ول زیات ی
افغانان کړ دفقیر دخپل استاد بحکم داغ دلعنتی وربانه کښ ښو * دا لقب ی
پیر تاریك کړ دغه نوم ی ته ابد پور پریښو * بیا ت وارو دا نامه دده دین *
محسن خان غازی هم وار ول * په اختیار دګمراهان دتول دایلغر کړ به کابل *

دا بازیدی دستگیر ونیو لپیری ی لپښیمان کړ * دتاریك تیرس تنګی یو
سریث پښ‌کښ کړ دمحسن خان و استاذان څکه دوی نیك خواهی کړ * دا
تاریك یو حکمتی وکل دفتر دشریعت ی بخپل لاس کړ ده په سل رنك مقام
مکاری لغه بند خپسر خلاص کړ څن شه سید سړی دود په ډیر مکاری کج
کول کړ * ده و راشی یاران مشورت کړو * سکه لاس به کړو پرتور دنبی دین
به غلط کړ دکل باور پا روانړی که خدای غواړی خدای یم زه یم که نبی
هم رانه وایی له دغه نیم کړی نه یم * که مهدی هم رانه وائی پرما بنائین *
هم هادی دخلایق یم باور کانړی له یقین * اهل حق به وریوهیږی چه اقوال
ی واړ کفر دي بی حد * ول څکړو پښتنځا نه پژین خپل نیك چار لید * جمله
غله ی وبله تول کړ په توبی کښ مشیت کړ * مسافر یی وژلن له حرام ی
توبه کړ دغه پس ی نیت وشه وتیراه‌وته روان شه دغه غر له عقل ډلی *
کل تیراه ی مریدان شو ول زیات وو تیراهی له عقل ډلی چه تاریك ی نن
یوست په کور کلی * لك نبی وو دا وبلی صلی الله علیه وسلم هرچه ځای
وګمراهان بدعتی ورکوین خدای خوار هغه اولس کا هم لعنت به پروریږی *
ته پائین څکه خدای هم دا تاریك وتیراهی‌نه ولیږن له رحمت تیراهی ی
وبله غوغ کړوی یوست له مملکت دی هله لخپسر خوبښ شه * چه مهدی شوم

دمهدی چار به کرم * لښکری به کرم بنیاد دا هندوستان به وتیسم اوّازه ی
کول کی هرچه اس لری راشی اس ښا را پور باسی * داکبر بادشاه تنك
واره شما دین دوکونږ به درکوم دغه ښادی داکبر پنجال ی واخست اسون *
دی ووته ننکرهار پر میدان نون * لغه درست ننکرهار دغه بو ویری
وس به اورون دهم ژر به بیارت فیر وغره ته وکړ په قرار *
ول محسن خان غازی وریس راغی بك- جلب ی تیڅل بی اختیار *
دا میدان دنور راغه و چه تاریك او محسن خان ورغل ویل * لك کر یه
دمده ی ورباند کښی شو دتاریك وتښت ول * لښکر غوځه شه پمیدان کښی *
تاریك پلی تښتیدن صد رحمت پر محسن خان باند چه تاریك ی پر غندی
وخیژ او نه تاریك تښت وپه پلی کړی پر غندی وورختلی * ده اوبه نه
وموندل شکه دی و جهل وهلی لك داله ی لرمون وس دهم دعوه ی ی دروغ
ژن شو یك لخت دغه پس اشنغر لر روان ش په نیزد شپه ی دی ولوده له
تخت * پر ظاهر کښی کورستان اشنغر شه په معنی کښی ی سقر ش * دغه
پس ی شیخ عمر واخست ذور په یاران ی خبر ش * چه راشه له میان مر نه
دی حیات دی پر غه شای شیخ عمر دی کښولی کلهغه جهان هغه وائی هغه
و لښی سروی وعمرو ته سپارلی * لك یو کال ی و تیژ کال دلحد دکورستان دیر

خواری دغه پس شیخ عمر حکم پر وکړ چه میا لکورستان وکاږی * دا لازم دی پر
یاران چه میا په صندوق کښ کرزوین * لك لوری مهم پریوزی پریان
(پر یاران) دا میا به پر هغه ساعت پاڅین دا جاهل عالم و دیر له عقلی پلی * هم
په کفر کښنوتلی دا تاریکو سپین هډون دوی م کوښی کوښی غه هډون له لحد راو
کښلی په صندوق کښی خوندی کړ په ننډی ی کرزاون * ول دا عقل ی ونه
کړ چه دمړ دی مړ چا کل پاڅاونه * دتاریك وو پنځه زوی شیخ عمر او نور الدین
او خیر الدین او کمال الدین او جلال الدین و ورستلی * دا تاریك لکه په
دوغښ شه شیخ عمر په جهان زغ وکښتلی چه مراځی زه بادشاه شوم * دا دنیا به
ونسم * هرچه اوس ی وی اکرام وما را وکړی خزین به درویشم * جمله غله ویل
تول کړ خلته ی پدروغ وغلول * ددعقل دجولاه و هم دل دیوسف زی پال ی خله
ولکول * دی و دیر له عقل پلی چه په بد لیوسف زیی سروکړ * یوسف زی ددامان
وو هم ی پښتی وده بیا ول پښتی سربنه نه کړ * یوسف زی پس وکړ هم ددین
هم ددنیا په دوار ننکه لښکرون پر بار باندی غوځ کړ * دعمر صورت ی
وس په اورون دتاریك په صندوق ی مات کړوی کښل څن هډون * دا
صندوق په اور س ودریاب وتی واچول هډون * دا ځلور ورونړ داله وته
دوزخ لر ولاړ مړه شو * جلال الدین ی بنده ونیولی دریغ دی هم مړوی دا به

ښه وو * دنبي ددين رخنه ولاړ ځه پات چه دی مړ داله ته نش هم علمين به
شو بی غم دفقير مسافر كاروانی زړه به ښه ش * لارخنه د ددين پات ځه
بادشاه ځموږ اكبر و دی دنوس پلوری تللی * او لدين بی خبرو داكبر بادشاه
ښير كړ يوسف زی لرختون * چه و ماوی راكاڼری دتاريك بندی كړون *
دتاريك خيل خانه بند و اكبر خلاص كړ لشر لزحمت اكبر مينه باند وكړ ول
ور خبر نه و ددغه كاهل لدروه له حكمت جلال الدين مكاری وكړ روغ صورت
ی خپل رنځور كړ اكبر وويل ودهته ما دی رحم پرتا كړی هرچه نرغ حاضر
كيږی * ستا خدمت م اچولی جلال الدين يو مكر يا وتښت ی وكړ للاهور *
ځو اكبری خبر زده كړ دی راغلی ته تيراه‌وته كوز * جلال وكړ دكمراه دبيراه
لښكر دی جمله غله او لرنيزان ی وبل ټول كړ * چه بادشاه يم كه راځی دغه
لابه ی په خله كړ چه شاه دپښتن يم پښتن لر به ښه كړم * پښتانه راپس
ځی زه به مات داكره او دسكروی درواز كړم * پښتن ټولی پر وكړ ول دی
پښتنخا لر پلاس * پښتون درست په ده زبون شه * زيات هغه چه به وده وته
ميليا ش دا شومت دجلال الدين و چه مقام دامركان پښه‌ور ش * مغل كړ
په كړ په پښتانه ش لدرون ی خبر ش * قبانكون ی زياتی كړ هزيمت ی ور
دځان كړ * دجلال لبد بيل كل پښتون مغل په دار كړ * بيا چه واړ به دجلال

ش * یا خرون بی وکړ په بهنه غه ددهکان دا مغل به ی هم مړه کړ * پښتانه
به دواړ لوری خوردن ول لابهم خواریزی * دغه حال دغوکسان چه پلوری
دبی‌دین کمراهان نازیزی * جلال الدین ډیر بد وکړ لفقیر مسافر زیات
له خدای له رسول صلعم * غه دکور دچاو په درکاه شول قبول * جلال الدین
تاخست (تاخت) پر غزنی وکړ دا غزنی تارپتار کړ * پغزنی کښ نه نوی * زر اولیا
وو دجلال سری په دار کړ * هزاره وویل ته وکړ پغزنی کښ اښکرون پر میدان
ی کړل غوغ دجلال کنده تولی بیا جلال لك په دوزخ ش د احداد دشیخ
عمر زوی وخرڅول * په فقیر مسافر کاروانی احداد خله ولکول دغه به هم
خدای ورکه کا مؤمنان لر دا هس بائیده دی * چه کینه دکاند له دوی کا له
خدای لرسول ی بلیده دی هرچه زره به شه کاند دپیر تاریك په چار په ایمان
بی خلل شی وسکه ویوزی دمصطفی للار * پاك نبی هس ویلی * هرچه مین
محبت کا له بدان * په ایمان بی خلل شی په قیامت په حساب نشی دنیکان *
دا توفیق دالله ورکا وجله و مؤمنان پښتنخا * وهرچه مؤمن مین محبت لعلم
لعلمان احتراز شه په بخر له جله اهل وو * درویزه چه څه بیان واړه دین
دپاك نبی صلعم بیان وین پښتنانه په بل ژبه نه پوهیزی * مؤمنان بل غرض
م پکښ نشت مکر دا چه شفقت کړم پر عامیان * هرچه دا باوری نه وی

ځه تهمت را باند وائي هغه كس دودریزی * دبی دین بی ایمان ته آگاه
پدا کتاب شه ای مومن لاخلاص لك فهم باند وكړ ایطالب په آخر چه م تمام
کړ دی په مثل خزینه دی ځکه ما ی نام مخزن الاسرار کړ وایضا معلوم باد
که این معلون در نماز بسیار باستادی در اوّل حالِ چنانکه تسبیح رکوع وسجود
در بیست ویَا سی ویا چهل بار تکرار کردی اما بی طهارت باستادی * واین
فقیر خوب تحقیق کرداست زیرآنکه نماز اورا درکار نبوده * اما محض ازبرای
فریفتن عوام بکار بردی * روزی بایکی از خلفای او بحث میکردم تا در
میان بحث بیت افغانی را بر زبان راند * که دران بیت سبّ علم وعلما
بود * پس برادر فقیر ملا اصغر غازی فرموده * که هرچه ما بگویم شما
سامع باشید وهرچه شما بگوئید ما سامع باشم بعد ازان ملا اصغر باشعار
افغانی در آمده وانشا کرده که دران سبّ پیر تاریك بوده * واظهار حال
او بوده * تا بعدازان گفتند که ما توبه کردیم از طعن ولعن علماء شما هم
ساکت شوید وآن ابیات ملا اصغر این است

(1 وارون (واروئ) یارانِ نبی ناست پر جاعت (2 وَ *
جبرئیل (2 و پر راغلی (3 (شه خدای) پرحمت (3 وَ *
(4 دَه دی دا وی) جبرئیل راغي یاران (3 شه خدای *

---

1) دا وی دا دی (4 لسه خدایه (3 رو (2 واوروی یارانو (1

چه څما (5 پونس کال) تیر شی امت (6 م دری اویا څو څای) *

کمراهان (7 پر) رنکارنك دی *

دا تاریك په کمرهی کښ ډیر قوی دی *

خپل دلیل ی جبرئیل کړ عکس من غه دنبی (8 دك) *

ای دخدای بندکان دنبی ددین (9 زهیره) *

دا تاریك قلبه (10 تنك ش) بیا (11 دپاس یا پ ی وداهه) دزر *

(12 تاریك چه نمونځ کا اودس نه کا *

دغه (13 ی) هم نه کړ (14 ته) دا خلق پر باور نه کا *

(15 تاریك چار دشیطانی دَ *

لوی نقښ ددغه و چه (16 لعلمان ددښمنی دَ *

(17 خوك (18 ملعون لعلمان دښمنی مکړ) *

---

5) په نسو کاله 6) یا څایه او یا دری به شی 7) می به 8) په 9) دی رهبرو

10) شه تنګه 11) د وواهه چاپهی پاسه دد 12) add. دا 13) بهی 14) سکه 15)

16) شوك (?) 17) لعالمان ددی دښمنی ده 18) تاریکه چار دی شیطانی ده

ملعونه له عالمانو دښمنی کا

جلب دعلمان (19 نسَ) عالمان (20 بكه) پروغ (21 لارسيده) كا *

واروئ (22 عالم عالمان دملك ديوه دی *

عام خاص ی جلب نسی دوی ناست دپاك رسول (23 پیرانه) دی *

عالمان (24 كور سواره دروغ لار *

دوی سواره (25 دش جوء) دی *

وسكه هر كمراه به نه رسی دشريعت وچار *

دا تاريك يو لعنتی او ملعون دی *

لدبداری منكر دی پناحق ی ژوندون دی *

ای (26 تاريك) بد مذهب غوچ خوار ش *

(27 خودرو كيس مكر پغضب ی كرفتار ش) *

ای (26 تاريك (28 بهمه كه ملعون) *

(29 غوچ) ڈه سحر (30 دىو كر) چه مريد (31 دكر بيخون نا) *

---

19) نسه 20) وه بدی 21) لار رسيده 22) عالمه 23) پيرانئه 24) كوره 25)
دشريعت 26) تاريكه 27) كرفتار شی بی پغضب مكره كيسه خودروه 28)
ملعونه تمامه نا خوكه 29) غوچی 30) وكر دی 31) پخونه كر دی

من كتاب فوايد الشّريعة

III.

باب شصت وهشتم در بيان شمايل سرور عالم شفيغ الامم صلى الله عليه وسلم

پاخلاص چه صفتون درسول خداې ثوك لولين * پخپل غوږ پاك رسول بهغه اروى * پر صفت بى سرور ثن راضى شى * لحضرت بى جزا رحمت پر ده باندى رسيږ چه پيين دسرور ثوك صفتون دده لولى يا ى اروى كنه هغه سرى تحقيق پخپل سترك حضرت وينى * چه پ مخلوق كښى ى خدايتعالى ثموږ سرور دى غوره كړى * خدايتعالى دده لبركت ادم پيان دخت داوبو و * چه سرور لاهله ونسى كړى * دى پيدا دخداى ى لنوره كلى خلق ى دده لپاك نوره پيدا

کړی * که دی نوی پیدا شوی خپل قدرة بولی اتو (نوم) ظاهر کړی * چه څلویښت کال
ی دده دعمر وشو دی نبی شی * دیارلس کال پمکه و * پلس کال دی آخر پمدینه و *
شپه کال دد دپاس چه دده دعمر وشو * لدنیا دی ووصالت ته نقل کړی * فایده *
لحسن ابن علی روایت شوی چه حسن هسی ویلی * چه سوال م دسرور لصفتون
لهند ابن هاله وك * چه مین زه دحضرت پصفتون ته صفات دپاك سرور کړه
ومات * هند ابن هاله پاك صفتون دسرور وکړه ومات * چه سرور څموږ پاك و پاك
لوره پیدا شوی * پصورت هم پسیرت خدای پیدا کړی * ښایسته و خدای
بزرګی وده ورکړه پعالم کښ * هیبت ناك و * چه ناکاه پچا ولید هغه شخص
بی لسهم پهیبت و * چه هغه ب لحضرت سره اشنا شه * بی اختیار ب پر ده
باند مین شه * دی پقد کښ میانه قد و * نه ډیر لوړ و نکوتاه قد و *
پر صورت ی غلبه دغوښی نو میانه حال و * پاس پسر ی دده نور و چه پفکر
چا ونه ك * هغه کمان پدا و چه لقد کښ بلند قد دی * چه غه نور بی
بلند و * دده مخ لك څورلسم میاشت هسی روښان و * مبارك مخ ی هموار و *
نور دراز پغوښ نو * نه ډیر ګردن ډیر دراز و * میانه حاله و بی نظیر
ښایسته و * سور سپین و دی پرنګ کښ نورانی و * چه بچا ورته نظر ك *
کویا نور پکښ روان و * لجابر روایت دی چه دا هسی یوه شپه و * چه

وریځ پاسمان نو * دسپوږمی رڼرا کامل درست شپه و * ما ومیاشت هم
دپاك سرور ومخ ت م نظر ك * تر هغه میاشت تیر ومات دسرور دمخ
ښایست و * پاك خوله نو فراخ (په) گفتار کښ ډیر فصیح و * فایده * تبسم دده
خندا و * چه غاښون بی سپین شو لك ږلی * هم ژړا ی بی همیشه آواز
دده رب و لذکر تسبیح چه پر همیشه دخدای ثنا و * دده لاړ تر خوږ شهد
خوږ و * ښایسته سر نری دوام شونډ * دوه غاښ ځپل بیارت نو وتلی *
چه بدی شه پر خبر دده ښایست دسپین غاښ * ب دنور څن بریښنا و *
ښایسته لوړ پوزه و باریك * دوه تور غټ سترك ښایسته پر و خالون چه دوی
بی رنځور وی * تور چه وچاب پر نظر شه دهغه کمان یوشه چی لسترك
پرنجو دسر وی متوره هم عجب ی ښایسته دراز بانړه دو * تر اسمان می نظر
دده وزمکه وت ډیر و * چه کات بی وچات پکوښه بی دسترك نظر نك * پر
هر څه ب دسرور صاحب پخله نظر و * دوه کږی وږی نری وروځ ښایسته
چه ځرنك و تور کږو دوی پور ځبله بیارت دوایره کړ سره نوی دده وچولی
فراخ و * غوړیدلی تل روښان و ښایسته ی توره ږیره میانه حال و انبوه څه
عجب مارك دراز کردن و * پصفا کښ پثال دسپین زر ښایسته و * هم دسر
ویښته ی تور وو * ښایسته پر غوړ نظر و * پصحیح حدیثون کښ دی راغلی *

چه پسر کښ هم پ .زیره کښ ی سپین ویښته تر شل پور نوو پدر قسم
دسرور صاحب کیسو وو * یو جه دویم لمه دریم وفره وو * تر ادزو چه
رسیده هر کیسو دده جه وو * تر نرمه چی وغوز دمیده (رسیده) هغه کیسو دده وفره
وو * چه کوتاه په میان دغوز کره هغه له وو * اکثر روایتون هسی وائی چه کیسو دده
دغوز تر نرمه وو * ول کاه کهی ب ده پیان دغوز دوی کوتاه کړ * چه
تر لاند بی سپین صورت پځه سایست بریښنا کړ * ښایست ی تور ویښته
وو نډیر کج وو نه ډیر سم وو * غوربډلی میانه حال وو پاك سرور ځوز
ختم انبیا و * داوزو پیان ی مهر نبوت و * دی پرنك کښ ددتور صورت
پرنك و پرنرا و پر اوزوی هم پر سری هم پر سینه * هم پر بازو دده ویښته
وو پنور ثای ی ویښته نو * پر سینه ی دوېښتو نری لیك نرغه و * دا
ویښته پثال خط و * دده پاك سینه ارت فراخ ښایسته و * لسینه ی کیدی
دده دواړه برابر پځه زینت وو * ښایسته ی دده اوز دوه دواړ لاسون
رسیده تر زنګنون * دوی آرت منګلی ښایسته محکم سپین چه دایم پر سخاوت
وو غوریدلی * دده نفس دایم پصبر پلوزه کښ ی پلری قناعت و * چه
ژوندون دده همیشه دخدای پیاد و * تل خوراك ی دخدای ذکر عباوت و *
ښایسته ی نر ملا و * زنګنون هم ورقون ی قوی دواړه محکم دو * دواړه

پنډی دده باریك ښایسته و قدمون ی باریك نوو قوی دواړه محکم وو *
دواړه پنډی پر غوښ پر بوی میان حال و * دحضرت دقدمون میان
لږمکه هواکیر وو * پلونیده (؟) ی دتمام قدم پر زمکه باند نو * پاك سرور چه
بروان شه پاك پښ بی لزمکه پقوة پشتابی پورت کول چه پکین (؟) بخیال بی
تله نوو * مخ پوراند بی میل کا و پتله کښ لك کوږ ښوك پکښت کوزیده
کاند پتله کښ * دای نخښه دقوت و قوت ناك و پهر ښه کښ * پرفتار کښ
تر سرور صاحب هیڅوك کړندی نو چه دوړند بی زمکه هسی زد تمام
ول * چه کویا تر قدم لاند زمکه تولیدل چی دا و معجزه ظاهریده وو *
ابو هریره و هسی ویلی * مور ب ستړی شو پتله کښ دی ب ستړی چر نشته
بی پرواه ضلالت بی پر نشته * هم خوشبوی دحضرت صاحب خولی و * چه
دمښك و دحضرت لخولو ښه برابری و * درست وجودی و خوشبوی * چه سرور
ب پلار تیر شه * هغه لار یو خوشبوئ چه ښوك پر هغه لار تله * بخوشبوئ بهغه
پوه شه * چه حضرت پدا لار تللی * چه ښرکند معجزه و * تل غم چین بدی
پغم داخرت و * وعالم ت به خوشحال خنده رو مهربان و * په مجلس دپاك
سرور ب دهر مړی هسی کمان و * چه سرور صاحب تر هر چا خو با دیر
مهربان دی ښه کامل ی شفقت و * تل روزکار بی پویره بحیرت وو * لبنه
*

خدای هم پقدرنون بدایم دده فکرت و * خوشحال ارام ی نو پدنیا کښې لده
تللی ددنیا کلی راحت و * پویل کښې و ربنتی پعالم کښې تر ده هیڅوك ربنتنی
نو * دی زړه ور و پعالم کښې تر ده هیڅوك ربنتی زړه ور و نه دی پطمع نرم
طبع و دنیکخویٔ پطبیعت کښې تر ده هیڅوك نرم نو پمجلس کښې * مهربان
و پعالم کښې * چه پر خلق مهربان لك حضرت و * هسی هیڅوك نوو متقی
و پعالم کښې پدنیا کښې متقیان تر ده څوك نوو * دی خدای ترس و پعالم
کښې تر ده هیڅوك خدای ترسان لخدای نوو * چه دچا پملاقات ورسره و
شته پسلام کښې بورنبی تر ده څوك نوو * دده ژب به نکاه و * بی حاجت
بی هیڅ خبر نکړه ده ب درنك که پخوله پت چه ښه فکر بی وك * هسی خبر
بی کړ چه نصیحت و یا بذکر دمولی و * چه امیدی دثواب و * نعمنون ب که
هر څو ډیر ضعیف وو * دطعام بده بدی ستاین نه کړه چه طعام ب دده
خوښ و ده بو خور * چه دخور و نیت بی نو پخوله پت بی پر یښو دسرور قهر
غضب بد خپل شان او ددنیا دپاره نو * خاص دخدای دپاره ب دده قهر
غضب و * بی لخدای نور پهیڅ ی نظر نو * پهر څه کښې توکل دده پخدای و *
ناست ولاړ دده دایم دخدای پیاد و * چه راحت ژوندون و همیش پرده
پذکر دمولی و شفقت مهر دده پر همه خلق باندی عام و * چه دده نیك خوئی

خلق واړه پ ازمان و * ترتیب ی دا صفت کا دپخپل * بمثال کښ دی
دواړ خلق پلار و * نادقی پړ هیڅا ترمیان نکړ * چه وده وت عالم واړه
بحق کښ برابر و حاجت مند چه بحاجت حضرت لر واړه خوب هغه لحضرت
جدا نشته * هنمبره بری لهغه شخص جدا نو * چه پیچا لده سوال دحاجت وك
ده بهغه حاجت پوره ك * یا پنرم سه خبر بحضرت هغه رخصت ك * چه سرور
پکوړت راغی ده پعمر در حصه ك * یوه حصه دعمر بده خاص دخدای پکر
عبادت کښ تیره ول * بل حصه بی دعمر پروزکار دخپل عیال کښ تیره
ول * دریم حصه بی دعمر پروزکار دخپل ځان بحاجتون تیره ول * هغه حصه
چه به دده و * بیا هغه ب ده دوه ځای ویشل * یو حصه ی دځان کړ * بل
حصه بی دخلق پ خدمت کښ تیره ول * چه بڅوك حضرت لراغی * چه
بهترین بو پدین کښ دهغه بیحرمت ك * بمقدار دفضلت بده پر دوی باند
احسان ك * دحاجتمند برځن دحاجت دځن دوه حاجت دځن یوو * بمقدار
دحاجت بحضرت ددوی پکار سره مشغول و * خپل امت بی پهسی کار مشغول
ك * چه ددوی ب پهغه کښ سه صلاح دیر خیرات و * پر امت چه به
لازم وو * پاك سرور ب پر غه حکم دوی آگاه کړ * درنځور پوښتن پاك
سرور کول * بجنازه پسی تله کړه * هم صلوة جنازه ی کذارل حضرت چه

بحکمون واصحاب ته بیان کړ * پمجلس کښي چه حاضر وو * وهغوته بی وو *
چه حاضر پمجلس نه دی * دهغوته هم دا حکم رسوی * چه ومات خپل حاجت
ویلی نشی دهغو حاجت ومات رسوی دسرور مجلس لعلم و لحلم لحیا لامان *
هم پ صبر توکل لعزت قناعت و * پمجلس دپاك سرور ب لادب چا آواز پزوده
نك * بیهوده عبث خبر بچا نکړ * پمجلس کښ عادلان هم عاملان وو * پتقوی کښ
فاضلان وو * کمینی ددوی حاصل و کامل * پهر خوی کښ کاملان وو * پهتقوی
کښ فاضلان وو * چه یتیم و پدوی کښ پدوی عزت ك * چه هلك بو پدوی کښ
دوی بردم پر هغه ك * چه غریب څوك مسافر ب دوی لراغی په احسان بدوی
هغه غریب نکاه ك * حاجت مند سری ورنبی ك * لانس روایت دی * چه
سرور ب لچاسره لاس ونیوه ځو هغه ب لاس په بیارت لده نك دده به
لاس لهغه پ بیارت نو * چه لچا ب مخامخ و * ده ب مخ لهغه هنسبره
نجاریاسته څو جاریستلی پهغه مخ ځن نو چه سرور صاحب بناسته و پمجلس کښ
زنکنون مبارك ی تر هیچا ورنبی نوو * چه حضرت په پمجلس کښ کړ خبر
صحابه پورت هسی پادب پتوجه شو * کند ناست بی مرغون پاس پر سر وو *
چه سرور بشه خوله پت دوی بهله کړ خبر دحضرت صاحب دوزانك بوبچا
دخه جکړه نکړه * چه یوه ب پمجلس کښي کړ خبر هغه نور یو و خله پت چه هغه

شخص بتمام کړ * خبر هغه نور بهله شروع کول * چه به چاکر خبر پاك سرور
ب دهغه خبر نکوتاه کول مکر هغه چه به ولاړ شه لمجلس یا خبر ب هغه تمام
ول پاك سرور ب واصحاب وته دا ور حاجتمند چه چر وینی چه طلب حاجت
ك * تاس حاجت پوره کوی * پاك سرور ب بیل بیل پ نرمی ورکړ خبر که دده
پاك خبر چا شمیرل هغه خبر بی واره بیل بیل وشمیرل لك پخپل څوك دخپل
عیال خدمت ك * هسی خدمت به پاك سرور دخپل عیال کاوه پخپل * تر
سروره پر خپل عیال باند دیر هیڅوك مین نو * چه صفت ی دسرور صاحب
کا وهغه ویلی * نه پنوراند پنورست یا پشل دحضرت هیڅوك نه وولیدلی *
لك حق دی دسرور دصفتون لبیان ی عاجز دي همه واړه بشرون دقلم دچا
دڅب څه مجال دی چه صفت دده بیان ك * چه دده پتحقیق کښ دی حیران
هم عقلون * به مقدار دخپل پوه دسرور لبرکت دفقیر هم څن لږ څه بیان
کړی احوالون که پهوه ناپوهی له فیقر څه خطا وی دمعنی پترجمه کښ خاص
لله دعالمان هغه خطا وښه. صحبت نه رسنوین * صفتون شمایل چه څوك لولی
دسرور صاحب پین لدوزخ باماڼ شی * شفاعت ددسرور خدای ورکوین *
دا فقیر هم که دچا چر پر یاد شی * دی محتاج بنده دی * هم دوی لدعا
نوهیروین * پاك خدای دا صفت سنا دمحبوب دی * چه بیا دده پحب دی *

که پدا کښی خطا شوی ولمانه * دا خطا می بخپل فضل بخښندره ش مهربان *

باب شصت ونهم در بیان معجزات سرور عالم شفیع الامم صلی الله علیه وسلم

په تحفه المتکلمین کښی هسی وائی * معجزی دپاك سرور و پدوه رنك یو ارهامی بل تصدیقی و * ارهامی هغه ته وائی چه بخوا تر نبوت ظاهری شوی تصدیقی و پدوه رنك * اول قسم ی هغه و چه بیرون لپاك ذات و ظاهر معجزی چی پذات کښی وظاهر اول معجزه دده دذات شریف دا و * لك دواړه ندی لیده وو * هسی دورستوی لیده وو * لك موم چه وی دستن هسی دسترك ی مثال و * دویم معجزه دده دذات شریف دا و * چه څموز صاحب پقد کښی میانه قد و * ول دای معجزه و لهغو چه به سره شه چه پقد کښی پهر شو چیر که دی دراز و * تر هغو بدی بلند و * دریم معجزه دده دذات شریف دا و چه دایم ودی ربښتنی پویل کښی * چه دروغ تر هیڅا نه وو اروېدلی ددنیا ددین پکار کښی * څلورم معجزه دده دذات شریف دا و * چه حضرت امانت دار و بی نهایت و چه عرب به محمد الامین ویل ودهٔ ت *

پنځم معجزه دده دذات شریف دا و * چه دی پاك و پکلی بدفعلون * هم
پخوا تر نبوت هم پوقت دنبوت کښی * د هیڅکل کړی نوو بدکارون * شپږم معجزه
دده دذات شریف دا و * چه ځوز حضرت پجنك کښی مړ نی و چه هیڅری لغلیم
ده میدان پرینبی نو * نه پس لنبوت نه پخوا تر نبوت اکرچه ډیر ضرور
پورغ دجنك کښی برابر ۋ * لك جنك چه داحد و * هم دبدر دا خراب و چه
امیدی پوعده دخدای تعالی سره محکم و * اوم معجزه دده ذات شریف دا
و * چه سخاوت دده پلوی مرتبه و * چه په آیت دی لاسراف منع کړی
خدای تعالی و * اتم معجزه دده دذات شریف دا و * لدنیا و بی پرواه *
پهمت څن اعراض و * چه قریش پمالون بادشاهی وسروروته ظاهر کړ * چه
دا واخل دغه خپل دعوه پریږد * دی بلند عالی همت و توجه ورته نکړ *
نهم معجزه دده دذات شریف دا و * چه پیان کښی داوزه و دوازه مبارك
دده مهر نبوت و * هنمبر صورت و لك ها وی دکوتر * چه پقدار کښی دغه
مهر نبوت هنمبره صورت و * هغه غوښی دوجود و پورت شوی هم پرنك کښی
دا دنور وجود پرنك و * چه جامه بشوه تر بیارت * ددنور ژرا ب پت کړ
دنور څه معجزه و * لسم معجزه دده ذات شریف دا و * چه لوره دی زو
کړی سنت کړی نوم پرکړی مور زاده و * یولسم معجزه دده دذات شریف دا و *

پظاهر که ب اودهٔ شه دده زړه ب اوده نو * لك حديث دپاك رسول دی *
چه ظاهر سترك م خوب كا * ول زړه ځما بيدار دی چه خوب نکا * دولسم
معجزه دده دذات شريف دا و * چه دحضرت پاك وجود به سايه نو * ديارلسم
معجزه دده دذات شريف دا و * چه دده پپاك وجود باند مچ ناست نو * څوارلسم
معجزه دده دذات شريف دا و * چه پر سر دده دپاس دمرغه الوانه نو * پنځلسم
معجزه دده دذات شريف دا و * چه حضرت احتلام شوی چر نو * شپاړسم معجزه
دده دذات شريف دا و * چه برابر لده هيڅ خوشبوئ نو * اولسم معجزه دده دذات
شريف دا و * چه تر مښك دده تير خوشبوئ پاك سرور ب بځرمن قيلوله كړ * اوم
سليمو پهغه څرمن څنګ وهل * دحضرت خوبی و ډير شه خوشبوی دده خولی بد جمع
كولی چه ب دی هغه خولی لخوشبوی كړول * پاك سرور څموږ پيښتن څن وكړ چه
دا څه كړ * دويل چه دا خولی ستا دوجود دی * چه لنور خوشبوی كړوم * چه
تر واړ خوشبوی تير خوشبوی ستا دخولود * اتلسم معجزه دده دذات شريف
دا و * چه لميان دده دكت بخسيه روانيد * لجابر روايت دی * چه پغزا داحد
كنبی اصحاب شو واړ تږی * پخه لوښی كښی اوبه و ددسرور صاحب دوړاند *
ده اودس پر هغه وك * صحاب حضرت لراغله عرض ی وك * چه اوبه
موږ څخه نشت چی و څښو يا اودس ورباند وكړو * بی لراوبو چه نا

څخه دی * پهغه لوښی کښی سرور صاحب لاس کیښنو اوبو موج و هغه دده
دپاك لاس لمیان بهیدی لك چینه هسی یوج کښی اودسون موږ پر وکړ *
هم وم وشنبه څه عجب معجزه و پظهور کښی * وجابر وته چا وو * تاس ثو وی
ده ویل موږ چه یو نیم زره اصحاب وو یحضور کښی ده وکه موږ سل زره اصحاب
وی هم ب لس وو همه پروزکار کښی * معجزی چه وی بیرون دده لزات *
فایده * اول معجزه دوام و ده لزات * اول معجزه ده قران و عریان (عربان؟) چه
څه عجب فصیح زبان وو * چه قران پر ده نازل شه پر کامل مرتبه ی فصاحت
شه * دعوی کړی لسیالی همه عاجز شو * چه مثل دقران پهیڅ کلام دوی
وایه نشته * دویم معجزه دحضرت دا و * چه سپوږمی په اشارت دده کت
شوه دوه نیم * قصه * ابو جهل وسرور صاحب ته وو * واسمان ته بستا سحره
نرسیږی که رښتیا نه پیغمبړی ته وخدای ته دعا وکړه * چه دا میاشت شی
پدوه نیم * ده دعا وکړ وخدای ته * ده یکت اشارت کړه وقمرت چه شنه دو نیم
پهغه ساعت کښی شوه دوه نیم * بیا ابو جهل ورته وو چه دعا وکړ وخدای
ت چه دا میاشت لك اول و هسی بیا پر هغه ځای شی * پاك سرور ځوږ
دعا وکړه وخدای ت هغه میاشت لك اول و هسی بیا پر هغه ځای شو * ابو
جهل لعنتی و دده سحر څه کامل دی * چه په اسمان کښی ی هم سحر موثر
*

دی * ابو جهل بیا وخپل ندیمان ته ی وو * چه تاس ره روی دلر زمکی
خلق وپوهنتی * چه دځورلسم میاشت دوه نیم دری هم ولیدل * دوی ویل
چه دغه میاشت پدغه شپ دوه نیم دوی هم ولیدل * دوی ویل چه دغه
میاشت پدغه شپ دوه نیم موز ولیدلی * ابو جهل لعنتی وددہ سحر څه
کامل دی * چی سترك دعالمو وتړلی * دریم معجزه دحضرت دا و * چه
دبدر پغزا کښ چه غلبه کافر وکړ * پاك سرور سنکریز واخست پلاس کښ
سنکریز دده پلاس کښ دمولی تسبیح ثنا ویل * ومخون دکافر ته ی وویشت
پقهر * بد دعاء ورته وکړه * چه مخون دکافر دهلك شی * دحضرت دمعجزی
لبرکت پر کافر مات کړ شو یکباره هزیمت شو تا پتاره * دکافر تولی خوره
شوه * څلورم معجزه دحضرت دا و * چه دبر ځای بدر حضرت لبرکت لږ طعام
پر اصحاب باندی دیر شه * وهر چا ب رسیده چه ب پریوان شه * لك پورخ
دخندق هم دتبوك کښ چه ظاهر دا معجزه و * حکایت * په مشکات کښ هسی
وائی لجابر روایت دی چه خندق دمدین چه صحاب دغزا دپاره کند اصحاب
پدر ورخ نهار وو * چه چا هیڅ نه وو څنکلی * پاك سرور لسخت لوږ پر شکم
شریعت تیږه وتړل * جابر و چه زه راغلم وکورت * وخپل کورت م وو څه
طعام درکړه شته دی چه سرور صاحب وخوری * چه بسخت لوږه دی ما

سرور صاحب لیدلی * هغه کورم دتوبنی ومات کړه څرګنده پکښې یو اوزه اوربش
موز مندل * یوارغومی م حلال کړ * هغه یو اوزی اوربش م اوړه کړ * هم مه
غوښې پکتوی کښ واچولی * زه حضرت صاحب لراغلم وحضرت ته م پټ وو * چه
م ستا مهمانی یوارغومی حلال کړی * هم اوربش م یو اوزی اوړه کړی * لږو یاران
سره ته ځموز کره راشه پیغمبر صاحب پخپل اواز وك * چه ای اهل دخندق مهمانی
دچا پر کړی * دچا پر کړه هر څوك سره راشی * جابر و زه حیران شوم * انا لله وانا
الیه راجعون م وه ویل * چه طعام م لږ پخکړی * پر دا هنمبره خلق ب څه رسیږی *
بیا سرور ومات وو حاضر شوی څو زه تیم تاس کتوی مکوزی * هم دودی مه
پخوی چه حضرت صاحب حاضر شه * موز اوړه ودت حاضر کړ *. دد دعا
دبرکت پر اوړه وکړه هم ی لاړ پکښې توکړی پای قصد ك وکتوی ته * چه
دعا دبرکت ی ورت وکړ هم ی لاړ پکښې توکړی بیا جابر واهلی ت هسی
حضرت امر وك * هغه شخص چه دا دودی پخه وین ستا پحضور دی پخه
ك * لکتوی غوښی ته پخپل وکاز تاس کتوی مکوز وی * پر نفری باند
دوین * جابر و چه زر کس دخندق اصحاب حاضر شو * خما سوګند پخپل خدای
وی * چه هنمبره سړو غوښې دودی وخواړه ماړه شو * تو دوی تیر هغه طعام
مشه * چه دوی لاړ لهغه ځای هغه کتوی ځموز دغوښې چه اول و پرهغه حال

پشیږل * هیڅ نقصان پکښ ونشه * هسی دودی لك اول چه بخیږل
پر هغه شان ی بخیږل * هیڅ نقصان پکښ ونشه * هسی دودی لك اول
چه بخیږل * پر هغه حال چینیږل * هیڅ نقصان پکښ ونشه *

فایده * پنځم معجزه دحضرت دا و * چه حلیمه درسول خدای دائی د دتی بی
ب دد نو و * چه دائی دسرور نو * ددزوئ عبد الله چه رضاعی ورور
دحضرت و خوب ی نکیده للوږ پژړا و * چه دائی دا دحضرت شوه * دیغیږ
کښ حضرت واخست چی تی دده بخله ك * هغه تی ی هسی ډیر شو * چه
سرور صاحب موړ شه * دحضرت لبرکت عبد الله هم اسوده شه * شپږم معجزه
دحضرت دا و * چه سرور صاحب پیدا شه * لځلور واړ کتون دکعبی اواز
پیدا شه * لاول کت دا اواز پیدا شه * وقل جاء الحق وزهق الباطل * لدویم
کت دا اواز پیدا شه * لقد جاءکم رسول من انفسکم * لدریم کت دا اواز
پیدا شه * قد جاءکم نور وکتاب مبین * لځلورم کت دا اواز پیدا شه * یا ایها
النبی انا ارسلناك شاهدا ومبشرا ونذیرا وداعیا الی الله باذنه وسرا جا منیرا *
فایده * اوم معجزه دحضرت دا و * کعب الاخبار هسی ویلی * دمهتر موسی
وقوم ت پتوریت کښ خدای تعالی وخبر کړی * چه هغه خرما چه واچ دولاړه *
چه دا پانړ میوه وك * محمد آخر زمانه ب پهغه وقت کښ ظهور وك چه حضرت

لوره تولد شه * هغه خرما چه لرغونی و * دحضرت پمعجزه سره پر پانړه پر میوه شوه * هغه قوم وته معلوم شو چه رسول خدای پیدا شه * چه دانخبنه ی پیدا شو * هغه قوم دا خبر پوشیده کړ * چه ظاهره دوی وهیڅاوته ونکړ * فایده * اتم معجزه دحضرت دا و * قصه * کعب الاخبار هسی ویلی * دمهتر داؤد وقوم ت پزبور کښ خدایتعالی وخبر کړه * چه هغه چینه معلوم چه اوبه پیدا وقت کښ ابنت تللی وچ شوی * چه هغه چینه زنده شی * محمد آخر زمان ب پهغه وقت کښ ظهور وك * چه سرور صاحب لوره تولد شه * هغه چینه چه و چه شوی و زنده شوی پیدا نخبنه هغه قوم وته معلوم شو * فایده * نهم معجزه دحضرت دا و * پسیر کښ هس وأی چه جابر ابوهریره ابن عباس هسی ویلی * چه دخیبر دغزا فتح چه سرور وکړ کورت راغی * پمدینه کښ یو ښځه یهودی دحریث لور و * چه دد نوم زینبه و * دپوستن دسرور لحال وکړ * چه پ پسه کښ حضرت پڅه غوښ مین دی * اصحاب ورته وو چه پر غوښ دلیڅو حضرت مین دی * یوارغومی دحلال ك * هغه غوښ ی پ اور سره ورت کړ * زینبه یهودی دهسی زهرت نیت وك * چه پوژل کښ ی یو ساعت درنك نك مصلحت ی یهود سره وك * یهود همه پر هغه زهر اتفاق ك * زهر واچول پغوښ * ول زیات ی کړه پ لیڅو کښ * چه نور پریوت پاك سرور لصاحبه

سره نمونځ دغاښام ادا ك * واصحاب ی ته منع ك * زینبه وهلته ناست پاك
سرور پوښتن وكړ چه ته څوك ی څه غرض ددی پر موږ دوای ابو القاسم
پیش کیشی م غوښ تالره راوړی * سرور امر پر اصحاب باند وك تر واخست
دپاك سرور دوله انډ کښیو دحضرت اصحاب حاضر شو * شبر زوی دبراء ابن
معرور هم ورسره وو اصحاب ته حضرت و چه نژد شی وخوراك ت * سره جمع
واړ کښیناست پغوښ لاول پاك سرور لیچی تر واخست تری غوښ څه پخله
کړ بشر بل هړوکی واخست ده هم غوښ څه پخله کړ* پاك سرور چه غه نوړی
ونغړوی * بشر هم هغه نوړی ونغړوو * هغه نور اصحاب ی هم نیت لادخوراك
کړ * رسول خدای ودوی ته وو * چه لد طعام لاس بیارت کوی * چه ومات
دلیچو دا هسی وو * چه ته غوښ څما مخوره چی زهر دی پیا کښ اچولی * بشر وو
سوګند څما پخدای دی * هغه نوړی چه م پخله کړ پوهیدلم پزهر * دده دپاره
ما لخولی نه اچول * چه طعام بد حضرت صاحب پزړه چر مکروه شی * پاکرسول
چه نوړی تا ونغړوو * ما هم څك نوړی خپل ونغړوو * چه تر نا پر خپل صورت
زه مین نوم * هغه ساعت پر هغه ځای بشر وفات شه * چه لځای مولاړ نشه *
چه نوړی بی وسپی ته اچول * هغه سپی ب پهغه ساعت کښ ومړ * چه غه لاس
بی لابیارت کړی نو * زینبه رسول خدای را وبلل * ده پوښتن ځن وکړ څه

سبب و چه دزهر وما راکړ * دویل غرضم دا و * چه پر حال دزه خبر شم
چه که نه رښتیا نبی یٔ لدحال بد خدای تعالی خبرك * او که رښتیا نبی
نیٔ بار خلاص ب لتا زد خلق کړم * ځن وایٔ زینبه په بیارت لاړ قصاص
نشوه * ځن وایٔ زینبه سرور دبشر وارثان لره ورکړه * چه پر بشری قصاص
کړ * قوی قول یٔ پکښ دا دی پسبب دهغو زهر پاك سرور لخپل ولی وین
وکښ هم وین وکښل بیچاره پښکر سره وو * هم ی امر واصحاب وته وك * دولیو
لیان دسرور وین ی وکښ * پس لهغه سرور پدر کال ژوندی و * چه وفات
شه پهغه رنځ کښ سرور و چه دایم دهغو زهر درد ومات رسیده ك *
اوس هغه درد ومات دم ترډم زیاتیږی * هسی وقت پر ما راغلی چه دشاه
دزړه رکون م پرکیږی * پدوه نور کښ رسول خدای وفات شه یو نبی و بل
پزهر کښ پاك سرور ځموژ شهید شه * یوه خدای دسرور لبرکت دسرور شفاعت
را کړ * خاتمه م پایمان کړ * هم م مرك دشهیدی کړ * فایده * اسم معجزه
دحضرت دا و * قصه * دحرا پغره کښ غار و * چه سرور پکښ خلوة کا و پخوا
تر نبوت پحرا کښ جبرئیل چه پسرور باند اول وحی راوړ پر هر ځیز چه به
دی تیر شه * که به تیزه و ویان (؟) یا ولوتې * هغه ځیز ب پسرور صاحب سلام
ك السلام علیك یا رسول الله * پاکرسول ب ورستوی نبی کینړ نظر وك * ده

به نو څه نه لیده مګر دون (؟) مکانړ یو بوتیو * چه دده په نبوت بی ګواهی نوو
داسلام بی پروك * فایده * یولسم معجزه دحضرت دا و * قصه * ابن عباس
هسی ویلی یو اعرابی و چه سرور صاحب لراغی وسرور وته ی وو * ته یځه
نغښبه پوهیږی چه نبی یم پاك سرور و که زه ښاخ ددخرما را وبولم وخپل
ځان ت * دا برابیشی پرما به ګواهی ولی چه رسول ی * اعرابی و چه
سروره ښاخ را وبوله وځان ت * هغه ښاخ سرور راوباله وځان ته * ښاخ
راکوزشه * لهغه ون وحضرت ته * چه دی ګواه شو دسرور لرسالت * بیا
سرور ویل وښاخ ت بیا په بیارت وچارووز وخپل ځای ت هغه ښاخ بیا په
بیارت لاړشه وخپل ځای ته * دا عرابی یقین پر خاص شه * چه ایمان ی
پر ده راوړ مسلمان شه * فایده * دولسم معجزه دحضرت دا و * قصه * ابو
هریره هسی ویلی * چه یو شرمښ و دبز شبنکی (شیتکی ؟) رمی لراغی یو پسه
ی درمی ورڅن واخست هغه شپون ی پطلب شه * هغه پسه ی ځن خلاص ك *
هغه شرمښ پاس پلوره پینته کښناست لخپل ځان سره هغه شرمښ دا ویل *
هغه رزق چه ځما کړی خدایتعالی دی * نیت م وك وخپل رزق ته * هغه
رزق چه م خپل واخست * شپانه دا نیوه هغه رزق لما په بیارت * یو سړی
و ددغه شرمښ وخبرت حیران شه دویل ځما بسوګند دپخپل خدای وی چه

ما هیڅکله لیدلی هسی نوو لك نن ورځ پر خبر چه لیوکان ځر ګویان وو
شرمبښ وو وسړی ت * چه څما تر دا خبر ډیر عجب دی * چه پر ښهر مدینه
کښ بو سړی دی * چه وتاس ته لتیر زمان هم دراتلونیو زمان خبر کاند *
هغه سړی و یهودی سرور لراغی * هغه حال ی دغه شرمښ ورته وو * هم
ایمان ی پر دراوری مسلمان شه * هغه سړی که پیغمبر خدای رښتنی بیا
حضرت و چه دا نقښه دقیامت د * هغه سړی چه بیارت نیت دجارو نوك *
لارجوع ی کړی نو چه څپلی دهغه شخص وزوجیته وته ګویا شوه پس لد چه
دده اهل ی خبر کړ دی خپلو ده وت خبر دهغه وکړی * فایده * دیارلسم معجزه
دحضرت داو * قصه * دمدین پجماعت کښ پوښتن دخرما و * چه حضرت پخطبه
لوست بولاړ پر هغه بی تکیه و * چه پښهر مدینه کښ پهغه وقت استعمال
دمنبر نو * صحابه وحضرت ته هسی وو * دخطبی دپاره لوړ ځای تالبوی *
خلق ډیر شه پمسجد کښ بایده دی چه هر څوك سره دوینی * پاك سرور
و دوی ت وو رضا ستاس * مصلحت ی سره وك چه دشام غند منبر حضرت
لجوړ کړو * چه منبری ورت جوړ کړ * دخطبی دپاره اختیار دوك * استاده
چه پر منبر شه دسرور لجدای هغه ستن پژړا شو * چه لسوز لفراق ماتیدونی
نژد شوه پاك سرور واصحاب وته وو * ددستن لژړا ته حیرانیږی * صحابه

وو ورت مخ ك * دده لهٔ بره سوز اصحاب واړه پژړا شو * حضرت كوز شه لمنبر هغه ستن دخرما حضرت پخوا پور نيوله پاك * سرور پشفقت دا لژړا قراره ول * لك هلك چه پژړا نار وهين څوك ی ونسی پغيږ كښ * پور ودوئ لژړا قرار وين * هغه ستن قرار كړ لژړا كه حضرت نوی دحضرت لجدائی ب تر قيامت پژړا و * سرور.امر واصحاب وته وك * هغه ستن دخرما تر منبره نښ دفن كړه * هرچه نور معجزی و څن وأی * چه زر نور معجزی دپاك سرور و څن وائ * چه دوه دره معجزی و * څن وائ هسی هيڅ معجزه نو دوهٔ نبی انبياؤ * چه پر پاك سرور پمثل دهغه ظاهره نو * معجزی څن خاصه دپاك سرور * چه لنور بهغه انبياؤ ظاهر نو *

باب هفتادم در بيان ذكر اولاد سرور عالم صلى الله عليه وسلم

تر نبوت پخوا اول فرزند دپاك سرور پمكه كښ وزو كړی * دهغه نامه قاسم و * پس لقاسم زينبه و بی رقيه و * پرقيه پس زو كړی فاطمه و * پيدا پس ام كلثومه و * دا اولاد دده پخوا تر نبوت پيدا شوی پر مكه و * نبوت چه پرده راغی پمكه كښ عبد الله څن پيدا شه پاسلام كښ

چه پیدا و پدغه سبب ی نوم طیب طاهر ك * دایٔ دد سایه و معتقد
دصبغه و * خدیجه پ عقیقه لزوی دوه پسون کول * للوز یوه پسه پیان
ددوه فرزندان بل دمده یوکال و * دسرور پفرزندان کښ قاسم اول وفات
شه پکه کښ * عبد الله پس وفات شه پکه کښ * دعاص ابن وایل پخله
شه خاور پاك سرورت پدا و چه ابتر شه * چه فرزند ور پات نشه * چه
فرزند نارینه بد چا نو کافران ب ابتر وو وهغه ته * کافران چه وسروروت
بیغور ك * خدایتعالی برخصت دا ایت نازل ك * ان نشانك هو الابتر
البته ته ابتر نه ی * چه م تاله درکړی دجنت حوض کوثر دی * پتحقیق
هغه چه عیب کا وتات ابتر وایٔ * هم هغه سړی ابتر دی * هرچه دوی
داخرت لثوابوښ نا امید دی * زینبه په نکاح دابی العاص بن رافع وه دوه
فرزندان ځن پیدا شو * چه یوزویٔ و بل لور و * دغه زوی نوم علی و *
چه پفتح دمکه کښ پاك سرور پخپل ځان پور سور کړی * دلور نوم ی امامه
و * چه سرور پنمانځه کښ پر اوږه دا کښنول * چه فاطمه لدنیا لاړه *
حضرت علی بیا امامه نکاح کول * شپږم کال ی دهجرت زینبه بی‌بی
وفات شو * چه دا پر مدینه دفن کول * بی بی‌رقیه دا په نکاح کښ دعثمان
ابن عفان و * چه لدی و یو زوی پیدا شوی چه نامه ی عبد الله و * چه

شپږ کال دده تیر شو * پدویم کال دهجرت کښ پس لوره عبد الله وفات
شه * چه بی‌بی رقیه وفات شوه * حضرت عثمان ام کلثوم پس نکاح کړ * چه
وده وت ذوالنورین هم پدغه سبب ویل شی * چه دوه لونړ دحضرت ی
پنکاح شو دی ددوه لونړ ښنبتن شته پنهم کال دهجرت ام کلثوم بی‌بی وفات
شوه * بی‌بی فاطمه پنکاح دمرتضی علی و * لد حسن حسین محسن در زوی پیدا
شو محسن پهلك والی سفر وك * دوه ی لونړه تر پیدا شوی * زینبه ام
کلثوم * بی‌بی فاطمه پس لسروره پڅو مدة وفات شوه څن وائ پدر میاشت
څن وائ پشپږ میاشت څن وائ اته میاشت پس لجرت دا وفات شو * څموږ
حضرت چه حجرت وك مدینه ت * لسریت ماریه پدینه کښ ابراهیم فرزند
پیدا شه * دابراهیم دائ سلیمه و * چه معتقل دسرور و * ابراهیم چه تولد
دده نوم ی پهغه شپه ابراهیم ك * جبرئیل لپاس راغی پر ابراهیم ی سلام
وك السلام علیك یا ابراهیم حضرت دیر پر خوشحال شو * دسلیمی دائ
ښنبتن ابو رافع و پاك سرورت زیری وك * پاك سرور پر هغه زیری یو
مرئ ورنه هبه ك * په اوم ورځ دده یوه پسه عقیقه ك * دده سراشیده ك *
هغه ویښته ی برابر سپین زر سره جوك کړ * هغه زری فقیران ت خیرات
کړ * حضرت امر هسی وك چه پر زمکه ی دده ویښته دفن کړی * دلوی

اختر پیاشت کښ * په اتم کال دهجرت و دی روکړی شپاړس میاشت دده عمر وشو * پوړنبی خوږ کښ پلسم کال دهجرت ی لدنیا و سفر کړی * ابراهیم پ بقیعه دمدینه کښ دفن کړی *

باب هفتاد ویکم در بیان ازواج مطهرات صلعم ونامهاء ایشان

پخوا تر نبوت پکه کښ پاك سرور پ نکاح کړی لاول خدیجه و * پاك سرور و د پنڅویشت کلون * دڅلوېښت کال شوی خدیجه و * پخوا تر پاك سرور دا پنامه دعتیق بن عابد و * یوه لور تر پیدا شوی * چه هنده دهغه نوم و * پس لعتیق دابو هاله پنامه شو چه یو زوی ی پیدا شه * چه نامه دهغه هند و * دغه دواړه مور زیږدوی خوږ ورور دپاك سرور دفرزندان وو * دنبوت پلسم کال خدیجه ومړه پکه کښ * ددشوی و ویښه شپته کلون * بل بی‌بی لاد حضرت پنکاح نو * حضرت پس لخدیجه بی‌بی سوده بیا پ نکاح کړ * پدینه کښ دعمر پخلافت کښ سوده ومړه * پاك سرور دی ددطلاق اراده کړ * دخپل داو ؟ وعایشی وث هبه کړ * پاك سرور دطلاق و پخله * پس لسوده پیاشت سروی (سرور .l) بی‌بی عایشه نکاح کړ * چه نسبت ی ددکړی پکه و * پغه

وقت بی‌بی عایشه شپږ کلنی و * پاك سرور چه هجرت وکړ بمدینه ت * زید ابن
حارث ابو رافع ی دعیال دراوستو دپاره واستولی (ورسولی ?) مکه ت * دعایشه
دراوستو اسباب دپاره ابو بکر عبد الله واستولی (ورستولی ?) ومکه ت * چه ددوی
قبل راغلی مدینه ت چه مسجد دمدینه سرور تمام ك * چه به کوټ عایشه لره بنا
کړ * پ اتم میاشت دهجرت بی‌بی وعده کړه * پغه وقت کښ بی‌بی و دنه
کال * هم لسم ورمیره چه ددنه کال تیر شو * پاك سرور تر دنیا تیر شه دا اتلس
کلنی و * حضرت بی‌بی عایشه بدبخت نوه نکاح کړه چه اوه شپته کلون دده
تیر شو * په‌شپه دسه شنبی بمدینه کښ بی‌بی وفات شوه * جنازه دد ابوهریره
وکړه * پشپه ی پس لونر په بقیع کښ دا دفن کړ * هیڅ فرزند دعایشی لپاك
سروره پیدا نشه * یو روایت دی هسی شوی * یو سقط ددلېنفس ضایع شوی *
ول دا روایت نه دی وصحبت نه رسیدلی * پس لعایشه دعمر لور بی‌بی حفظه
دده پنکاح کړ * رسول خدای بی‌بی حفظه کړ طلاق * جبرئیل لخدای راغی
وحضرت وته ی وې چه خدای امر پر تا کړی ی چه حفظه ته رجوع وکړه * چه
حفظه روژه دار نماز کذاره هم زوجیته ددجنت د * پطلاق چه حضرت عمر خبر
شه * ده پر خپل سرباند خاور غرزول * دائی و چه پس لد وخدایتعالی
ته دعمر هم ی دلور اعتبار ورك شه * چه لدی دپاك سرور صاحب اعراض

شه صبا پر بیا پیغمبر جبرئیل راغی دای وو * چه دخدای امر پر تا کړی * چه حفظه ته رجوع وکړ * چه دخدای امر پر تا وشه * ده رجوع وکړه حفظه ت * چه دده دعمر تیر شو * دری شپته کالون پمدینه کښ پس لسروره دا وفات شوه * پس لحفظه ی زینب دخزیم لور بیا په نکاح کړ * لحضرت سره اته میاشت دد و * دهجرت پځلورم کال تر حضرت پخوا وفات شوه * حضرت ددجنازه وکړه * په بقیع کښ ی دفن کړه * پس لزینبه ام سلمه بیا پ نکاح کړه * پس لسروره دیزید بن معاویه پسرداری کښ دا وفات شوه * پس لام سلمه دزینب دحبش لور بیا پنکاح کړ * پمدینه کښ پس لحضرت دا وفات شوه * پ بقیعه کښ ی دفن کړ * پس لزینبه ی جویره بیا په نکاح کړ * پس لحضرت دا وفات شوه پمدینه کښ * پس لجویری ریحانه بیا پ نکاح کړ * دنبی فریضه په بند کښ دا وکښوتل * دا خپل ځان لره سرور وغوره کړی * حضرت غوره دلور کړ * چه رضای ته پخپل دین ی یا د خوښ دین داسلام دی * اسلام دین داختیار ك * پاك سرور ښځه و دا تر هغه پور * چه لحج وداع راغی دا وفات شوه پ بقیعه کښ دفن کړ * پس لریحانه حضرت بیا ام حبیبه پخپل نکاح کړ دوحبش ت حجرت کړی لورنبی ښځتن سره و * هغه ښځتن ددمرتد شه لاسلام * دا ثابت پ اسلام و * نجاشی لرسول خدای

استاذی ورستولی * چه ام حبیبه پنکاح راکړ * نجاشی دپاك سرور پنکاح ورکړ * ام حبیبه پس لسرور صاحب وفات شوه پ بقیعه کښ ی دفن کړ * پس لام حبیبه ی صفیه بیا پنکاح کړ * پمدینه کښ پس لسروره دا وفات شوه پ بقیعه کښ ی دفن کړ * پس لصفیه میمونه بیا پنکاح کړ * پس لسروره دا وفات شوه چه صحبت و دحضرت ورسره شوی * هغه واړه ی اولس و بی بیان خدیجه هم زینبه لاپخپوة دده وفات شوه * پریحانه کښ اختلاف دی * لدنیا چه ده سفرك * نه بیبیان پات شوی پس لده وه صحبت دپاك سرور ورسره شوی و پاتو * یا حضرت ته ی خپل نفس وهبه کړی یا خبر دخښی ی ترمیان شوی * ول پنکاح ی شوی نو * هغه واړه سره دیرش وو چه پ بعض کښ راغلی اختلاف دی * چه پلوی کتابون کښ بیات (بیان 1.) دی څلور بیبیان سریت دحضرت واړ څلور وو * ماریه و ریحانه و جمیله و یو خذمتکار * چه حضرت وته بخښلی زینب دجحش لور و *

باب هفتاد ودویم در بیان غزاهای سرور عالم صلی الله علیه وسلم

پاك رسول چه بخپل ځان غزا جنکون لکافر سره کړی * هغه واړ وو اوه وبشت

په نه جنګ ددوی قتل سره شوی یو دبدر بل احد و بل خندق بل قریظه
بل مصطلق و بل دخیبر و بل فتح دمکه و بل غزا و دحنین هم دطایف و * دسر
وار عمر دهاړی دګاوران پغزا کښ وشپته و نه نژد و *

باب هفتاد وسیوم در بیان سختی روزګار سرور عالم صلی الله علیه وسلم

لمالك روایت دی چه ددوډی یوه پارچه و * پاك سرور لره بی‌بی فاطمه راوړه * حضرت وو فاطمه ته * دا څه دی چه در اوړ فاطمه و چه ډوډی م وپخکړی * بی لتا م خوړی نشوه * چه خوښی ښما پدا و * چه پارچه م د ډوډی تالره راوړی * پاك سرور و پدا در ورځ م هیڅ خوړلی نو * پدا در وقت کښ اول نوړی دا د لیده کیږی * چه بخله کښ ستا دپلار داخله کیږی *
فایده * لابو هریره روایت شوی * چه حضرت پمبارك خپلی ملا لریر لوږی ده ب تیږه وتړل * فایده * لمشرق روایت دی * چه یو وقت بی‌بی عایشه ما پژړه فراق لیدل * ما سوال وړځن وك * چه بخه پژړا ئ با ام المومنین بی‌بی هسی ړانه وو * هرکله چه پطعام سره ښان موړ کړم * پاك رسول ښما پر یاد شی * چه اوس موړ چه راحت کړو * اوس سرور بخپل ښان باند

څه لوږی تیره ول * چه څلور میاشت ده خپل ځان موړ کړی نو دغنمو
پړودی چه فاقه ی تیره ول * لحسن روایت دی * چه سرور خطبه لوست دای
وو پخطبه کښی * چه سوګند ځما پخدای دی * چه پال دمحمد کښی چه دوی
هیڅ بیګاه بی یو اوزی غله نپاتو ګیدل پوهیږ کور کښی * فایده * لابو هریره
روایت شوی * چه پدر میاشت پال دپاك رسول باند شو تیر * چه پکور
کښی اور چر بل نشه نه په ډوډی نه کتوی اور بل شه * لابو هریره چا
سوال وك * چه روزګار بی څه و * ابو هریره و پخرما په اوبولی روزګار
و انصاری کاونډیان وو * خدای دجزا دوی لره ورکا * دوی پال دپاك سرور
دبر پیش کشی کړ * فایده * لعایشه روایت شوی * چه عایشه هسی ویلی
چه در میاشت پی در پی دپاك سرور ال داوریشو پړودی مباح بیګاه موړ شوه
نوو * تر غه پور ځو لخدای وصال شه * فایده * لعایشی روایت شوی چه
ابو بکر دپسه پښی ځموږ کورلره استولی پتاریکه کښی ما سرور هغه پښی پریکول *
هغه غوښی پخوله کول * وبی بی رت چا وو چه پکور کښی دچراغ نښت چه
رڼرا کړ * بی بی هسی ورت وو که دچراغ قوت ځموږ وی پکور کښی * هغه
ځیز بوز وخوړ * ول هیڅ ځموږ نښت دی پکور کښی رو * فایده * دوایت
دی هس شوی * چه رسول خدای وفات شه * پشپږ ٥ن اوربش ده٥ زغره

یهودی ښځه کهنره و پاتو شوی * فایده * روایت دی هسی شوی * چه غلیل
دپاك رسول پوقت کښ نو * پاك رسول تر مرك پور غلیل کړی داوربش
اوره هیڅکل خوړلی نوو * چه اوربش اوره شوی هغه بوس تر غو کره * پ
پوله ی چه پوستکی ئه تر والوت باقی بی پاخه کړ * فایده * لابو هریره
روایت دی شوی * چه غه لوز دسرور بځه سبب و * ابو هریره و چه دیر
خلق مسلمان ب پرده تول وو * ځن قوم برایم لده سره وو * بی اصحاب
بطعام ددضرت نیو * لمسجد چه بپاك سرور روان شه * حاجتمند خلق بدیر پس
روان شه * خدای تعالی چه خیبر فتح کا وده ت * پر عالمو باندی لږ ئه فراخی
شو ب ارام شی * فایده * لعایشه روایت شوی چه پدنیا کښ پاك سرور ځموږ
پدر ځیزه مین و * اول خوشبوئ دویم بی بیان دریم مَیَن پطعام و * هغه
دوه وت دضرت ورښیدلی * یو خوشبوئ دویم بی بیان * دطعام لمحبّت ی
اعراض و * فایده * لابو هریره روایت شوی * چه سرور صاحب پوچ بکره ی
ځان موړنك * ترغه پور چه سفری لدنیا ك * فایده * پسیر کښ هسی وائ *
چه لعایشه روایت شوی * چه لانصار یوه ښځه و ځموږ کوره راغلی * درسول
خدای فرش و دسړی دوتا کړی دا فرش چه هغه ولیده دا وکورت شوه روان
انصاری ځموږ سرور لوة (لره l.) لکوره فرش رادړ * چه پیان کښ ددصوف

وو * چه سرور راغی وکورت * دده پوښتن لما وکړه * چه دا څه دی * ما ویل پاك سروره څموږ کول لره راغلی انصاری ښځه فلانی و * چه داستاد فرش دلید کورت ولاړه دو تا وته پیش‌کش دا بیچا ونړه کړه * حضرت درځل دا وو چه دا رد کړته په بیارت ما رانکړ * چه څما پردا رضا و * چه دا دووی څما پکور کښ * بیا ومات پاك رسول وو * چه عایشی څما سوګند دپر خپل خدای وی *که ارزو څما ددوی چه لماسره دسر وزر دسپین غرون خدای روانولی خدایتعالی بدوی لماسره روان کړ * ول دا خواهش لما مولی ورك کړی *

فایده * لعایشه روایت شوی * چه شړی بم دو تاء کړ * پس ونړه بم دلاند دسرور کړه * یو شپه هغه شړی ما څلور تاه کړه * پاك سرور چه پشپه راغی پر فرش چه دی دپاس ایستاده شه * دو عایشی دا فرش م للك نور کله چه وه نن هسی ندی ما وی یا رسول الله نور شپه بم فرش ستا پدوه تاه ك * پنن شپه می څلور تاه کړ حضرت هسی رات وو * لك نورکل پدوه تاه دکول * هسی بیا پدوه تاه کړ * هیڅ راحت دپاك رسول ددنیاکی پکار نو * څو پغدر دحاجت دده روزکار و * فایده * یوه ورځ څموږ سرور دصدق خرما ویشل حضرت حسین پڅه کلنی و * یو خرمای تر انست دپخوله کول * حضرت بخپل لاس هغه خرما دده لخولی وکیښل * حضرت حسین پژړا شه * وحضرت ونه ی

ووائی بابا که می پکور کښی څه طعام وی ماب هسی کړی نوو پښو ورځ ما
طعام ذوړلی نو * پر ما لوز غلبه دیره کول * فاطمه م راته وو * ستا نیکه دصدق
خرما ویشی هورور شته ځلك راغلم خرمام واخستل * دیوی خرما دپاره دلماسره دا
هسی رنك وکړ * چه لخولی م دهغه خرما راوکښل * بیا حضرت وده ت وو *
څما جان هسی زده کړه چه زهر ذواړه دښمن دځان دی * او درام ذواړه
دښمن خاصه کل دایمان وی * که نن ورځ للوز ومړی دقیامت پعرصات کښی
بنار شی چه حسین لره لار ورکانړی عالمو چه بڅه لوزه کښ دی مړدی څه
فانی ده وکښل * دا نامه پهور بخت و * پفاقه بد کتل * فایده * یوه ورځ
دفاطمه کړه حضرت وو راغلی * فاطمه شوه ور ولاړه ولویده لدیر لوز پر
دیوال باند تکیه کړ * پاك سرور څما جان رات وای چه دا څه حال دی *
بی بی و چه له دوست کله کړه مناسب ندی * بیا حضرت وای فرزند پویل
کښ عیب نشت * فایده * بیا بی بی وو حضرت ته ای بابا زه دولاړ بد
طاقت نه لرم للوز * پاك سرور لد خبر پژړا شه * دای وو الهی فاطمه لور
ستا دنبی و * هم عاجز زنان د * انس بن مالك هسی ویلی چه اوازم
دمرغون پغوز کښوت * ما کاته هیڅ لیده نشو بی سروره لدحال زه میران
شوم * فاطمه راغله دخپل کورت * پساعت پس فاطمه لر سروره صاحب هم

راغی * پناکاه مبارك مخ دبی‌بی فاطمه سور شه * پاك سرور تبسم وك * ما وی یا رسول الله دا څه حال دی رات وای * حضرت هسی رات وو ما دعا فاطمه دپاره وکړ جبرئیل اسرافیل عزرائیل میکائیل دوی مقرب څلور واړه فرښت مالدید چه رغل * دوی ومات هسی وو * خدای سلام پر تا ویلی * هم فرمان ی پرتا کړی که خواهش دوی دا هسی زه اوه واړ اسمان دا زمکی ستا بحکم پفرمان کړم * که پردا باند دمین ذوق نوی * باری خپل لاس دفاطمه پر مخ پزړه باند ومږه چه ستا لاس لبرکت پر ظاهر هم په باطن بی هرګز پوزه اثر نك * پاك سرور مبارك لاس در پر مخ هم ی پر زده ومینی هرګز مخ فاطمه للوز زیړ چر نور نشه * نه للوز دفاقی چر پر غم شه * فایده * لك دپاك سرور دلاس لبرکت لفاقی دفاطمه مخ پرنه زیړیږی * امیدوار یو پقیامت چه دده دشفاعت لبرکت مومنان چه کناه‌کار دی * ددوزخ لعذابون هم خلاصیږی *

باب هفتاد وچهارم در بیان وفات سرور عالم شفیع الامم صلی الله علیه وآله وسلم

لابی مویهبه چه دی معتق دپاك سرور و هسی شوی روایت دی * چه سرور

صادب پشبه ومات وو * چه ومات دخدای امر هسی شوی چه دبقیع ومقبرته
استغفار وکړه * سرور و ته لماسره را دروومه چه دبقیع ومقبرت دعا وکړو *
زه حضرت سره روان شو * حضرت دعا وبقیع ته کړه نه (ته) ډیره درنګ ی وك *
مبارکی ی ودوی ورکړ هم ودری ته ی دا وو * چه بهتر زمانه خو هم هغه و *
چه پر ناس باندی تیر هغه څه وقتون سه ډیر مبارك وو * کهنری شو دم تر
دم اوس دنیکی اورا کمبزی دار پوار فتنه رادرومی * چه ورستی تر اول
تیربزی * لك شپه چه ری تاریك تاریکی دهر ساعت ی تر اول ساعت پس
زیاتیږی * ابو مویهبه رو * چه سرور صادب ومات هسی وو * چه ددنیا خزان
واړه هم ژوندون رامت دایم ددنیاکی * دجنت سه نعمتون ارام ی خدای
ماوت عطا کړ * کل رضای وما را کړ * چه درضای هغه غوره پرضا کړ * ابو
مویهبه وو حضرت ته مور پلارم در (ددم) قربان شه * پاك سروره خزانی ددنیاکی
لجنت اختیار کړ * حضرت هسی رات وو خدای م واخست لجنت * ددنیا
زینت م واړه پس شاکړ * لزیارت دبقیع چه حضرت وجاروت وکورت
خابنده شه * دخدای امر ورته وشه * چه ته ورشه دبقیع ومقبرت بیا دعا
وکړ حبیب * دی روان شه وبقیع ت دویم څل دعا وکړ * حضرت بیا وکورت
راغی خابنده شه * دخدای امر پرده وشه چه داحد وشهیدان ته دعا وکړه

سروره * حضرت رخصت شه لاموات پقبرون ی وداع دموت وکړه * لاحد چه
دی راغی سر تږلی و لدرد * هغه رنځ ی دده دموت و * هغه ورځ دچار
شنبی د * اخر ورځ و دسفر چه حضرت وته مرض وپیدا شوی * لبی بی عایشی
هسی نقل شوی * چه حضرت لبقیع وکورت راغیَ * شما هم دسر درد و * ما
فریاد کا و اردرد * حضرت هم دسر لدرد فریاد وك * چه شما هم سر خوږیږی *
بیا سرور ومات وو * که ذر ما وړنبی رحلت لد فانی دنیاکی وکړ زه ژوندی
یم * جنازه کفن دفن بی کوم * سنا دپاره پدعا استغفار کړم * پمسخره کښ
بی‌بی هسی ورته وو * چه سروره ته شما مړك رضای که زه نیم شما وار ب
ته دنورلره ورکړ * شما بځای به ته لبل سره سه روزکار کړ * چه بی‌بی دا
خبر وکړه * پاك سرور پر تبسم ك * دم تردم هغه رنځ پر غلبه شوه * پدا رنځ
کښ بده وارك دکورون تر غه پور چه عاجز (لکوزن) لګوز روشه دی پکور کښ
دمیمون و چه عاجز شه څوز نبی بی بیان ی هم کړ واړه سره جمع * حضرت
اذن اخن وغوښت چه دولاړیدو طاقت م نشت چه نوبت کړم * که ناس اذن
راکوی پحجره دعایشی کښ بزه اوسم * بی بیان واړه سره اذن وده ورك *
چه ته اوس پحجره دعایشی کښ موز بخښلی ی رسول *

باب هفتاد وپنجم در بیان مرض سرور
عالم صلی الله علیه وسلم

لعطار ابن سیار روایت دی چه حضرت صاحب رنځور شه ابی (سعید) خدری دده
پوښتن لره راغی * تر جامه ی لاد پاس لاس پرده کیښود ده تر هسی کرم
بسخنی د * تر جامه ی هم ظاهره لوی کرمی و * ابی سعید خدری و ځه ډیر
کرم ی حضرت هسی ورت وو * چه پر موږ بلا سخت نازلیږی * ول اجرون
ی ځو چند ازارات حصلیږی * چه سختی ډیر دی بلا پر انبیاؑو * پسروی
پر اولیاؑو بس وی پر صالحان پهر چا باند پقدر دخپل دین بلا سخت نازلیږی *
دهر چا چه دین قوی وی * پرهغه قدر رحتون هم بسیار ورت حصلیږی *
چه پدین کښ ځوک ضعیف وی پرهغه قدر هم بلاکم ورته رسیږی * بو نبی
و نبیان پرده سپږی (؟) خدای دکمارلی * خوا بعفو (ځو پهغو؟) سپږ ووژلی * بل نبی
و چه سړی اغوښتن د نور ځه نوو * چی فرض پټولی * دنبیان خوښی هسی پر بلاؑو
لك ستاس خوشحالی چه پر عطا د * چه مرضی دحضرت زیات شه * لجماعت
شه دی پټاو ضعیف حال شه * وعایشی ته حضرت هسی امر وك * چه ابو بکر
ته ورای چه دخلق امامت کا * بی‌بی عایشی وپلارت وو * چه سرور دجماعت
لتلو عاجز شه نه حاضر شه داصحاب امامت کړ * دبی‌بی پلار ابو بکر پدا

خبر پژړا شه * اندوهګین دده لحال پفریاد شه * دای دو عایشې چې زه نوینم
حضرت پخپل محراب کښې * څما ب صبر پڅه شی پغه ځای کښې * پدر ورخ
درنبی دده له موت جبرئیل پر حضرت راغی * څه سرور دخدای سلام پرتا
ویلی * ستا دحال پوښتن کاندی حال دڅه دی * راته وای نه پڅه حال کښې
ځان وینې * حضرت هسې ورت وو * برادر جبرئیل زه رنځور وم چه م خدای
ځیا درنځ پرښتن وکړه * لحال اوس تازه شوم خوشحال * ابو بکر دصباح نمونځ
چه ادا کړ * ابو بکر اصحاب واړه په پوښتن دسرور صاحب دران شو *
لمسجد چه بیرون شو * دحجر پدروازه چه دده راغله عباس منځ لر راغی
لجر دپاك سرور راوتلی * پژړا او غمزده اندوه وهلی * صحابه پتیاس سوال
وك * رات وای چه دپاك رسول څه حال دی * عباس هسې ورت وو *
پر سرور باندې دمرك نقښه ځرکند شوه یاران اصحاب واړه پژړا شو * پحجره
دپاك سرور کښې داخلاق شو * چه حضرت بسترك رنړا کړ * اصحاب واړه
پژړا شو * پاك سرور هم پژړا شه * واصحاب ته ی وو چه زه ستاس ددین
ددنیا غم خوروم * ول څه کړم دخدای دارنك فرمان شه * اصحاب واړ پژړا
او پفریاد شو ورته وو * غریبان ورته هسې ژړا وکړه * چه سرور ته غم خور
و دخوران * چه ته ادنیا دروم موږ څه کړو * فریاد ځای وم بل نشت *

موز پاتو غریبان شو * بتیمان ورته هسی ژړا وکړه * پاك رسول څه رز پلار
نو پدنیا کښ پلار وم نه ی بی لتانه * اوس چه نه لدنیا درومی موز بی
پلاره (چه ان ؟) پاتو یتیمان شو * پاك سرور و دمهاجران انصار سره ډیر نیکی
کاڼری * غریبان یتیمان واړه پښه مهر کوزی زه لتاس مسافر شوم * پس
لاته سه روزکارون سره کاڼری * نیکوکار شی ډیر احسان سره کوی هم سلام
پر غریبان مومنان رسوی بیا حضرت وصحابه وت مخ ك * دایٔ وو چه ما
دسپارلی یاران * که لا دچا خاطر وی ازار شوی * دقیامت پسفر ځم حاضر
وقت دبیلنانه دی بخشنده شی محبان * کند چرم خبر وی وتاس وت سخت
ادا شوی * چه پر تاس ازار شوی * چه عفوه کاڼری دوستان * تاس واروی
مومنان چه سرور ددوار کرن چه دی پاك و لازارون لجمله کناهون *
دبخشش طلب ی وك لصحابه و * موز بخه کړو * چه دایم خلق ازار یو *
سریکار وم دی دخدای لکناهون * پر حضرت چه ساعت تنك شه * دای
ووچه بی‌بی فاطمه رابولی حاضر * چه دا وقت دخدای دی آخرت لره *
لرنځون حضرت علی بی‌بی فاطمه لراغی * وبی‌بی ونه ی وو * چه نه پاځه
پتلوار که دیدن دپاك سرور کړ * دا دیدن دوه ورستی دی * ددشاه شوه
ودنیات اوس ی کوج دی جنت نه * بی‌بی فاطمه لمځی پسرك دحضرت

حجر لراغله * بی بی عایشی وته حضرت اشارت وك چه ثما دورستی کینبته بی بی
فاطمه حضرت چوراند کښنوله بی بی عایشه شکسته دل پژړا شو * حضرت هسی
ورته وو چه م کورت دزړه لمبت دام وقت دزنکندن دی * فاطمه دمعراج
دشپی لقوة پیدا شوی ددپاره م دوړاند کښنول * کند ددلبرکت زنکندن پر ما
آسان شی * چه زه خلاص شم لزحمت وصال م شی دخدای لښه رحمت * بو
ساعت چه پرده تیر شه * دروازه چا ووهل * بی بی عایشی و چه څوك دراغی
دنن دا وقت دراتلو ندی * جبرئیل و محمد عزرائیل دری * چه دی تا لره
راغلی حکم غواړی که اذن وی سروره * دی دروح قبض کول لر خدای
دی راستولی دا بزرکی ستا دپاك سروره * بی لتان اذن عزرائیل لچا نه
چری غوښتلی * بیا حضرت و جبرئیل عررائیل ووای چه رادروم عزرائیل چه
پجره دنن راغی دحضرت جواب سلام وك السلام علیکم یا رسول الله حضرت
جواب دسلام وك * دای وو چر راغل عزرائیل * عزرائیل و خدای تعالی یم
رستولی زه بنده فرمان برداریم * دفرمان پځای کول لراغلم * که پ موت
باند راضی ی پاك سروره پاك ارواح بد زه قبض کړم سروره دپاك الله نه
ته خپل وصال لره بللی * که پتله درضا نوی زه ب بیا پ بیارت ځم لك
راغلی * حضرت هسی ورته وو * عزرائیل که نه لاړ شو بیا ب راشی عزرائیل

و بیا ب راشم بیا حضرت و بار مه درومه پ بیارت * ول هنمبره مهلت
راکړ چه جبرئیل لحق راشی نور فرمان دخدای تعالی پر ځای کړ * عزرائیل
توقف وك تر غه پور چه جبرئیل لحق راغی * دجامی دغم اغوست غمزده
و * پاك سرور ته وو * چه ای وروره جبرئیل ده دپریښوم تنها پهسی رنځ
کښ * درنك ددیر وكا * پس راغلی لجلیل جبرئیل و دغه درنك سبب ی
دا و * چه داسمان ملئکو ومات ستا عذر کاوه پاك سروره * رضوان ملئك
حکم دار پر جنت دلاویازره ملئکو سره راغلی * اسرافیل هم لاویازره ملئکو
سره راغلی عذر خواهی ووی ستا وماوت کول * چه سرور لدنیا درومی همه
واړه پر فراق دی ستا لکوچه ای خلیل * جبرئیل و محمد ستا دخدای هسی
رضا د * چه‌دنیا و محنت سرای * کرته خلاص ش ددنیا لحننون * وصال
دشی لخدای دعقبی نعمتون * بیا جبرئیل و داسمان دروازه بیارت شو سروره *
کل فرښتی پنبه صفون ستا دروح (وروح؟) ت منتظر دی مهتر ستا روح خذمت بزه
کړ مه چه درکاه لره ی وره * هم درود بزه پر وایم * پحرمت ی لرم * دجنت
حوران ژړا منتظر پ ارزو ستا دیدار شو * بیا جبرئیل و محمد تر هرچا پ ته
پخوا لقبر پاشی * شفاعت بدی اول خدای قبول کا * دقیامت دوره کنجی ستا
پلاس ك * بیا حضرت و جبرئیل هسی زبری ومات وکړ * چه دا امت حال م

ب ئه شی * خدای بخه ورسره وئ * جبرئیل و محمد پر نبیان دجنت ورتله
درام دی * پاك سروره ئو امت ستا بجنت کښ داخل نوی * بیا سرور و
ئما غم خپل امت دی * چه امت م جنتی دي * پدا زیری دئما زړه کړ خوشحال
چه امت م پرادت دی * اوس راضی شوم ارواح م اخل عزرائیل * ناس واروئ
مومنان چه دحضرت دئوج مال وقت شه * جبرئیل ی ښې لوری نشسته شه *
جبرئیل و السلام علیکم یا رسول الله ئما ددزمکی دا ورستی دیدن شه * چه ئما
مقصود ئو نه وچه راتلم * اوس چه ته لدنیا ذروم نور می نیت دراتلو نو * بیا
میکائیل پکینړ لوری نشسته شه * اسرافیل پسر ور ایستاده شه او رضوان ی
ښې لوری استاده شه * دوه جوړ ی دجنت ورته نیولی * ملك الموت چه
دحضرت روح قبض کاو بخه ضرور و * چه حضرت به کله لاس مبارك تړل
کل دراز ك * پیشانی مبارك خولی تل روح روان (روان؟) ك * حضرت دا دعا
کول ئما خدای زنکندن پرما اسان کړ * دزنکندن لپسی هونبر م پامان کړ *
هسی واروئ مومنان چه سرور ددوار کون بغه وقت دزنکندن ده ئه زاری
کړ وخپل خدای ت * موږ عاصیان یو ئه پعذر کړو رمولی ت * چه وصال
دسرور وشه لصورت ی * روح لاړ شه اهل بیت اصحاب واړه پژړا شو *
مدینه پر توره شپه شوه هر ئوك ئان بخان دغم شو * لك چه حضرت راغی

مدینه ت مدینه تامی کوز (نور ؟) شوه ځه ساعت و دنیادی پرحت مدینه پور شوه *
ئې مقرره کړی وه * ۱۴ هغه وقت هغه په اسوس کښې ځمونږه سره پس له ملاقاته
مونږه هغه‌لره اخستی ومتلینی لره وروسیدو * ۱۵ او لهغه ځایه ځخه په جهاز باندی
تللی بله ورځ دوړاندی دکیوس وروسیدو او دهغی په بله ورځ وسامس لره

وورو‌سیدو او په ترکلیم کښی واوسیدو او دهغی په بله ورخ مونږه وملیټس
لره وروړسیدو * ۱۶ په اسیا کښی نور اوسیدلولره نه غوښتلی له اپسسه څخه
شوی ورتلولره پاول مقرره کړی وو ځلره چه که کیدی شی ترو دپنتکس په وقت
کښی په اورشلیم کښی هرهغه چه موجود وی دغه اراده هغه‌لره لویه وه * ۱۷ هغه
له ملیټسه څخه اپسس لره سړی ورلیږلی دمجلس زړو خلقو لره راوبلل * ۱۸ او
په نژد دهغه پس له رسیدلو هغه هغولره دغه خبره وویله تاسو خبرئ چه په
هرهغه ورخ کښی چه ومونبی اسیالره راغی * ۱۹ لهغی ورځی دارنګ لکه چه
ډیر نرم زړه شوی او سترګی له اوښو څخه ډکی کړی دیهودیانو له پټیدوڅخه
۲۰ هرهغه چه ډیر ازماینښت ما باند راپرېووت لهغه څخه ازمایلی شوی دخاوند
له خدمت کوله څخه زه پهرهغه صورت سره په نژد دتاسو هر وقت چه وم او
دتاسو محبت کوونکی ماهیڅه پوشیده نږی ینبی * ۲۱ لیکن په نژد دخدای
توبه او څمونږه په خاوند یسوع مسیح باند یقین لره دضرور شاهدی ورکول
ورکول تاسولره پهر هغه صورت سره له ظاهره څخه او کوراکور یهودیان او
یونانیان خبرئ وکړ او تعلیم ئ وکړ * ۲۲ روح القدس پهر یوه ښهر کښی دغه
شاهدی ورکوی چه تړون او تکلیف هرهغه چه څما انتظاری کوی * ۲۳ ما باند
اورشلیم کښی هر هرهغه چه به را پریوزی پهغو واورو ځایونو کښی بی عقله شوی

ولید زه اوس په روح کښ بند شوی هغه ځای ځم * ۲۴ لیکن زه پدیو دځا بحق
کښ متفکر نیم او ځما دخدمت واړه کار له خوشحالی څخه پوره کړم او دخدای
دمهربانګی خوشخبری دپاره شاهدی ورکولو هرهغه خدمت ما په نژد دخاوند
یسوع مونلی دی هغه خدمت دپاره دپوره کولو زه خپل ځان لره مین کړی
نکنړم * ۶۴ نور هم وګوره ۲۵ اوس زه پوهیږم چه تاسو واړه دهرو هغو په منځ کښ
زه چه دخدای دبادشاهی خبره ویلوله تللی یم ځما نور مخ به هیڅکله ونه وینیئ
۲۶ دپاره ددیه زه نن تاسولره شاهدی درکوم چه زه دواړو خلقو له وینوڅخه
صاف یم * ۲۷ ځکه چه تاسولره دخدای واړه دول خبرولولره ما پریښودی
ندی * ۲۸ دپاره ددیه خدای له خپلو وینوڅخه هرهغه مجلس چه په بیعه اخستی
دی هغه مجلس‌لره له تربیته څخه ساتلولره خپلولره او هرهغه واړه ساتلی پورته
روح القدس تاسولره مهتمم مقرر کړی دی هغی رمی‌لره له خبرداری څخه
ساتیئ * ۲۹ ځکه چه زه پوهیږم پس ځما دتلو چه بدلیوه په رمی باندی هیڅه مهربانګی
نکړی په تاسو کښ به ننوزی * ۳۰ او دتاسو له منځ څخه شاګردانولره دپاره
دراښکلو سری مخالف خبری کوونکی خلق به پورته شی * ۳۱ دپاره ددیه یاد
کړیئ نګهبانی وکړیئ * ۳۲ چه ما اوسی دکی شوی دریو کالو تر پور شپه ورځ
هر یوه سری لره نصیحت کولولره پریښنودی ندی تاسو دغه دپاره ددیه ای ورونړو

اوس زه په نږد دخدای او دهغه مهربانئ دخبرو هم وتاسولره سپارل کوم
چه هرهغه تاسو دکور په شان جوړه ولولره او چه پاك کړی شوی دی دهغو
واړو په منځ کښ دستاسو ملکیته درکولولره قادر * ۳۳ ما دچا دسپینو زرو یا
چه دسرهزرو یاد جامی طلع کړی نده * ۳۴ تاسو پوهیږیی چه دیو لاسونو
ځما خپله خواری دپاره دکړود کولو بغیر آخستنی ده کړی نده او ځما سره هر
څو سړی چه وو دهغو دهغو هم مدد وکړ * ۳۵ ما تاسولره واړه اطلاع کړی ده چه
دارنګ محنت کړی دکمزورو سړو مدد کول او دخاوند یسوع دغه خبر یاده
ول ضرور دی چه له اخستوځخه ورکول اسان دی * ۳۶ هغه دغه خبره کړی
دوه زنګنونه شه او دهغو واړو سره ئ دعا وکړ * ۳۷ او هغو واړو اوی های
های کړی دپاولُ مغزی ئ ونیو او هغه هره هغه خبره چه کړی وه چه دوی به
نور هیڅکله دهغه مخ ونه وینی * ۳۸ پهغه خبره باند نور غمکین شوی هغه لره
ئ ښکل کړ پس دهغه سره دوی په نږد دجهاز لاړل *

من کتاب یوسف وزلیخا

VI.

دمغرب پلور بادشاه وُ — چه دولت ی بی احصا وُ P. 26.
دده اسم شاه طیموس وه — لوئ ملك لوئ ناموس وه
مهیا ورته هر څه وو — چه دده وو دبل نه وو
په مراد به دده ځرخ — هر زمان واره تل ځرخ
کل مراد ده حاصل وه — خوښ خورم خوشحال پدل وه
تر زول یوه لور وه — چه پحسن لکه حور وه
زلیخائ دلور نام وه — چه مثال دد معدوم وه
که یٔ وصف دجمال کرم — لدی باب تل مقال کرم

لکه حق ئې وصفت دی — چه ئې کا دچا قدرت دی
لږ به تاونه وه وایم — له خروار موی نمایم
که عرعر که وی که چنار وی — تر قیامت ئې شرمسار وی
قدی سم لکه دسرو — په رفتار لکه تذرو
چه ویښته دد دسر وو — به تر مشکو تر عنبر وو
په هر تاری په تحقیق — زره پیه (پید؟) لکه عقیق
که زاهد که دانشمند وو — دویښتو پتاری بند وو
څه نسبت ئې دکاکلو — چه ئې زه کړم له سنبلو
سنبل اوسی پصحرا کښی — دا پسر ددل ربا کښې
دوی زلف اوېزاند — نور مارونه کنج تر لاند
والضحی واللیل کیسه — هغه مخ زلف پر نسه
صاف ئې هسی رنګ جبین وه — چه هر راز پکښی مبین وه
چه به څوك ورته ناظر شه — پټ احوال به ور ظاهر شه
دصوفی تر زړه لاصاف وه — دصفائی دا اوصاف وه
تر هلال ئې دمه روی — لا بهتر وی آبروی
دهلال که ځای فلك دی — ددی ځای په مردمك دی
نور پانړه ی نور ناوك وو — دعاشق پزړکی لك وو
دهغو دلرو چشمانو — تاسو وایئ سخندانو

56296

دا ستم به زه پخو کړم — چه تشبیه ئې له اهو کړم
داهو ددی دعین — تفاوت دمس دعین
تر عقیق دی لب سره وو — د عقیق و غندی وو
غاښ ئې سپین برق هوار وو — تر کوهرو لا آبدار وو
کاه کهی چه به له خیاله — په خندا شوه حور مثاله
لعل وډری له دهنه — دا دبنا (دا وینا ؟) کړه مبرهنه
پهر لوری به نثار شول — بهرمند به ځن خوار شول
په مثال ئې مخ جنت وه — بلك لاتر پر زینت وه
پکښې هر رنګ کلونه — لون لون نعمتونه
سری کرد کردن بلنده — به همزولیو کښې څرګنده
له ویښتوئ ساده تن وه — لك کل ددی بدن وو
چه پستان دهغی حور وی — کویا دوه دوه قبې دنور وی
وه ئې ملا ډیره باریکه — تر ویښتونه لا باریکه
نور به څه تر دا زیات شمار کړم — هم پدا به اختصار کړم
سر تر پایه خزانه وه — هسې ګښلې جانانه وه

P. 29. چه ښه مخ پکښې لیده شي — تر ویښوالی خوب ډیر ښه شي
زلیخا دګښلیو میره — په مثال وه بې نظیره

یوه شپه پخوب اوده وه　　پاس په تخت باندې پرته وه
ناګهان ښایسته ځوان وه　　چه پخوب کښې ورعیان وه
ترکیب شوی وه لنوره　　پصورت کښلی تر دوره
لکه ده درلو ښایست　　هسې نه دچا ښایست
قدې سم لکه شمشاد وه　　تر شمشاد لا آزاد وه
مخ یٔ سپین پمثال نمر وه　　پلك لاتر رخشنده تر وه
زیات ی وه تر صباحت　　کښلی مخ پر ملاحت
اهو چشم ګلرخسار وه　　پدوه شونډ شکر بار وه
تنك خوله ی نیست هسته　　تر قیامت یٔ سرو پسته
نویٔ دنرِ مرغلرې　　چه به ده کړلې خبرې
تور ګیسویٔ مشك افشان وو　　په سپین مخ یٔ را پریشان وو
لب یٔ لعل پر بها وو　　غاښ یٔ در قیمت بها وو
چه به کله په خندا شه　　نور په نور تر هویدا شې
تا به وِ چه کند ستورې　　تر شیرین یٔ خول ی وړې
چه ښایست هغه ځوان وه　　زیات تر حده دبیان وه
زلیخا چه دا ځوان وه لید　　پدارنك پراشان ولید
زړه ی لاړشه له کړکل　　په لنبو دمینې وسوله
دعشق اور باند بل شه　　ددې زړه پکښې جل بل شه

دده مخ په مثال اور شه | بل ددی دزړه پکور شه
هر وبینته دده کمند شه | ددی زړه ور پرو بند شه
تور مژکان ئ تور ناوك شو | په سینه باندی لك شو
وده ی وروښی لکه لور شو | دواړه زلف ئ منګور شو
هغوی پری کړ دزړه ولی | دوی پر خول و لکه ولی
عشق هرکوره بد بلادی | هغه زده چه مبتلا دی
چه په خوب کښی دا اثر کا | قراری لزړه بدر کا
په وینبوالی به لاکوره | ځه کارونه وه کا ورورره
زلیخا بی زلیخا شوه | لهستی پسی شا شوه
دپل وجود وربانی بار شه | ورښکاره خالی غبار شه
له ویښوالی پر خوب ښه شه | له ژوندونه ئ سوړ زړه شه

چه شپه تیره شوه سحر شه | بانکی چرك پنار وسر شه P. 31.
دشپی زاغ پرواز آغاز کړ | باغ ئ ځائ دتیغون بار کړ
پناړونارو بلبل شه | پیرهن ځیر دګل شه
زلیخا پری رخساره | ماه پیکر ګل عزاره
ناګاه ویښه شوه لخوب | زړه ئ دك له مین توب
کښیناسته نګاه ی وکړ | یاری نه لید آه ی وکړ

وناروته ی جوړ ځان کړ — لاس ئې پوړ په کریوان کړ
چه پزوره به ناره کړم — کریبان به خپل پاره کړم
اور به پوړ پناموس کړم — ورك به اسم دطیموس کړم
پنارو په فریادونو — دمه شی دخرزو زړونو
چه له زخم زوی دروهی — پرهار ځلی صحت مومی
اما شرم ئې مانع شه — په نش آری توره قانع شه
رازی پټ ساته دمینی — که ئې ځلی له سترګو وینی
زړه ی ډك شه له آتش — بی آرامَ مُشوشَه
په ظاهر به ئې خنداکړه — په باطن به ی ژړا کړه
لکه زخم په خندا وه — خرز دیار لغمَ دا وه
دعشق ی داغ په خاطر ینبی — یار ژاړه له خلقه کوښی
په ظاهر له خلقه ناسته — په باطن له یاره ناسته
په هوس کښی شوه غنچه — غم ئې وه دزړه دننه
دجهان هوس پرغم شه — دیار غم ددی محرم شه
ځن لاړه بی غمی شوه — صورت روغ پزړه زخمی شوه
سری کار شه له درده — زیست روزګاری شه اندرده
دیار درود ددی وواشه — بی وواتی درد پیدا شه
ورغ ی نیره پداشان شوه — تر بیګاه پداشان شوه

شپه دمینی ده رازداره   پشپه ورشی یار تر یاره
درسته شپه به یٔ له څانه   نغمه کړه بڅو څو شانه
مخامخ یٔ دیار خیال کړ   پـارنك یٔ ورته قال کړ
چه ته څوك یٔ رانه وایه   خپل احوال رانه وانمایه
ته کوهر دکوم دریاب یٔ   چه داهسی رنك نایاب یٔ
ته دکوم ولایت شاه یٔ   ته دکوم عالم پناه یٔ
زړه دیوړ لا خواری   خپل حال ووایه رانه یاری
لکهه زه یم بد احواله   نشته څوك هسی بد حاله
شوم بیدله بی دلداره   مشته څوك هسی کرفتاره
خیال دتاخت راباندی وکړ   بوت یٔ ملك ځما واره (؟) کړ
خیال دوینم له خواب   خیال دکړم سینه کباب
خیال دمخ رانه عیان کړ   ځما خانومان ی وران کړ
په خاطر می داور بل کړ   بیا دڅان زلفنی بیل کړ
هیڅ خبر له غم نه وم   په هوس کښی وم ځزره وم
تا جدا کړم له هو ه   دخوبنی له جوسه
تازه کل دسلطنت وم   ددباغ زیب زینت وم
نه تو دباد وه ما لی دلی   نه آغزی وه رابلودلی
دنا مخ لکه نانار شه   پر ویران هغه کلزار شه

در شپه ئ دا احوال وه | وبارونه ئ قال وه
ورځ وشپه ئ داروزکار وه | زړه ی خوږ صورت خوار وه

مینه کا هسی کارونه | په څوشانَ ناتارونه P. 33.
بادشاه پرِ باسی له تخته | باندِ ورځ راولی سخته
له وطن سړی ورك کا | وهرچاونه ئ سپك کا
عشق بدرنك کاندِ ډیر کمبلی | هم بی سطر مخ پوشلی
ژوندی ځان واچه وی اورته | ځان نیولی نشی بیغورته
شاه غلام غلام بادشاه کا | نام ناموس واړه تر شا کا
دعشق تیر چه پچا لك شی | صبر هوش ئ لزړه ملك شی
دهر څیز پته ول وشی | عشق او مشك پته ول نشی
بوئ دمشك دمښك چغل دی | بوی دګل چغل دګل دی
زلیخا دزړه دننه | راز دمینه پټ ساتنه
ول نخښئ ښکاره شوِ | چه دخلق ننداره شوِ
یوی زبره رخساره شوه | بل لخلق کناره شوه
بل ی سترکی شوی غم جن | شوندی وچ دغم جن
په آشنا پسی اوبه شوه | پصورت لکه دړمه شوه
شپه او ورځ لدرد دوکه | هغه شه کمبلی ملوكَ

تر زعفرانو شوه لاززردهٔ   تا بو ځهره یٔ زر ده
کاه ی اوښی بهیدلی   په لمن ځه څڅیدلی
هغه ځای به لاله زار شه   چه ددی به پری قرار شه
کاه کهی به یٔ آهونه   را وکښل له اندرونه
چه یٔ سه خاطر دننه   تر به بوی دکباب ننه
چه یٔ حال پدا منوال شه   په محل کښی قیل وقال شه
چا به وچه دانظر دی   دنظر هسی اثر دی
په هرچا باند چه وشی   کاری دارنکه لیده شی
په نظر کانړی ماتیږی   روح تندرست تر وفاتیږی
چا بوی چه دا پیریان دی   ناست ددی په کښلی ځاندی
چه پیری په هرچا کښی نی   نور له خلق تنها کښی نی
چه پیری ورته ښکاریږی   هغه ورغ تر ورغ خواریږی
چا بو سحر سازی ده   چه ددی جان ګدازی ده
چا پر کړی سحر دم دی   ځکه حال ددی برهم دی
چا بوی چه کار دعشق دی   دا همه اثر دعشق دی
دا دمینی دی دودونه   چه له ستر کوزی رودونه
دا همه دعشق اثر دی   چه ی حال هسی ابتر دی
پهر زره چه ورشی مینه   وچه وی دصورت وینه

دد وه دائی هوښیاره   له هرڅه نه خبرداره
لا دعشق په کاروبار کښی   سیال نلري پدا کار کښی
دعشق کار ورته معلوم وه   پدا کار کښی نوم سلو ده
چه به دی افسون آغاز کړ   ناساز کار به ی پر ساز کړ
یوه شپه ئی زلیخانه   وئ وه واپه ومانه
پټ احوال رانه عیان کړه   په تفصیل رانه بیان کړه
راز ساتل که هرڅو ښه دی   بی رازدار هیڅوك ندی
راز ساته شی له رقیب   نه ساته شی له حبیب
رنځ که هرڅو پټ ساته شی   بیا طبیب ته حال وایه شی
ستا دغم غمخواره څه یم   پدرد ستا دپاره زه یم
ته که هرڅو بی نظیری   لوئ بیا څما په شیری
زه مینه یم هرګوره   پتا لازیات تر موره
ما په څو خواری ساتلی   څوڅو شپی می رونړولی
لکه ما دتا خدمت کړ   مور دکله دا خدمت کړ
درسته شپه به ستا دپاره   نه اوده وی زه بیداره
چه لږ درد به ستا پسر شه   ورك لما به خواب وخور شه
ما به سترګی کړی ستا نوری   ما به عطر کړه در پوری
رنګارنګ جامی مهین   ښائسته سپین رنګین

چه به ته پر جوړېدلی　　ما به هسې سازه ولی

یو زمان به ستا له کاره　　هیڅ خالی نه وم وزکاره

ښما حق دربانډی دیر دی　　تر شمار تر حساب تیر دی

خپل حال وه وایه وماته　　زه به نه وایم وچاته

پت به ستا درنغ علاج کړم　　تا به بیا په ابتهاج کړم

رنځ بورك کړم ستا لځانه　　ما دارو زده ښوښو شانه

راته وه وایه یوښله　　ولِ شوِ له خلق بیله

ښه آفت دناپښان شه　　چه درنك لکه زعفران شه

مخ دسپین لکه آفتاب وه　　تر آفتاب ی لاتاب وه

ول اوس داهسی تور شه　　په نوروالی لکه سکور شه

قدی سم دصنوبر وه　　بلك لاڅن بهتر وه

ول اوس داهسی خم شه　　بار وربانډ دچا غم شه

تل به تا خندا هوس کړ　　یو هوس وړی په لس کړ

ول اوس داهسی غم کړ　　رنړا ورڅ پښان تور نم کړ

ښه زحمت دی په بدن دی　　چه ضعیف دهسی تن دی

دهر درد دارو دوا شته　　طبابت هنر ښما شته

ستا ددرد دارو به وکړم　　بصحت بیا زړه سه کړم

که دناست به ښان پیریاندی　　پاڅول ئ هم آساندی

پتعویذ به ی تسخیر کړم | دَدوی سول نه به خان خبر کړم
په شیشه کښی به ی بند کړم | چې هرچا نه ی څرکند کړم
که زحمت لری دمینی | نه به خو څما کار وینی
په تسبیح به لآسمانه | فرښته کوزه کړم جانه
که دمینه په بشر ده | دا خو دیره سهل چرده
که بادشاه وی که وزیر وی | که ملك وی که امیر وی
که نیژد که پهوین واد وی | که پزړه لکه فولاد وی
زه به هسی کار معلوم کړم | چه ی نرم لکه موم کړم
نه حال وه وایه وماته | چه ی راولم وتاته
څوك چه ته ومانه یاد کړی | پوصال به ی زړه شاد کړی
زلیخا چه هونبره مینه | پناك وه لیږ اه داینه
آه ی وکړ پژړا شوه | لهغه پس ور کوبا شوه
چه مقصد می ناپدید دی | دګنج ور می بی کلید دی
هغه څوك چه مراد څما دی | په معنی لکه عنقا دی
عنقا نه کښوری پلومَ | دا خبره ده معلومَ
عنقی ندی چا لیدلی | نوم ی دی پهر لور تللی
چه ی زه کړم پدا غم کښی | ظاهر ندی پعالم کښی
دده کښلی مخ په خواب کښی | لکه نمر وینم په آب کښی

نورانی آفتاب عالم کړ — ده آفتاب بیا نور تم کړ
چه تر غر ښایست دده وه — نه پوهېږم څوك وه څه وه
چه ئې زه له غم سوزم — نا قراره ځبله خوځم.
هېڅ مې نزده چه سړی دی — فرښته که حور پېری دی
چه دائ لدی خبری — واورېدی هسی ناوری
شوه حیران پدا کار کښې — دعلاج په کاروبار کښې
چه اوس کوم هونر بازی کړم — چه دد چار سازی کړم
نصیحت نه ئې ځان ساز کړ — وعظ بندئ (پندئ؟) ور آغاز کړ
وئ دائر ددیو دی — .دديوان مكر زبو دی
ځان ښکاره به ښه صورت کا — ورسره ملاعبت کا
عقل هوس له سړی یوسی — نور څو دی لیونی اوسی
زلیخا و دا خبری — هر کور دی له عقل لری
څه قدرت دی ددیوانو — چه پرنك دفرښتكانو
ځان وچاوت ښکاره کا — عقل هوش ئې آواره کا
نور او نار څپله جدا دی — پرِ پوهېږی چه دانا دی
دهر نور چه اثر نور دی — وپوهېږه چه دا اور دی
نور ښکاره شی په آسمان کښې — رنړان یربوز په جهان کښې
وئ د هم خواب وخیال دی — معتبر کله داحال دی

دَبر اضغات احلام خوبونه ‎ ‎ پرنك رنك به صورتونه
وسوري‌وته اظهار شي ‎ ‎ پدا كله اعتبار شي
د ويرخوب وراستكارانو ‎ ‎ دي ليرل دبيدارانو
خوب به سم وبني چه سم وي ‎ ‎ هرچه نه مني دا كرم وي
كازه وه وبني خوبونه ‎ ‎ چه كازه لري خوبونه
دبوي دا فكر له دله ‎ ‎ لر كره كه ئ عاقله
دا هر كوره ناداني وه ‎ ‎ ثمرهٔ پښيماني وه
چه شه وه وبني بخواب كښي ‎ ‎ نور خپله ثان كر په‌عذاب كښي
د وير عقل لما بيل شه ‎ ‎ حال مي ثكه مبدل شه
كه په ثاىٔ عقل ثما وي ‎ ‎ كله وي چه حال دا وي
عقل بووړ لما ميني ‎ ‎ حال مي ثكه خراب وبني
يار مي لك دزرهٔ پسر شه ‎ ‎ لكه نقش دحجر شه
په اوبو په باد بيدرنك ‎ ‎ نقش نه درومي له سنكه
چه داىٔ شوه خبرداره ‎ ‎ په فكرت شوه لديكاره
ددي پلارنه ي حال وه وي ‎ ‎ پرموزي پيغام وه وي
پلار ي دير پدا دلكير شه ‎ ‎ چه عاجزئ په تدبير شه
لارئ نه وه وتدبير نه ‎ ‎ مفوض ئ كر تقدير نه

زړه بی عشق کله زړه وی　　　　چه بی عشق زړه دمړه وی　P. 37.

پهر زړه چه عشق نازل شی　　　　له جمله کاره عاطل شی

ملامت پر سلامت شی　　　　سلامت پر ملامت شی

دعشق اور چه بل پزړه شی　　　　صبر وهوش ی پکښی سه شی

زلیخا چه په مخ ماه وه　　　　دهمه مهر یو شاه وه

پدا حال پدا منوال کښی　　　　شوه پغم په تمام سال کښی

پدیر غم لکه هلال شوه　　　　پلا خم لکه هلال شوه

لهمه خلق تنها شوه　　　　زمزمه ی لزړه دا شوه

دادی څه وکړه آسمانَ　　　　پخپل کار دکړم حیرانَ

بو کړی درسوا کړم　　　　له ښادبو دسوا کړم

همیشه دی پیشه داوه　　　　که پما دابتلا وه

چه دی هسی رنګ پغم کړم　　　　نور هوس کازه ماتم کړم

که په هجر کښی نور ژلړی　　　　پوپښوالی وصال غواړی

زه پخوب کښی دیدن غواړم　　　　یوکال وشه (?) پسی ژاړم

ښکاره شوی راته ندی　　　　دا ستم ندی نور څه دی

پدا شان ئی کړه له ځانه　　　　زمزمه پخو ذو شانه

چه شپه تیره شوه بو پهر　　　　غوغا کښیناسته دشهر

په بستر شول قراره　　　　سترکی پټ زړه بیداره

ورښکاره هغه جمال شه　　په لیدو ی زړه خوشحال شه

په تلواری شرم پرېښی　　خپل تندی په پښو کیښی

وی حال ځما مشکل کړه　　دا مقصود ځما حاصل کړه

پهغه دِستا سوګند وی　　چه هر سر پِده ځرګند وی

ستا سوګند پهغه خدایئ‌ی　　چه خالق دهر اشیا دی

نه یٔ هسی رنګ زیبا کری　　نر آفتاب ی کښلی لاکری

په ښایست یٔ سرفراز کړ　　په ښه حسن ی ممتاز کړ

نه یٔ سرو دَ دباغ کری　　دد بزم یٔ چراغ کری

ستا یٔ سری شوندی یاقوت کړ　　بیا ی دخوږو زړونو قوت کړ

ستا وېښته ی معنبر کړه　　نر عنبرو یٔ بهتر کړه

مخ یٔ ستا آتش سوزان کړ　　ځما زړه ی پر بریان کړ

هر وېښته یٔ ستا کمند کړ　　پر ځما خاطری بند کړ

که دویره شی له خدایه　　خپل احوال رانه وه وایه

دل سوزی می په حال وکړه　　حال ومانه بیان نه کړه

نه چه هسی ښایښته یٔ　　آدم زاد که فرښته یٔ

نه چه هسی ګلعذاری　　ګل دکوم بوه ګلزاری

نه هسی پاك نژادیٔ　　ځوك یٔ نه دچا اولادی

ده وِ زه آدم زادیم　　دآدم الګو اولادیم

خلاصه ئ لکه گل یم　　　بیا پیدا له ابو گل یم
که نه ئ په ما عاشقَ　　　په خپل عشق کښې ی صادق
ویل چاته نظر مه کړه　　　بل بې ماته شوهر مکړه
که په حق دیاری کوری　　　نه به نه کړی یاری نوری
قتن ساته له منکه سانو　　　زغوره ځان له ناکسانو
لکه ستا ده په ما مینه　　　ځما هم ده پتا مینه
لاس چه یودی تك ی نشی　　　له دوه لاسه اواز دشی
لاری شته دزړه وزړه ته　　　دبل بدو بنه وسه نه
چه ی شناخت وی له ازله　　　آشنائی کاند یو ځله
زه هم ستا په مینه داغ یم　　　گمان مکړه چه فراغ یم
ستا دعشق په کمند بندیم　　　دوصال دآرزمند یم
زلیخا چه هونبره مینَ　　　اخلاص ولید لنازنینَ
محبت ی صد چندان شه　　　غم محنت ئ صد چندان ش
چه معشوق مهر ځرکند کا　　　عاشق لاپه مینه بند کا
سحر مست له خیاله　　　ویبنه شوه پری مثاله
زړه ئ لاندی تر اندوه شه　　　یو اندوه وربانډ کوه شه
تر اول ی یو په صله　　　اور دمینی سینه سوله
بیا ی وکړ لزړه نغل　　　صبر آرام لسره عقل

لکه گل گریبان چاك شوه | تر بلبل په بلغاك شوه
هم ئې شرم لاړ هم ویره | پنارو نارو شوه سره
چاپېره تر خدمت کاري | په ښایښت واړه او ښاري
چاپېره به تر حلقه شوي | دا به میاشت دوی به هاله شوي
چه به وه وزي ناګهان | دنك (جست ك؟) لكه غشي لكمان
آهو چشم به آهو شي | له عالم به یکسو شي
په صحرا کښې به مقام کا | خاندان به خپل مقام کا
اور به پور په ناموس کا | ورك به اسم دطیموس کا
پدا حال پلار خبر کړ | پلاري ساز زنځیر دزر کړ
په زنځیر کړه دا قید | لکه بند کا وحشي صید
زولنۍ لکه مار شو | تر باریکو پښوی زار شو
زولنی چه ی پیای کړ | دی له زړه خبر دا کړی
چه پټور دعشق بندی یم | بهوس بخورسندی یم
چه په پښو می زوله نی دی | دا دمینی نشانی دی
لیون توب دعشق کمال دی | دصادق عاشق دا حال دی
دهغه عاشق عشق خام وی | چه ی غم دننك دنام وی
لیونتوب دعشق زینت دی | لیونتوب مینی بت دی
سعادت دی که می سر شی | چه پعشق کښې ددلبر شی

دیار غم می دسر تاج دی — پدا تاج می ابتهاج دی
چه دعشق له باره خم شوم — سربلند په عالم شوم
خوشحالی دجهان واره — ځار تر غم شه دځان واره
دخلاصی بند می دادی — چه دا بند ځما په پا دی
پدا شان ی افسانی کړِ — ځو ځو رنك ترانی کړِ
پریر غم کښی دیوانه شوه — له شعوره بیگانه شوه
پژرا کښی ی خندا وه — پخندا کښی ژړا وه
پدا رنك پریشان حاله — وَ ویره تر بوه کاله

P. 40. نوی عشق په بو رنك — کهی صلح کهی جنك
کاه عاقل کا دیوانه — کاه مجنون کا فرزانه
دام دیار دزلف ساز کا — پری بندی دعقل باز کا
کاهِ قید له پښو بازکا — پرِ پرواز دعقل باز کا
لیونی شی پعالم کښی — مسخره شی پعالم کښی
په خاطری روښنائی شی — ور ځرکند دانائی شی
زلیخا بی صبر وهوشه — له محنت هم آغوشه
شپه او ورځ شوه بی آرام — له دردونو درد اشامَ
ژولیده ی دسر مو شول — چه دایم بی شست شو شول

سپین بدن ی لکه واوری — پړ بړ غم شه لکه خاوری
کاه زلف راوښکلِ — کاهِ خاور په مخ مښل
بیرون شوه له ناموننك — عشق سر نوره کړه ملنك
پسجده سر قرار کړ — سجده کاه یٔ لاله زار کړ
دا قصه یٔ کړه آغازه — وښیل یارنه په څو رازه
ای چه زه یم ستا له غمَ — له الم سره همدم
ځوز ژوندون شه پما زهر — فریادونه کړم په چهر
په ځوانی چه پړیر غم شوم — لکه ستا ابروی خم شوم
یار نوم می دتا زده دی — چه می تل ذکر هغه وی
راکړی غم غمخواری نکړی — څرګند شی خسوری نکړی
اور راوه لګوی درومی — نه پوهیږم چه څه نومی
دلاله غوندیٔ خوبَ — یم دزړه پونیو دوبَ
زړه دا غدار غرق پوینی — لاله کل یم که می وینی
مینی کړم زبان درازه — په جهان شوم برآوازه
پوشیده لکه غنچه وم — بادهم نه لیدم هغه وم
کریبان چاك لکه کل شوم — په نارو لکه بلبل شوم
مکړه خدای څما پرنك څوك — نه تمام عمر یو درنك څوك
شرمنده می مور وپلار کړه — ستا پینه می آزار کړه

نوم می لامرشه دېدئ   خپلو شمار کړم په پردئ

عشق داور صورت ی خس دی   خس ته لږ بخری بس دی

پیدا فکر کښی اوده شره   ور ښکاره هغه بشره شوه

چیٔ حسن بی نظیره وه   دهره کښلیو امیره وه

نورانی لکه خورشید وه   تر خورشید لا سفید وه

زلیخا ی دامن گیر شوه   دادطلب لکه اسیر شوه

فریادی شوه لدادخواه   ویٔ ای ځما بادشاه

غم ځما لزړه بدر کړه   لاحوال می خبر کړه

نوم دځه شهر دکوم دی   کوم د مرز کوم دبوم دی

دیو نوم عزیز ځما دی   مصر ملك ځما ماوا دی

شاهریان دمصر شاه دی   فریادرس دهر داد خوله دی

دی بادشاه زه ی وزیریم   پهر کار دده مشیریم

زلیخا چه شوه آگاه   بیا پری ننه‌وته شاه

چه ویٔ نوم دجانان بیاموند   سر له سری ځان بیاموند

خبر شوه دیار له بهره   بیا تازه شوه پری چهره

تللی هوش ی راغی سرته   لکه شاه وخپل کشورته

ارده بخت ی بیا بیدار شه   چه ښکاره ورته خپل یار شه

چه ځملاست دیوانه وه   چه شوه وینه فرزانه وه

تر ویښ‌والی خوب بهتر شي — چه لیده پکښې دلبر شي
په محل کښې شوروشر شه — پکښې کړ دښو خبر شه
چه بیا روغ زلیخا شوه — بیهوشي ځني جدا شوه
پلاري خوښ پدا مژده شه — له هوسه بو پدوه شه
دېري خیر خیرات وکړ — تر حساب ي زيات وکړ
دحق شکري بځای کړ — بند وای دحق دپای کړ
ور پغاره ي زېور کړ — تاج ي بیا دَد پسر کړ
رنګارنګ جامي مهین — که زري و که ریښمین
ورته راوړي ځدمتګارو — بیا کړه په چار ولارو
لاړه ورځ ورځني سخت — بخت بیا وروسته تر تخته
همیشه بوي پر تولي — هر چه و دد هزولي
تل ي دا مشغوله وله — افسانه به ئ ویله
هم ئ کړه حکایتونه — دهر ملك روایتونه
که به دوي مذکور دروم کړ — دي به یاد مصر نوم کړ
ګفتګوئ لزنانو — دایم وه له مصریانو
چه چا به نوم دعزیز یاد کړ — ددي زړه به ي پر شاد کړ
پداشان ي مشغولا وه — دخوږ زړه دمه ي دا وه
واه واه دعشق خبري — تر قربان شه مرغلري

پویل خاطر تازه کا　　　په نغتل (?) خاطر تازه کا
چه دحسن قیل وقال شی　　　پر غم جن خاطر خوشحال شی
ښایسته دپسرلی گل دی　　　گل عاشقان لکه بلبل دی
نه گل بی بلبل ښه وی　　　نه بلبل بی گل ښه وی
زلیخا لکه غنچه وه　　　په پردو کښی نهفته وه
په مثال لکه کیمیا وه　　　په تمام عالم رسوا وه
پهر ځای قیل قال وه　　　اما یافت دد محال وه
پهر ملك یٔ گفتگو شه　　　ددی وصف پهر سو شه
دهر ملك چه بادشاهان وو　　　خریدار به یٔ به ی ښځان وو
دهر لوری بادشاهان وو　　　ارسال کړی رسولان وو
آرزومندی دوصال وو　　　تیر تر سره تیر تر مال وو
لس الچیان دهر دیار وو　　　چه راغلی پوار وار وو
پلاری واړه سرفراز کړه　　　میلمانه یٔ په اعزاز کړه
زلیخا پدا خبر شوه　　　په فکرت زبر وزبر شوه
چه پدا هونبره الچیانو　　　څوك هم شته له مصریانو
که دمصر قاصد نه وی　　　دد نورو راتله څه وی
چه له مصر نسیم راشی　　　دزړه گل می به پریواشی
پدا فکر زلیخا وه　　　مشغولاٴ لزړه دا وه

چه ناگاه هغه خوب   دتمام عالم مرغوب

پلار حضورته وه بلله   تر خپل ځنګ ئې کښېنه وله

لکه مهره بېدر وی   تهی دل وی نه سرسروی

تر حد زیات ئې باندې وکړ   پخو رنګ ئې زړه ښه کړ

ببای وه ویل ای لوری   دخپل پلار دسترګو نوری

جفت چه نه لری احد دی   ځوك ئې کفت نشته صمد دی

پیدا شوی چه حیوان دی   که ناطق که بی زبان دی

ضرور جفت ورلره بویه   ښځی نه بویه چی شوبه

چه په ملك کښې ځه شاهانزی   دجهان شهریاران دی

ستا له وصل امیدوار دی   په سرونو دی خریدار دی

تمنا لری ستا دیره   تر حساب تر شمار تیره

رسولان دی راغلی   په جواب پسوال ښاغلی

یادی دی ته هر دیار کړ   هم ئې نوم دهر تاج دار کړ

ول مصری یاد نه کړ   دوی زړه ئې پر شاد نکړ

دا هر کور مانده پزره شوه   پنارو په پته خله شوه

هرچه پلار ودته وه وی   وی له شرم هیڅ ونه و

نا امیده شوه روانه   کله منده له آسمانه

په سپین مخ ئې اوښی تللی   دا وینا به ئې ویلی

در پوهیږم چه فلك   لادخوا ده رانه ډك
چه ددا چاری آغازی   کړی لری پژره ناسازی
چه شوم ستا په نیت خیزه   ما به کړی تر دا بتره
لادکوږ ومانه نیت دی   نیت دی مانه دشرت دی
ستا شیوه جفا کاری ده   ستا پیشه دل ازاری ده
کشکی زه زوولی نه وی   په جهان راغلی نه وی
دیر ښی کنبلی نیکاری   آهو چشمی گلرخساری
پری روی سنبل موی   لکه میاشت هسی ابروی
مه جبین نازه نین   سمن بری نسرین
قد عرعری موکمری   جلوه کړی ناز پروری
خوش رفتار خوش گفتاری   پدوه شوندو شکرباری
بوت تا لره جهانه   لافسوس لارمانه
تار پتاری نازك تن شه   نور خاوریٔ بدن شه
زرغونه بری خاروخس دی   پایمال دکس ناکس دی
ما هم اوس وریپسی بیایه   زر لزره لره سرایه
احسانونه یا بار کړه   ما له دوی سره په شمار کړه
اوس زما روزگار پسخ شه   خوږ ژوندون رابانره تریخ شه
چه می کار په مراد نه کړی   ده می وژنه که به ښه کړی

یا مراد را کړه ومانه   لامی بیایه له دنیا نه
که ژوندون هرکوره سه دی   بی مین پکار څه دی
که هېڅ نه نري له ځانه   څه په کار دی بی جانانه
پدا شان ئې لآسمانه   کله کړه په خو ځو شانه
چای پلار پدا خبر کړ   پرموزی پیغام ورکړ
چه ستا لوری ای شهریاره   پعزیز پسی ده خواره
که جفت کړ له عزیزه   دا په هاله شی عزیزه
رسولان ی پلار رخصت کړه   سرفرازی په خلعت کړه
چه لا اوس می دفرزند   اختیار نشی دپیوند
که ئې چری اختیار وشی   بیا به هاله دا کار وشی
خالی لاس واړه روان شول   دك ئې زړونه په ارمان شول
زلیخا شوه نا امیده   له طالع بی اعتمیده
چه وصال دآشنا موم   یا نصیب چه ی بیا موم
اعجب واروه خطا شه   ما وی غم بی انتها شه
ول بوه شوم چه دوړاندی   ځرخ به ځو فتنی وه کاندی
ماآلا (؟) که تر دا خواره   ترو کړی شرمساره
ول پلار دد په غم شه   نور روزکار ځن برهم شه
پدا فکر روز وشب شه   پطلب دهپل مطلب شه

مصلحت ی دزړه داشه درست دارای ورته ناشه
چه ځوك مصرته روان شی دعزیز پلور پوبان شی
بوئ شه لدانابانو هم له خپلو نزدیکانو
دعزیز پلور روان کړ سرفراز ی پښه شان کړ
همی ورکړه بی شکشونه لون لون قماشونه
چه ئ دا نظر تیر کړه بیا دا خط پلاس کښی وبر کړه
زبانی پس له سلامَ ور عطا کړه ځو پیغامَ
ورته وایه چه ای شاهَ په انصاف روشن ترماه
عزیزی عزیز داوسی ښه عزت درسره بوسی
عزیزی دی تل عزیز وی معزز دپهر ځیز وی
زلیخا چه ځما لور ده پعصمت په صورت حور ده
مخ ی چا لیدلی ندی باد پر هم بلودلی ندی
همیشه وی په حجاب کښی لکه میاشت دی پسحاب کښی
بودم نوی بی نقابَ مخ ی پټ وی له آفتابَ
پاس آسمان‌وته نکوری وائ سترکی لری ستوری
چه ئ تل خبر ورو وی زیات ایمای په ابرو وی
نرکس کل ته نظر نه کا چه پرد نظر کاته کا
پهر ځائ کښی چه صورت وی چه دمرد مشابهت وی

هغه کورنه نور دروهی   چه قدم ږدی نفرت موهی
چه ئې کټ مکنځ په هو ږدی   یای میل خال په ابرو ږدی
لکه باد له شرم ریږدی   هم خوله لکه گل پرېږدی
دخپل مخ ته په مرآت کښی   چه حیا لری پذات کښی
په څیر څیر کتلی نشی   ورته مخ نیولی نشی
چه په نیك بل خبر ده   مخ پوښلی له پدر ده
نوم ئې دی پهر طرف کښی   دا گوهر ده پصدف کښی
چه پملکښی بادشاهاندی   همکی دد خواهان دی
که شاهان دروم دشام وی   پطلب ئې خون اشام وی
ولی دا همیشه پسر کښی   پدا هونبره دیر کښور کښی
خو دمصر خیال لرینه   تل ئې قیل قال لرینه
نه پوهیږم څه سبب دی   چه ئې هونبره دیر طلب دی
له ازله خواب خور   دا هوری لری مکر
هم په مصری شفق دی   فراموش ئې بل طرف دی
که ته حکم کړی عزیزه   دا به شی دتا کنیزه
سنا خدمت ته وه تیاره   لکه وینځه پرستاره
قاصد مصرته روان شه   دطیموس پیغام کویان شه
پر عزیز ئې سلام ووِ   بیا له پس ئې پیغام ووِ

عزیز دیر خوشحال خورسند شه — پعالم کښې سر بلند شه
تواضع ی دیره وکړه — تر حساب ی زیاته وکړه
وی زه کله لایق یم — چه و کارنه موافق یم
څه بنده څه ی مجال وی — چه به وه وائی ستا سیال وی
ته بادشاه ی زه نفریم — لتا کله برابر یم
اما شاه چه مرحمت که — په بنده دا عنایت که
دبادشاه حکم اغلب وی — امر فوق ی تر ادب وی
سعادت څما قرین شه — سر می پورته تر پروین شه
چه دشاه مهر اظهار شه — له بنده سره بخت یار شه
که می هر ویښته زبان شه — ددی شکر په بیان شی
هونبره ندی چه ادا شی — که هزار ځله بیا بیا شی
ما به ساز دسر قدم کړ — ستا ولورته می به یم کړ
ما به سترګی کړی نعلین — تلم به زه پراس پعین
شاهریان می تر زمانه — جدا نپریږدی له ځانه
که غایب تر بو ساعت شم — مستوجب دعقوبت شم
هر زمان ورته حاضر یم — کښېلی مخ نه ئی ناظریم
په دوری درتله معذوریم — نور پهر حکم حضوریم
ښی ښی ځینځی ښه مره یونه — هوری درسته وم زرکونه

وینځې واړه لکه حوری | په ښائیست واړه مشهوری
شیرین لب شکر خندی | په خولی جندر چندی
لعل ودر په واړو پوری | چه په شان ی نوی نوری
هم به هسی غلامان ری | پښائیست لکه غلمان وی
کمر بند یٔ هم دزرو | مرصع پښو کوهرو
چه هریو عراقی سوار وی | کار خدمت وته طیار وی
کوهربار وی په خبرو | شیرین کار وی تر شکرو
لب ی لعل خاښ ی در وی | له نعمت تمام پر وی
هرچه سه ښه دانایان وی | دجواب دسول شایان وی
چه په عقل کښې کامل وی | هم عالم وی هم عامل وی
هم ی فهم فراست وی | هم یٔ حکم ریاست وی
دا به واړه دروان کړم | له درتلو به معاف ځان کړم
چه په صل رنګ اعزازه | پدیر خیال له دیره تازه
را روانه هغه ماه کا | نورانی ځما درګاه کا
چه واقف پدا قاصد شه | په سجده پریوت ساجد شه
ری یٔ ای دمصر شاهَ | په انصاف روښن تر ماهَ
ځما شاه خیل وحشم | هیڅ تر دا تر لری کم
دیر وینځې غلامان دی | نه زر صل زر چندان چندان دی

سیم وزر لري بې شماره — در گوهر لري بې شماره
خو هم دا دده مامول شه — پدرگاه دنا قبول شه
نور کامیاب پهر مراد دی — پهر څه ی خاطر شادی
خدای ورکړی هرڅه ډیر دی — تر حساب تر شماري تیر دی

چه له مصره رسول راغی — التماس یٔ قبول راغی P. 48-50
دعزیز دخولی خبری — چه څه و له کبره لري
وطیموس ته یٔ بیان کړی — په تفصیل ی ور عیان کړی
له عزیزه رضامند شه — ډیر خوشحال خورم خورسند شه
هم خبره زلیخا شوه — چه حاصل ی مدعا شوه
لکه گل وه غوړیدله — په مقصود ررسیدله
خوب ی وه لیده بندی شوه — په تش خیال په خورسندی شوه
که نشاط دی که ملال دی — جهان واړه خواب وخیال دی
یو خوب وه وینی خوشحال شی — بل خوب وه وینی ملال شی
دخوبنی په خیال خورم شی — داندوه پخیال پغم شی
مردان کله داشنغال کا — چه امید پخواب وخیال کا
وه وری سپك لی گرداب — تیر شی دی خیال له خیال وخواب
پلاری جوړ دواده وکړ — تر شاهانو یٔ زیات وکړ

پزرکونو خذمت کاری — حور سرشت پریواری
همکی بسته دهانی — بادام چشمی مومیانی
دصبا تر کل تازه وی — په خوبی بی اندازه وی
چه پغاړه ی زیور وه — نه دزو دګوهر وه
دا خبره لا وار وه — هر یوه درشاه سوار وه
هم ی هونبره ډیر مره یونه — چه همه ښایسته وه نه
همکی زرین کمر وو — پر مخ ګښلی تر قمر وو
همکی واړه امر دود — صاف پر مخ پتن بی حدود
سیه چشم دلفریب وو — شکر لب وزنخ سیب وو
تور کاکل ی مشك افشان وو — پر سپین مخ یٔ را پریشان وو
پزرکونو ی آسپونه — مرصع زری زینونه
تند پوقت دتریه ولو — سست پوقت دسوریدلو
ګړه دی به تله تر عمره — جست چالاك به تله تر عمره
په ښایښت ګښی دلپذیر وو — پسواری ګښی آهو ګیر وو
وجلدی ساه بانه وو — ساه وګښلی تازیانه وو
که څرك اوښان وو — تر حساب زیات چندان وو
واړه له ښلی په اسباب وو — پرفتار ګښی په شتاب وو
په چا بار وو قماشونه — په چا باندی وو فرشونه

ځو ځو لون جواهر وو — چه په بیع کښې نادر وو
که یاقوت وو که الماس وو — زیات تر حده دقیاس وو
په صل کونو زبرجد وو — بې حساب زمرد وو
هرچه لعل بدخشان وو — لکه ستوری درخشان وو
یکښې ډیر دُرِ نایاب وو — چه روښن لکه ماهتاب وو
پیزرکونو صندوقونه — واړه ډك له مښکو وونه
پهر ځای چه ی گذر شه — هغه ځای به معطر شه
زلیخا وته یٔ سازه — کیجاوه کړه ښځو رازه
چه لرکې ی چند نېر عود وو — په سروزرو زراندود وو
مرصع وه په گوهرو — نه چه سازه وه دزرو
کیجاوه ی وه ترلې — زلیخا ی کښینه وله (ولی)
شوه ومصرته روانه — له دهسې رنك سامانه
دوه منزله به ی یو کړ — پداشان ی تك پو کړ
لوصال امیدواره — شپه وورځ تله له تلواره
چه دوصال ساعت راغی — محنت تیر شه راحت راغی
دغم شپه لاړه سحر شه — دیار وصل میسر شه
خبر نه وه چه دوراند — ځرخ به ځو فتنی وکاندی
یو اندوه به می هزارکا — ما به بی یاره دیارکا

چه ومصرته قریب شوه   مشتاق نره دحبیب شوه
ڎوك واسئهول دوراندی   چه عزیز دخبر کاندی
استقبال اره دراشی   چه حاصل ی مدعا شی

چه عزیز پدا اکاه شه   چر آفتاب جویا دماه شه   P. 50.
امرکان لکه بجوم شول   پدرکاه دده حجوم شول
چه اعیان دمملکت وو   چه ارکان دسلطنت وو
که شهری وو که سپاه وو   حاضر شوی خواه نخواه وو
هر اسباب چه دزینت وه   چه موجود هغه ساعت وه
چه ئ وینځی غلامان وو   لکه ستوری دآسمان وو
همکی پوشاك دزرو   دك له لعلو له کوهرو
همه واړه درخشان وو   کتی نشول هسی شان وو
پزرکونو مطربان وو   خوش آواز شکر لبان وو
چه به دوی سرود آغاز کړ   سخت فولاد به ی کداز کړ
چه آواز به ی دنای شه   پهر لوری به های های شه
چا به ځیر کرېبان کړ   چا به آه چا به فغان کړ
چه خروش به ی رباب کړ   عقل هوش به ی خراب کړ
چه آواز به ئ ددف شه   دزړه غم به بر طرف شه

له دهنبره ته جلَ   چه می وه و جز له کُلَ
استقبال لره روان شه   روان تن لره روان شه
لکه میاشت بخو منزله   تر آفتاب ورسیدله
خای ولید منور وه   خواره مبنبك بزك زر وو
ساکنان ی واړ کبنلی   دقدرت پقلم کبنلی
دا رونق چه عزیز ولید   دیر بهتری هر څیز ولید
ورته پاتو په حیرت شه   یو په صله ی فرصت سه
کورله آسه پبنه شان شه   وبارکاه‌وته روان شه
مقیمان ددرم واړه   په ادب هغه دم واړه
استقبال ته دشاه راغله   خواته ستوری دماه راغله
زمین بوس ی دده وکړ   بخو رنك ی زړه بنه کړ
ده پرِ هم کوهر نثار کړه   دولت‌مند ی خدمتکار کړه
تر پرسش دحال وکړ   په تفتیش ی جمع زړه کړ
ده راوړی بنه پیښکښ وه   هر متاعِ دیر دلکښ وه
څه قچری څه اوښان وو   پر رختون په شان شان وو
چه دمصر څه سوغات وه   که شکری که نبات وه
تر نظری دِد تیر کړه   پښه وجه پښه څیر کړه
که احسان ی دیر ډرکند کړ   بیای عذر چند در چند کړ

صباح گوج چه مقرر شه   شاه قرار پخپل بستر شه

P. 52.

فلك نامراد ئ   زيات ي غم لز شادی
مي پلاس دمراد ورکا   بيا تر توی هغه ساغر کا
دمراد بوستان ځرکند کا   بيا ي لار دورتلو بند کا
چه عزيز په ځاىٔ قرار شه   فراغت لکازوبار شه
زليخا شوه نافراره   له وصاله اميدواره
محبت باند غالب شه   زره ئ وصل ته طالب شه
ووائ ته ئ دا راز کړ   پټ لنور وی آغاز کړ
پکوکل کښی مي بل اور شه   شوق ي دير را باند زور شه
دافتات پخو پاره کړه   مخ ي ماوته ښکاره کړه
چه ئ وه وينم بوځله   لز مي کښی دزړه ځله
دکلونو يم مشتاق   دل سوخته يم لفراق
او که ته وی تر نمانام   زه به وه سوزم تمام
چه داىٔ لدی دا ځله   وايده پخو ځو ځله
په بهانه تر خيمی لاړه   بودم وه هورته ولاړه
نوری زر خيمه پاره کړه   وئ راشه ننداره کړه
زليخا ي وه بلله   هغه ځای وه دره وله

زلیخا ئې چه نګاه وکړ ‌‌ ښه نظرې په شاه وکړ
اه ی وکړ له درونه ‌‌ پزره ډیره شوه محزونه
چه ښخوب کښې را عیان وه ‌‌ لکه نمر مخ تابان وه
دا صورت کله هغه دی ‌‌ هغه ورځ دا لکه شپه دی
چه ی زه کړم بی آرامَ ‌‌ مجنون ی کړم بی بدنامَ
کله دا هغه بشر دی ‌‌ دا زره دی هغه نمر دی
چه ئې زه سوزم لغمَ ‌‌ یودم نه یم بی المَ
له ژړلو نه وربږم ‌‌ دباران پدود وریږم
دا مخ کله هغه مخ دی ‌‌ دا مخ غم هغه مخ سخ دی
چه ئې زه له هجر نال یم ‌‌ زړه سوری دنی مقال یم
شپه او ورځ کړم فریادونه ‌‌ غږ می زی پهیوادونه
کله دا هغه محبوب دی ‌‌ چه ځما دزړه مرغوب دی
دریغه ریغه تور بخت ‌‌ ځه دخواره کړم یکلخت
ډیر می وځکول رنځونه ‌‌ که حاصل می شی ګنجونه
خپل شامیت ما بلا شه ‌‌ په نصیب می اژدها شه
باغ نه تلم په نیت دګلو ‌‌ په امیږ دنوله ولو
په لمن م بنغ خار شه ‌‌ چه سبب می دازار شه
یعنی هغه تشنه یم ‌‌ وچه خوله سوی سینه یم

چه تل مرسته داوبو کړم ... پهر لوری تك‌وپو کړم
ناګهان له یوه ځایٔ ... اوبه وه برسنه له ورایه
ورشم ربك وبیابا وی ... چه دنمر پړاوتاباں وی
کله شنه ځما پرنك ځوك ... تیره بخت پجهان ځوك
یو شوم بیله له دیاره ... بل محروم شوم لیاره
جدا شوم له پلار ومورہ ... وه وتم له خپله کوره
بی وطن شوم غریبَ ... وصله نشوم له حبیب
ځرخ وکړه هونبره پارِ ... که دو کړی ما چار
وذوری ته می وکوره ... له اغیار می وژغوره
لامی وصل کړه لیاره ... او که نه دخدای دپاره
یو بل لاس لما کوتاه کړه ... یاځو قبض ځما ساه کړه
ما لچا چه دا پیوند دی ... محکم کړی پسوکند دی
خوښ یم که ځا می اور شی ... نه چه اوی می دخولی نور شی
پداشان به ی زاری کړه ... هم ژړا اضطراری کړه
سرځ یبنی وه په مزکه ... خواست ی کړ پدیره سکه
پر آواز وشه لغیبَ ... مبرا له شکوریبَ
چه سر پورته کړه فقیرِ ... ای دعشق پدام اسیرِ
تا به کړم مقصود حاصل ... دخپله یاره سره واصل

دا عزیز دمطلب ندی — وصیله دا دهغه دی
پیدا ایزی کار لکاره — یار مونده شی لریباره
چه کنجی دپا دموم وی — دپند ری کشاد معلوم وی
پوه به خود کوهر شناس وی — چه زر زر الماس الماس وی
په الماس سوری کوهر شی — نه په سپو نه پزر شی
لکه کل هسی تازه شوه — سرخ روئ بی اندازه شوه
خوله ی بند کړه لفریاده — زړه ی ډك دیار لیاده

P. 54. وقت دکوچ راغی سحر شه — بانګی چرك پناروسر شه
خور دستوریو انجمن شه — پغرا په تنا کوس شه
عزیز سور بخپل فرس شه — یو هوس دده په لس شه
سیاه ئ ستوری وی ماه تاب وه — روان کورته په شتاب وه
چاپره تر ِبه سپاهیان وو — پښو ئمربو زرافشان وو
داسونو ساز وزرو — مرصع پښو کوهرو
چا به کړی نیزه بازی — ښو کړی تیر اندازی
سرودیانو سرود ساز کړ — بوم ی بیا می په لرزه ساز کړ
ښه آواز چه ښه نفس وه — دخسته زړونو انیس وه
سرود هیر وزړه ته یادکا — په غمونو کښی زړه شاد کا

دغمجن سرود محرم وی　　ددرمن سرود مرهم وی
که پوصل کښی خلل شی　　په هجران عجب مل شی
هغه ځای سرود روا وی　　چه نه شاو ری نه غوغا ری
سامعان ی صاحب دل وی　　هم کامل هم مکمل وی
درست دنفس له خوی خلاص وی　　هر کرداری په اخلاص وی
او که نه داهسی نه وی　　آرویدلی ی کله ښه وی
القصه عزیز روان شه　　پهزار رنګ سامان شه
چه ی هسی صورت بیاموند　　مفت ی هنبره دولت بیاموند
پطلب ی روز وشب شی　　بطلب دخپل مطلب شی
دی خبر لری طالَ　　ترمیاڅ وری ښی دلال
دی اوده وی پکښ باندی　　ورشی زلف اویزاندی
درست لښکر هسی خوشحال وه　　په خوښی دکوچ مال وه
زلیخا ډوبه پغم وه　　سر ترپایه په الم وه
که پنور عالم هوس وه　　ددمرګ پهر نفس وه
دا وینا به ی ویلی　　پری اوښی تویه ویلی
دادی څه وکړه اسمانه　　دتا خونه شه ویرانه
نه تل هسی ستم کار وی　　دوګړی په آزار وی
خوک اوس ظالم پیا شوی　　ذیر بڅو رنګ جفا شوی

ما لتا دی څه بدکړی　　ما لتا دی څه راوری
له اول دېخوب کښی　　کړم بڅو رنك اشوب کښی
شوم بی خواب وبی آرام　　بېونان دکړم بدنام
بڅو ورځ دبندی کړم　　پوهل دد تندی کړم
ووتلم له ناموننك　　تل می سر راهه له سنكَ
هغه غم چه می دیار وه　　که هرڅو رابانډ یار وه
لیونی که چا باللم　　زه به خرسه کرزېدلم
تا بل مکر رابر سیر کړ　　ځان وساز ددوست بڅېر کړ
ماوته ځما علاج کړی　　په صحت می ابتهاج کړی
وسکه سینه دپرما وسوه　　دلسوزی دپرما وشوه
دَدی درد به می درمان کړِ　　درك به تۀ ځما ارمان کړِ
نه وم زه هسی خبره　　چه به ما کړی لاتبره
بی وطن شوم غریبَ　　هم لیاره بی نصیبَ
هم بی مور هم بی پلاره　　هم جدا لخپله یاره
پداشان زلیخا تلله　　زمزمه ی دا کوله
کیجاوه ی په تعجیل تله　　په تعجیل تر رود نیل تلهِ
لوی هلك دمصر واره　　ولاړ وو دنیل پغاړه
چا سندرِ چا بدلی　　په آهنك سره ویلی

چه عبور تر رود نیل شه — دوطن امید نهیل (سهیل؟) شه

نیل تیورو (نیورو؟) رود نیل شه — سخت پر د تر ماء نیل شه

در گوهر عزیز نثار کړه — سپین او سره ئې تر سر ځار کړه

په فقراوٌ ی صدافات کړه — تر ویل تر کمبلی زیات کړه

پدا شکر چه کامیاب شه — گوهر پورته تر دریاب شه

په نعمت چه څوك شاکر شی — لږ نعمت به ئې وافر شی

که نعمت ی زیات تر قیاس وی — زر به ورك دناسپاس وی

دُر گوهر عزیز تر گوره — په فقرا وٌ لور دلوره

غرزول په انبارونه — مردان کا هسی کارونه

مرد پورکړه سربلند شی — په تمام عالم ځرکند شیٌ

چه دمرد سخاوت نه وی — نوری هیڅ برکت نه وی

په خپل کور عزیز داخل شه — په هزار رنك خوشدل شه

سرای تخمنه دجنت وه — آراسته پنبه زینت شه

پهر ځای کښی ئې فرشونه — لون لون قماشونه

پکښی تخت وه دسروزرو — مرصع پنبو گوهرو

هر گوهر ئې رشك دنمر وه — تر نسبت ئې نمر قمر وه

زمرد که زبرجد وو — پکښی ینبی زیات تر حد وو

زلیخا وته ی ساز کړ — پناستی ئې په اعزاز کړ

زړه تر ځو غموزو لاندې — لاچار کښيناسته پر باندې
ژن ې روغ پرزړه دننه — سر داور لنبو واهنه
زرين تخت وربانديِ اور شه — هريو لعل وربانديِ سکور شه
دغم اور چه پرزړ بل شي — هر هوس پکښي ځل بل شي
که په سير دګلزار ځي — هريو ګل ئې پرزړه خار ځي
که ې ګښت په لاله وي — لاله زار وربانديِ نار وي
سيب خنظل وي پرغمجنو — اوبه زهر پر دردمنو

P. 57. چه مين په دلآرام وي — په بل څه ې څه آرام وي
نمر که هرڅو درخشاندې — جهان درست پره روښاندې
پهر ځاي دده انوار وي — دپه ننګ باندې څه کار وي
دوه زړه شي هله جمع — چه مجلس ته راشي شمع
هر نعمت کيږده بلبل ته — ترِ به واووزي وګل ته
پهر ځائ چه بوئ دګل وي — پهغه لوري بلبل وي
سمندرته اور ګلزار وي — په ګلزار دده څه کار وي
که مکان بهښت اثر وه — زليخا وته سقر وه
مهيا ورته دولت وه — بنه ئې شان سه ئې شوکت وه
که نعمت ئې هرڅو ډير وه — پيِ زهر يا کنه ځير وه

که عزیز عالی مقام وه　　زلیخاونه غلام وه
شی شی وینځی پرستاری　　پخدمت ی وی تیاری
هم یٔ هسی رنګ مره یونه　　ملا تړلی وو زرکونه
همکی صاحب هوش وو　　سیمونن او مهین پوش وو
سر تر پایه پرېوار وو　　مع الثوب ددشین کار وو
هم دمصر ناو جونه　　چه آفتاب ی وو مخونه
شکر لب پر طرب　　چه یٔ کار وه هوس لرب
تل به تول و پرباندی　　که مجلس رلسره کاندی
په ظاهر به یٔ خندا کره　　په باطن به ی ژړا کره
که هرڅو به خندیدله　　هم له شرم موسیدله
په خندا کښی عجب ویر شی　　که دانا سړی پر ځیر شی
هم پویر هم په سرود کښی　　یار ژاړه شی پهر دود کښی
درسته ورځ به یٔ داکار وه　　دایٔ زیست دایٔ روزکار وه
چه نماښام به غروب نمر شی　　نور به تل پر اختر شه
دیار خیال به یٔ حاضر کړ　　پری سود دخپل خاطر کړ
په هجران کښی به څه غم وی　　چه ی خیال دیار هم دم وی
پفراق چه زره پایمال شی　　تسلی دیار په خیال شی
زلیخا بخیال دمه کره　　مشغولایٔ هره شپه کره

لژوا به ئ ساز ساز کړ   دا بیان به ئ آغاز کړ
ای ڎما دزړه مقصده   ما په وصل کړه خشنوده
چه ښخوب دمخ عیان کړ   مانه مصر تا نشان کړ
تا ومانه ڎان عزیز کړ   ڎکه ما ئ ڎان کنیز کړ
تا خدای تل عزیز لره   ما تل ستا کنیز لره
ستا پنام راغلم لکوره   زړه می دک دعشق لاوره
ول نه نو دا بل شه   غم لازیات ڎما ددل شه
نه کرم راباندی وکړه   پوصال می خاطر ښه کړه
پوصال م خاطر باغ کړه   ورك ڎما له دله داغ کړه
مخ ښنکاره کړه شه نر ماه   چه دوینڎه شم ای شاه
دهجران طاقت می طاق شه   دیر دسخت پا فراق شه
چار می هیڅ نده معلومه   چه دلسوز به ی نر کوم
ڎو به ما لری مهجوره   ای ڎما دسترکو نوره
دا خبره ریښتیا وایم   دوصال پطمع پایم
که امید ڎما دا نری   نور ژوندون بویه چه نوی
نه په خپل میثاق واثق ی   نه پخپل قول و صادق ی
تا پخپل لما ستړی   دوصال وعده دکړی
بوه ورځ به مخ ښکار کړ   ڎما غم به آواره کړ

پوعده دروغژن نه ی　　لباسی مکر جن نه ی
امیدواریم لوصله　　ای نیک زاده نجیب اصله
تر صباح به ئ دانال کړ　　غمګین زړه به ئ خوشحال کړ
چه پوقت دسحر خیز شه　　په ګلزار به ګوهر ریز شه
دی به راز وایه لباده　　خوږ سینه به ی کړه شاده
پریږ رأیشه نسیمَ　　ګښت دوَیْ ښما پسیمَ
ته دمه دخوږ خاطر ئ　　دمهجور عاشق شاطر ئ
لهوا ده سلام راوړی　　بیا دوصل پیغام راوړی
ګل دتا پراتله واشی　　بلبل تاته پدعا شی
دغم جنو غم ګساری　　پیغام وړی راوړ زیباری
درسته شپه بیمار اشوب کا　　سحر ستا پراتله خوب کا
ترما ګله ښوك بیمار شته　　خوار ترما ګله ښوك خوار شته
خوږ می زړه دی داوارکی کړه　　غم می دیر شه غمخورکی کړه
دهر ملك په لوری دروی　　لهر چا نه خبر مومی
هیڅ به هسی کشور نوی　　چه به ستا پر ګذر نوی
که ښوك ورکا لتا پوری　　ته پیدا کړ لار نوری
دا ښل مهر پیا وکړه　　ګښت ښما دپاره ته کړه
چه دملك شهریاران دی　　خواه شاهان خواه وزیراندی

پوهه‌و گذران شه ‌ ‌ ‌ ‌ ځما شاه ځواره جوبان شه
هم په باغ هم په کوه سار کښی ‌ ‌ ‌ ‌ هم پسینډ هم پرودبار کښی
نڼ پو وکړه یو ځله ‌ ‌ ‌ ‌ نه یو ځل بڅو ځو ځله
کنډی دی چه هغه سروی ‌ ‌ ‌ ‌ چه خرام کاندی تدروی
په نظر دی چر را شی ‌ ‌ ‌ ‌ چه حاصل می مدعا شی
هر شپه به یٔ داشان وی ‌ ‌ ‌ ‌ داستانونه دهجران (وی)
چه پوقت دنمر ختو شه ‌ ‌ ‌ ‌ دیار خیال به یٔ تر پښو شه
بیا به دوب شوه پغم کښی ‌ ‌ ‌ ‌ نور پورځ داپ تورتم کښی
دصورت په بیمار شپه وی ‌ ‌ ‌ ‌ چه تر ورځ لادره نه وی
چه بیمار دمحبت وی ‌ ‌ ‌ ‌ بانډ درسته شپه صحت وی
عشق بازی دیار له خیاله ‌ ‌ ‌ ‌ خیال کم ندی لوصاله
زلیخا به تر نمانبام ‌ ‌ ‌ ‌ مجلس جوړ کړ لناکامَ
که هرڅو وه وربانډ سختَ ‌ ‌ ‌ ‌ بیا به ورغله تر تختَ
که هرڅو پزړه چوړ جوړ وه ‌ ‌ ‌ ‌ پر به ناسته په ضرور وه
زلیخا پری مناله ‌ ‌ ‌ ‌ پداشان وه پڅو کاله
خبر داری پحال حق وه ‌ ‌ ‌ ‌ دوصال امید رمق وه
ورته پانو پر زنده وه ‌ ‌ ‌ ‌ هم لیاره شرمنده وه
چه بی تا پایم مینه ‌ ‌ ‌ ‌ بم دمینی دروغژن

څه کړم حکم دقهار دی   مرگ دهرچا په خپل وار دی
که داهسی حکم وی   دیر مین بویه چه مړه دی
پس کړه ای عبد القادره   نور څه هېر کړه له خاطره
چه دعشق خبری زا شی   ستا دزړه طوطا گویا شی
که خبری دوصال کړی   کاه له هجره قیل قال کړی
کاه دزړه له سوزه وائی   عاشقان رینبتینی شائی
دعشق هونبره ویل ندی   چه ادا دچا په خله دی
خو همت پکار کماره   چه یار وری شی تر یاره
زلیخا وه پاتم کښی   دغونو په تورتم کښی
لابه کله له کنعانه   هغه میاشت راشی تابانه
چهٔ شپه دغم رنړا شی   په خندا په هوس بیا شی

دگفتار سخن سنجانو   داستان هسی کړ دوستانو   P. 60.
چه یوسف تر ورونړو خوب شه   زیات پر مهر دیعقوب شه
دیعقوب نور الابصار شه   تر همه ورونړو رویدار شه
کهٔ زوئ صد هزار وی   خو بیا یو لیمه دپلار وی
که هر یو دپلار جگر وی   کله واړه برابر وی
که مین پولړو دیر وی   خو بیا یو وزړه ته نیر وی

ځو دزوی شه خصلت وی — پرئ هونبره محبت وی
ذوئ خصلت دېو ځو هنبره — شفقت وربانډ ځو هنبره
که فرزند دنوح کنعان وه — کله دی پری مهربان وه
چه دپلار پخصلت نه ی — دپلار زوی کله نه یٔ
چه له پلاری تبرائی — ناقابل زوی دچائی
چه یوسف پخوئ دپلار شه — تر همه ورونړو روی دار شه
پلار پده مین بی حد شه — هر یو وروری پحسد شه
دیعقوب کره وه ونه — چه صفت یٔ هسی ونه
چه به زوئ دده پیدا شه — تر به نوی شاخ جدا شه
چه دزوی قدی هنبره — هغه شاخ به لوئ شه هنبره
چه بالغ به یٔ فرزند شه — امتیاز به ی ځرکند شه
هغه شاخ به یٔ جدا کړ — دفرزند به ی همسا کړ
بی یوسف چه عالی وه — دیر عالی متعالی وه
هونبره بخت دونی نه وه — که هر ځوی اصل سه وه
چه تر ښه ځانکه پیدا شوی — دیوسف دلاس همسا شوی
پت یوسف لورونړو پلار ته — وه و عرض وکړه جبارته
چه همسا دجنت را کا — ما ممتاز پداد عطا کا
سرفرازی په همسا شم — تر همه ورونړو والا شم

دیوسف دزړه دپاره	یعقوب وه وکردکاره
قبلوونی ددعا ئی	زړه ساتونی دهر چا ئی
ویوسف ته له جنت	په همسا کړه عنایت
له سدرِ جبرائیل راغی	پټلوار په تعجیل راغی

بوه شپه یوسف اوده وه	سترګی پټ دیښ پزړه وه	P. 62.
عام عالم وته اوده وه	پاس په عرش پرواز دده وه
ناګهان پخندن سر شه	په حیرت ورته پدر شه
چه داهسی کلك اوده دی	دخندن سبب ی څه دی
پس لخوب چه بیدار شه	په بستر کښیناست قرار شه
له چشمانو ی خوب لار شه	په ادب پلار ته ولاړ شه
دپلار حکم شه پرباندی	کښینه ته څما دوړانډی
که هر څوی دیر ادب دی	امر فوق تر ادب دی
یوسف کښیناست بخضوع کښی	بخضوع او پر خشوع کښی
یعقوب وو ای پسره	تر همه زویو می غوره
چه بخوب کښی کلك اوده وی	پخندا وایه پڅه وی
دخندا و څه سبب دی	دخندا موجب عجب دی
وئ خوب می لیده پلاره	مشم بیل ستا له کناره

نر سپوږمی ستوری یازده وو   چه ومانه پسچړه وو
پلار ی وه وی زنهار زوبه   پت ول دَدِ خوب بویه
که دورونږو پرِ خبر شی   په فکرت به ستا دسر شی
دَدِ خوب تعبیر روښن دی   هر یو ورور لتا دښمن دی
چرِ نه چه دآزار کا   پرِ ښما خاطر افکار کا
یوسف وُوِ یوه تن نه   چه نژدی وه دده من نه
دده ورور نه هغه وه وِ   ویل ورور نه هغه وه وِ
دا خوب وامرونه ښرکند شه   وران ددری دتدبیر بند شه
که هرڅو سری تدبیر کا   په تدبیر خدا تقدیر کا
سر چه تیر شیٔ تر دوه تنه   دا وینا ده مبرهن
هغه سر تر ډیر دور شی   په تمام جهان ښر شی
سر من جاوز الاثنین   شاع قد فی الثقلین

یو حکیم چه دانا دل وه   حل کوونی دمشکل وه   P. 64.
هغه شرع داثنین   کړی وه دشغنین
راز بیرون چه تر دولب شی   په ملك فاش پدا سبب شی
دا ویل می دهوښیار دی   دهوښیار تجربه کار دی
که نه سر سانی ای وروره   سر له غیر خلق ژغوره

دهوښیار دخولی دا پند دی — سر له سر سره پیوند دی
چه پټ سر څن اظهار شه — دیوانه منصور پدار شه
دیوسف په خوب چه ورونږه — بو څله خبر شوونه
غصه شوه وواړو دیره — شوی بله لزوه وهیره
خو په فکر دیوسف شول — شپه اورځ په نه اسف شول
پلاروم روغ که لیونی شه — یا په کالو لرغونی شه
کار څموږه ورته سپك شه — ورونډو ده ته دا هلك شه
کله څوك په کشر مینه — تر فرزند مشره کوینه
په ورو وروی سر بلند کړ — تر موږ واړوی څرکند کړ
لا پرا نه بس کوینه — ویل پیش وپس کوینه
ویوسف ته دا ویل کا — دی پرا ویل خوش دل کا
چه یو هسی وقت به کښیوزی — پسجده به درته پریوزی
واړه ورونږه مور وپلار هم — نه ښائی هونبره پندار هم
که بهتر دپلار خذمت دی — موږئ کړی هر ساعت دی
درسته شپه ی څوکیدار بو — پورغ کاروته طیار بو
هم څموږه لقوتَ — په غلیم دی له نصرتَ
ددوستانو ی خذمت کړو — نل یٔ خوش پضیافت کړو
موږ کوم بد یوسف کوم نه شه — پلارته به تر موږ بچه شه

روغ دی اوس چه څه چار کړو　　دی له پلاره آواره کړو
چه لالوی ندی هلك دی　　هر علاج ی موږته سپك دی
شاخ دونی چه تنکی وی　　په کولئ دشوارکی وی
پرا فکر سره تول شول　　نفس تر عقل یووړ کنج کول شول
مشورت ئ ددی کار کړ　　هیرئ حق دوروړ وپلار کړ

هر سړی چه خردمند وی　　دده کار به تل پسند وی　　P. 64.
مشورت ددانا کار وی　　مصلحت دخبردار وی
چه داناته پښ بوکار شی　　چه تمام ئ په افکار شی
دیر فکرونه سره یار کا　　سرانجام دهغه کار کا
دیوه چراغ له نوره　　دا وینا وه مشهوره
دیر ددیر دشمع نور دی　　درست انګړ لنوره پور دی
چه زیاتیږی مشعلونه　　نور تر مومی محلتونه
مشورت دهغه بنه وی　　چه ی نیت دبدی نوی
غله چه کښینی مشورت کا　　چه دچا خونه لت بت کا
دابیر کله تدبیر وی　　دشیطان مکر تغریر وی
لږ اور وه لکی پخونه　　دیر شی وه سیزی ښهرونه
چه داور لنبی زیاتیږی　　خرابی دجهان کیږی
دبدانو په وورونه (؟)　　ورانه وی ودان کورونه

دیوسف ورونړه بوځای شول ‏ مستغر به خپل رای شول
بوه وه وی مرګ بوبه ‏ دا فتنه ده هرکور بوبه
خلاص به هله ځنې شونه ‏ چه ئې بوځل وه وژنونه
که ژوندی پدا دنیا وی ‏ دی به موږ لره بلا وی
هم به پټ ځموږ راز شی ‏ له مرده کله آواز شی
بلِ و کله دا انصاف دی ‏ ځموږ زړه له قتله صاف دی
ځوك چه قتل بی ګناه کا ‏ مخ تر خدایه پور سیاه کا
ناحق مرګ کله روا دی ‏ دکفارو خصلت دا دی
مصلحت ئې نه مړه‌ول دی ‏ مړه ول څه چه نه وهل دی
خو خو غرض ئې ورکیدن دی ‏ نه کشتن نه ی زدن دی
لدی ملك په مهجور شی ‏ دخپل پلار له څنګ دور شی
پس حاصل ځموږ مقصود شی ‏ کار ځموږ په بهبود شی
بلِ و فکر ځما دا دی ‏ که صواب دی که خطا دی
چه ی واچه وو به چاه کښی ‏ چه کندلی وی پراه کښی
کندوی کاروان پرِ راشی ‏ په کوهی کښی ورغما شی
راڼی وه باسی له چاهَ ‏ دی دیر کښلی دی تر ماهَ
خرڅ ئې ول نه ئې روان که ‏ خرڅ ئې چرته ګران ارزان که
هم به موږه خلاص لره شو ‏ هم قاتل به دده نشو

هم به دی په بل دبار کښی ‌ ‌ ‌ ‌ ځوندون کا په خپل روزکار کښی
دا تدبیر وارو پسند کړ ‌ ‌ ‌ ‌ ځوکډی پسوکند کړ

ځوان مردان هغه کسان دی ‌ ‌ ‌ ‌ چه نیك نیت فیض رساندی P. 65.
خلاص دی دوی دنفس لکیده ‌ ‌ ‌ ‌ هم دبل خصلت له قیده
په کردن دنور و بار وری ‌ ‌ ‌ ‌ آزار به اخلی ازار وری
پښه نیت ځملی پاخی ‌ ‌ ‌ ‌ دعالم پهوس ناخی
تل دبل پغم غمجن وی ‌ ‌ ‌ ‌ په ښادی دبل ښادمن وی
مصفای تل سینه وی ‌ ‌ ‌ ‌ نه حسد نه یٔ کینه وی
دیوسف کینه کش ورونره ‌ ‌ ‌ ‌ چه دده حاسدان وونه
چه شپه تیره شوه بیدار شو ‌ ‌ ‌ ‌ پخدمت روان دپلار شو
دوی و پلار ته سلام وکړ ‌ ‌ ‌ ‌ پښه شان ی اکرام وکړ
نور ور دکلام باز کړ ‌ ‌ ‌ ‌ هر یوه مزکور آغاز کړ
په آخر پدا مقال شوو ‌ ‌ ‌ ‌ ناست پکور کښ دیر ملال شوو
که پلار حکم کا صبانه ‌ ‌ ‌ ‌ موږ به ووزد (ووزو ?) و صحرانه
دصحرا سیل به وکړو ‌ ‌ ‌ ‌ ملال زړه به ځخو سنه کړو
یوسف هم راسره مل کړه ‌ ‌ ‌ ‌ صباح دی له ښانه بیل کړ
دی هم دیر خواش لرینه ‌ ‌ ‌ ‌ چه لموږ سره ځینه

وقت دګلو دبوهار دی — ملك درست سره ګلزار دی
رنګارنګ ګلونه وادی — ښه تر باغ دصحرا دی
پر آواز بلبل کاندی — هم سینی مزی پر باندی
سیل ښه دی ګله ګله — اندوه وباسه لږله
یعقوب وه وتاسی دروبی — دصحرا خوښی بیا مومی
یوسف مه بیائی لمانه — دا وینا ده بیا ګرانه
یو ساعت چه یوسف نه وی — موشوش می پس زړه وی
ویره کرم چه دی خوردسال دی — خود ښکاره دده احوال دی
کم قوته دی بی زوره — کم وتلی دی له کوره
تاسی ورونړه به ښکاره شی — په خپل ښکار به ګرفتار شی
دی به وه باسی لږله — تر به واره شی غافله
زوړ لیوه به غابس پر تیز کا — نازك تن به یی ریز ریز کا
دوی و ای څموږ پدره — مهربان مشفق تره
څه لیوه څه ی قوت دی — دمزری ګله قدرت دی
چه لموږ به برابر شی — بیا به روغ سر غار ور شی
دوی چه کړی هسی لاف وه — یعقوب خود پزړه کښی صاف وه
تیر تر خپلی مدعا شه — دیوسف په تله رضا شه

P. 67. آه فغان فریاد فریاد — ددوران له لاله داد

ښایسته بشر پیدا کا — ببای بند دغم په چاه کا

چه یوسف ورونړه روان کړ — پرئ مهر پښان شان کړ

په نظر چه دیعقوب وه — دهمه ورونړو محبوب وه

چا به پاس پخپل دوش کړ — بل یوه به تر آغوش کړ

په نفاق ی بڅو رنك — مینه کړ دپلار دځنك

چه داخل ی په صحرا کړ — له پدرئ جدا کړ

پټ نفاق ی ورجکاره کړ — دپلار حق ی اواره کړ

له اوړوی یوسف پربوست — بی انصاف دتر میاغ کښیبوست

هر یوه څپیر ورکوی — چه پلار نه تر موږ بهتر کوی

موږ به تاونه سجده کړو — سر به تاته افکنده کړو

بل به وه واه پلټ — همسا نه له جنت

پلار راوه خبنته له خدایه — پلار وچر وی اوس وایه

چه لموږ دنجات وکه — ستا خاطر په نجات نه که

لور دلوریه به واهه شه — دزړه سوی هیڅا پر نشه

چه ئ دیر واهه پزورنه — ده فریاد وکړ هر ورورنه

چه دخدای دپاره وروره — که زه بدیم پلار نه کوره

خلاص می کړه لدی وهلو — نوان می نشته دزغملو

دبه تیلواهه له ځانه　　پناه غواړه له بل چانه
دی به ورغاست وبل وروړ ته　　بل به لاواهه پزورنه
چه ستم ورباندې زور شه　　دامن گیر دهر یو ورور شه
فریاد رس ئې هیڅوك نشه　　نا امید له هر یوه شه
پژړای وینی ته للی　　دا وینا به ی ویلی
دریغه دریغ څما پلاره　　خبر نه ئې لې کاره
چه می ورنږه غلیمان شول　　دوئ بلا څما بځان شول
پوهل می خوږ صورت کا　　له سر وینو می لت پت کا
کنبلی مخ می خون آلود شه　　پوهل می تن کبود شه
لکه وردنږه ځما کاندی　　نه کا څوك په غلیم باندی
په احوال می خبر نه ئې　　که راضی دخدای په کړه ی
اقربا رانه عقرب شول　　راضی من می په تعب شول
هر یو ورور راباندې مار شه　　راضی من می په آزار شه
نه ی نرس دکردګار شی　　نه ئې شرم لتا پلار شی
پوهل می زخمی مخ کا　　بیا له پسه خاندی سخ کا
پوهل نږ تل بی درنك　　دی بوت پدر فرسنګ
چه پلار کښی ناګاه　　برابر شوو دوی له چاه
چه نږ نوی شپې لانور وه　　هم دمار دلږم کور وه

په عمیق هونبره عمیق وه — چه یٔ کړان دهل تحقیق وه
دبخیل تر قبره تنګ وه — په تنګ والی هسی رنګ وه
تر جدایٔ پیراهن کړ — برهنه یٔ دده تن کړ
په رسن ی یوسف بند کړ — دوی پر خپل خاطر خورسند کړ
اوېزاند کړ وچاه ته — دی تسلیم شه والله ته
دنیکه غوند تسلیم شه — ځکه خلاص له هسی بیم شه
دکوهی پوبخ کنبی سنګ وه — لکوهر سره همرنګ وه
تر همه کانړیو نیك بخت شه — چه دکښلی یوسف تخت شه
دکوهی اوبه و شوری — چا به نخښی کړ نوری
چه پر تر دده پښی شوی — په لزت تر قندو ښی شو
هم دده دمخ له نوره — تیاره شوه له کوهی دوره
له وینښتوی چاه خوشبو شه — بدبوی لړ لاٰوبو شه
چه یٔ مخ پکښی تابان شه — مار لړم دچاه پنهان شه
یو تعویذی وه پغاړه — چه تر ځار شه دنیا واړه
په تعویذ کښی ی پلار ښی — قمیص وه تر ورونړو کښی
چه خلیل نه له جنبت (جنت ؟ — له هزار هزار رحمت
خپل ځښتن وه راستولی — یعقوب وه هغه ساتلی
لسدری جبرائیل راغی — په فرمان دجلیل راغی

په یوسف راغی حضور شه کوهی نور علی نور شه
را برتیری پیراهن کړ پرئ پت پاکیزه تن کړ
وی خوښ اوسه غمجنه غم دی ورك شه پس له ننه
حق سلام پنا ویلی هم پیغام پتا ویلی
چه غم لر کړه خوشحال شه په ثنا (1 دزالجلال شه
ستا دنیه په اخر واره ستا فرمان ته کیږدی غاړه
همکی په شرمنده شی منفعل سرافکنده شی
دوی به درولم ستا پینوته امیدوار دنا وشوته
چه یوسف یوسف لد خبری هسی وارو د نادری
شفکته پزړه تر کل شه غم ی لا ړله دله کل شه
هغه کانړئ تخت کاه شه خوش خوشحال کښیناست پر شاه شه
جبرائیل ی مصاحب وه پر احوال ئ مراقب وه

مبارك هغه کاروان وه پینبی ورغ را روان وه P. 70.
چه له دلهوئ ناکاهَ ښکاره شه کښلی تر ماهَ
پوره در ورغ نه زیات وه یوسف پچاه کښی پات

1) ذی الجلال

څلورم ورځ له چاهَ　　وخوت ورغی تر جاهَ

له مدینې نه (ته) یو کاروان وه　　چه ومصرته روان وه

چه په تله ستړ مانده شه　　پکوهی باند دیره شه

یو سړی سعادت‌مند وه　　چه تر نورو بخت بلند وه

وکوهی ته یِ ئ ته کل کړ　　تر همه و ده اول کړ

دکوهی پلوری لاړ شه　　له دیرینه زر ولاړ شه

وکوهی ته ی په بیوه　　ویاست کړه له بوکی وبره

بس الله وه ویله　　نور دلوه واچه وله

چه ی پریښو پلډ نیژه　　پوك ورغله په تیژه

جبرائیل وه و یوسف　　خلاص شری اوس له تاسف

لك بدر پهاله کښې　　هسې کښینه په بوکه کښې

له کوهی نه (ته ؟) مخ عیان کړه　　په خپل نور جهان روښان کړه

ظلمات لدنیا دور کړه　　بیای سر له سره نور کړه

یوسف پاڅیده بی درنګ　　په پوکه کښې شه له سنګه

هغه مرد چه توانا وه　　هم پعقل کښې دانا وه

چه بوکه ی وڅکوله　　وه درنه زرنه خنله

وئ بی اوبو نور څه دی　　په بوکه کښې چه برانه دی

په اوبو به بوکه کله　　درنه هسی راځلته

په وروی چه پزورته — بوګه وښکوله پورته
په نظر ئې ناګهانه — هغه میاشت راغله نابانه
هغه مخ چه ورغله شه — پنارود یا بشرا شه
دخپل حق ثنای کړله — بیت ئې وروست تر منزله
زری وسپاره په ملونو — سادو (ساوو؟) غلا وکړه له غلونو
دا ویل ددانشور دی — پته ولی دګنج بهتر دی
چه پټ نه لری ګنجونه — عاقبت مومی رنځونه
دذهاب رو ذهب دی — پته ول دبل مذهب دی
چه دا در یواره ځرګند کا — خود پخود به ځان ګزند کا
دیوسف حاسدان ورونړه — په نیژدی دکوهی ووته
دکاروان پحال آګاه شول — چه دیره نیژدی دچاه شول
پوشیده راغلهٔ تر° چاهَ — چه پحال ئې شوو آګاه
ویوسف ته ئې ندا کړه — په کوهی کښې ئې بیا بیا کړه
هیڅ جواب دندا نشه — بل آوازی صدا نشه
پهر ځائې جست وجو کړ — پهر لوری تکوپو کړ
پطلب ئې دوی روان شول — هم پلوری دکاروان شول
جلدو جهدی دیر وکړ — په موندلی خاطر بنه کړ
وئې دا ځموږ بنده دی — پخدمت سرافکنده دی

نور دهر هونر لائق دی — عيب دا لری ابق دی
ښه که هرڅو پخزمت دی — بد چه تيښت دده عادت دی
چه خوی بد دخانه زاد شی — پای بيع يا آزاد شی
په بها به ی زوه ښاد کړو — نش زوه چه ی آزاد کړو
هر غلام چه بد مزاج شی — خرڅول دده علاج شی
هغه کس چه وه وکښلی — له کوهی نه هغه کښلی
پمالك اسم موسوم وه — پښه خوی خصلت سلوم (بيلوم ?) وه
هم هغه دده خريدار شه — وبهانه ئ اعتبار شه
مالك هسی رنك کمان کړ — چه به کران وی دوی ارزان کړ
ورونرو دبر پقدر کم کړ — خرڅ ئ دی پڅو درم کړ
که يوسف دحسن نمر وه — دوی ته نور تر ماکنسر وه
که هرڅو پحسن ښه وه — منکرانوته ليوه وه
يوسف در قيمت بها وو — دوی ته کانړی بی بها وو
جوهری زده په جوهرو — څه غرض داهن کرو
دده قدر په يعقوب وه — چه دی خوب وه يعقوب خوب وه
جنس وجنس‌وته پرواز کا — زاغ وزاغ ته بازته باز کا
دهوس مالك مالك شه — غم ئ کل لزوه هالك شه

P. 72.

چه ی بیامونده بی رنځه غنی شه له هسی گنج
لېږدی وکړ لهوس یو هوس ی شه په لسّ
په تعجیل کاروان روان شه هم ومصرته پوبان شه
چه په مصر کښی داخل شه دصفر (دسفر) کوفت ی زائل شه
پښه ځای باندِ مقام شه باری کرز کړ په آرام شه
غوغا کړه شوه پښهر مصریانو و په جهر
چه مالك سودگر راغی وریسره یو پسر راغی
پښایست کښی سیال نشته په جهان ی مثال نشته
چه تر نمری زیات نور دی دا بشر کله دی حور دی
نمر سپوږمی چه هسی ښوری کښته پورته جهان گوری
یودم نوی پقرار کښی گزر کا پهر دیار کښی
دوی به هم داهسی کښلی په جهان نوی لیدلی
کړی په سهر دا خبر شه په هر لوری منتشر شه
په آخر بادشاه دمصر خلق کړ آگاه دمصر
له غیرت پیچ درپیچ شه ورنه مال ودولت هیڅ شه
وعزیز ته یٔ فرمان کړ وکاروان ته یٔ روان کړ
چه ته ورشه هغه ماه ته را روان ی کړه درگاه ته
چه یٔ وکورم په خپله وسواس وباسم له دله

چه ی هسی شور وشر دی   فرښته دی که بشر دی
په تلوار عزیز روان شه   چه نظری په کاروان شه
درست کاروان لنوره دك وه   په حیرت عزیز دك بك وه
هغه مخ پدور نمود شه   ورته پر بوز لسجود شه
یوسف پورته دده سر کړ   دا تلقین ورته زبر کړ
روی خدای وته سجود دی   چه دکل مخلوق معبود دی
بی له خدایه وبل چانه   سجده مکړه غوږ کړه مانه
عزیز کښیناست پقرار شه   لمالك طلب کار شه
چه یوسف لما سره کړه   لزړه لر وسوسه کړه
زه بادشاه یم راستولی   شاه حضورته دی بللی
چه ی ورولم یو ځله   بیایٔ راولم په ځله
مالك وه ویل بهتر دی   ستا وینا قبول په سر دی
ول ستړی یو راغلی   دسفر محنت وهلی
په جامو په تن (تن) خیرن یو   دسفر پکرد گرد من بو
• در ځلور ورځی نه دېری   چه شی پس له ننه تیری
ورشه وه وایه بادشاه نه   موږ به دری شو درگاه نه
عزیز وره‌ځی تر شاه   پدا حال ی کړ آگاه
دیوسف صفت ی وکړ   مشتاق تر دشاه زړه کړ

وُو شاه چه څه نكار دي   چه په مصر کښي اوڅار دي
که دلبرِ که دلبر دي   چه پحسن مشهور تر دي
پښمه زينت سره دراشي   ودرکاه‌وته دِراشي
چه دل هونبره کښلی تول (سور .I) شي   هر خريدار به ځِن موړ شي
له قلت شاع کران وي   په کثرت سره ارزان وي
که ي کان چهر جبال وي   کران په کانه هسي لال وي

ځلورم ورځ چه نمر   په آسمان ښکاره کړ سر   P. 73.
دعنبرو بازار وران شه   په کافور بيا ودان شه
بوستان ځاي دميغون باز شه   راغ له زاغ په پرواز شه
ويوسف نه مالِك وه وِ   ده به نغتل چه څه ده وِ
چه څه دلان ۀبو په نيل کښي   دير کردمن يو په سبيل کښي
آب روئ ونيل ورکړه   پښمه بوئ معطر کړه
عاقبت دواړه روان شول   ودرياب ته شتابان شول
کوز له سره ي دستار کړ   درست جهان ئ پر انوار کړ
چه بر بندي کښلي ځان که (کړ؟)   نورئ نمر پاس په اسمان کړ
بمنی ځادري لنك کړ   لنبدونه ي آهنك کړ
چه ئ پښي په اوبو تر کړِ   څو ښادي ونيل ورکړِ

له اوبو لاره سیاهی شوه   ورخ روښن په ماهی شوه
په پریوتو ئې سیند صفا شه   در گوهر پکښې نما شه
چه ئې وای پکښې څان گل کړ   دماهی اغزئ گل کړ
چه ئې شونډې پکښې تر شو   اوبه شوې یا شکر شو
چه ئې ډوب په اوبو تن کړ   سیندې درست سره گلشن کړ
له عرق وئ اوبو   دگلاب واخست بو
چه غوټه ئې پاکښې سر کړ   مخ آب و گوهر درکړ
په سرخی ئې دلبانو   سرخ روی شوه دمرجانو
په سنت ئې غسل وکړ   چرك ئې لر دتن نه کړ
چه راوه وت لدریابَ   دریاب پاتو شه بی آب
پفراق ئې رود نیل   جامې ډوب کړې په نیل
لژړا ئې په کنار   څائې په څای شه چشمه تار
مخ ئې شین کړ پوهل   دغم نیل ئې په مخ ممبل
دمانم ئې دا دلیل دی   چه موسوم پرود نیل دی
چه محروم ئې دوصال شه   ماهی بی تیغ حلال شه
چه جدا تر گلزار شه   دماهی په نصیب خار شه
تل په سر په سینه دروهی   که هغه ساعت بیاه وهی
چه له وصل ئې محرمان شه   لرمون وینی دمرجان شه

چه ی بخر په نصیب شه   ځکه در هیر غریب شه
ویوسف‌ونه مهین   مالك راوړ ای سپین
سپین په سپین مر یو زیبا شه   نور په نور نورانی لاشه
تاج ی زیب اسره (لسره ؟) بیاموند   میاشت نور له نوره بیاموند
کمربندی چه تر ملا کړ   نورانی ی کمر لا کړ
دواړه زلف ی پریشان   په شانه کړ بڅو شانه
په سپین مخ باندِی کج کړ   په خلیل دی عوج (؟) کړ
تر حلقوی رخساړونه   ښکار بده لکه کلونه
پدا هونبره محبوبیٔ   په انواع انواع خوبیٔ
په هزار رنك جاوه کینی   کښیناست دری په کجاو کینی
دشاه قصرته روان شه   پرفتار کینی شتابان شه
هرکور دیر چه ازدهام وه   جوړ دباند خاص وعام وه
تخت له قصر بیرون یبنی   بادشاه ناست وه باند کوش (کوښی)
تر چاپیر دمصر کینلی   ولاړ وو واړه پسندلی
چه هر یو انکشت نما وه   دهرجا پزړ کینی ځای وه
همکیٔ قبول صورت وو   مستثنی په لطافت وو
دیوسف کجاو راغله   نهایت ښایٔست آغله
چه ی قدری مسکین وه   دمکان هونبره تمکین وه

چه دده حضور ورځ وه　　په آسمان توره ورځ وه
نور له شرم تر اورو　　پناه کړی وه خپل رو
مالك عرض يوسف نه وکړ　　امر حکم ی پر نه کړ
وو خلق انتظار دی　　مشتاق هر يو ديدار دی
له پردنه مخ څرکند کړه　　پديدن ی ارجومند کړه
بدرنك بنه وی مخ پوشلی　　بی نقاب بنه وی کښلی
يوسف غوز دده په پند که　　مخ ی خلق ته څرکند که
دهودج څادری دور کړ　　درست جهان ی سره نور کړ
دوکړی دا کومان شه　　چه له ابر نور عيان شه
وارو پورته چه نظر کړ　　بنه ی ځير په ستر کر نمر کړ
نمر لاهسی رنك مسطور وه　　درست آسمان له ابر پور وه
له يوسف نور ظهور دی　　وارو وه و چه دا نور دی
وا دده دمخ اثر وی　　چه جهان پر منور وی
دنمر نور کدازنده دی　　دمخ نور نوازنده دی
ناظران واړه حيران شول　　پهر لوری په فغان شول
چه يا رب العالمينَ　　کل ثنا پتا بنائين
دا فرښته دی که بشر دی　　چه ی نور له مخ نور دی
مصريان کښی خجل شول　　پعالم کښی منفعل شول

چه طلوع دآفتاب وشی — سپوږمی ستوری لید و نشی

چه آفتاب عالم څرګند کا — واړه ستوری کا عدم کا

چه وجود به سها وی — چه تر غږی سها (رسا دترسا ?) وی

همکی دمصر ښکلی — له حیا شول مخ پوښلی

له حیرت پخله لال شول — ګویا نقش ددیوال شول

زلیخا پزړه عاقل — چه یوسف دی څو منزله

ول کړی پزړه شور شه — اشتیاق ی پزړه زور شه

وا پر هیڅ ند پوهید له — چه یٔ نن سینه سوله

چه له څه ی داثر دی — اوری پور په جګر دی

وصحرانه شوه روانه — که غم لری کا له ځانه

لای غم پصحرا ډیر شه — دصحرا سیل یٔ هیر شه

پهر ځای چه غم جن ووهی — زړه ی کله خوښی مومی

بیا روانه شوه وکورته — تا به ی نه وه دعشق اورته

هغه لار چه دا پر باند — تله دشاه تر بام حلاند

ډیر عالم یٔ ولید جمع — چه هرګزی نه وه طمع

ډیر وکړی سره ټول وه — تر بام باند غالوغول وه

زلیخا پوښتن وکړه — تسلی ی دخپل زړه کړه

چه دا هنبره ډیر وکړی — چا په څه دی جمع کړی

بوه ورِ چه غلام دی　　چه ښایست یې ډېره تمام دی
له کنعان دی راغلی　　په ښایست کښې دی ښاغلی
نوری دی تر مخ شمع　　خلق څکه دی پرِ جمع
حجاب لرِ زلیخا کړ　　دهودج څادری واکړ
په یوسف ی نظر وشه　　اوری بیا تازه پزوره شه
لفریاد شوه بی اختیاره　　شوه بی خود ناقراره
ساربان اوښه کړه روانه　　زوری کورته کړه دوانه
چه پکوری کړه داخله　　هوشؤ بیا راغلی تر دله
دائ وه ویل وه وایه　　دزړه حال راته وښایه
تا چه هسی رنك فریاد کړ　　کوم آشنا درته زړه یاد کړ
زلیخا وه وِ چه موری　　یت ځرکند څما غمخوری
څما راز چه پیا لا شی　　آخر ماله بلا شی
دکنعان دملك غلام دی　　چه منظور په خاص وعام دی
تا هم وی کند لیدلی　　یا دوصف اروېدلی
هم هغه می قبله گاه دی　　زی ویاڅه دی می شاه دی
دی وه ما په خوب لیدلی　　دده دی کرر څما نه وتلی
ده پخوب کښې مخ ښکاره کړ　　ده می زړه باره (پاره ؟) پاره کړ
زه زره دِ آفتاب یم　　زه کتان (؟) ددی ماهتاب یم

زه پره پسی له کوره   راوتلی بم سر توره
زه پره پسی له ننګ   راوتلی بم ملنګ
ده ګرم زه به هونبره کالَ   پمحنت سره پایمال
ده ګرم زه بی خانومانه   ده ګرم زه خونه ویرانه
ده ګرم زه سینه کبابه   ده ګرم زه بی آبو تابَ
چه ددوست یٔ دوست اندوه شه   نه چه دیر پا انبوه شه
دزړه غم می پرا زیات شه   دغم تیر می پزړه مات شه
کوره ځوك به یٔ خریدار شی   دپا کور به پر آباد شی
کوره ځوك ځو به بختور شی   چه یٔ کور پر منور شی
زه به وینی دزړه څښم   تل به بی اوره سیزم
کوره دی ساقی دپا شی   دپا کور به پر رنړا شی
چه دایٔ پراٌ خبر شوه   پفکرت زیر وزبر شوه
ویٔ صبرته پیشه کړه   ترك توره اندیشه کړه
صبر بر لری شیرین   نعم اجر الصابرین
دهر کنج صبر کلید دی   دا کلید تر نمر پدید دی
هرچه دا کنجی پلاس کا   نور له فتح څه وسواس کا

څه نه وقت څه نه روزګار وی   ګوم به نه نر دا بل کار وی   P. 77.

چه له وصل برخوردار شی　　یار له یاره سره یار شی
بل شی چراغ داشنائی　　ورك شی داغ دجدائی
دیوسف چه تو دبازار شه　　اهل مصری خریدار شه
دهر چا چه دست رس وه　　دده خریدته هوس وه
که یوه ویل زرکونه　　بل به وه ویل کهکهونه
که یوه به اختیار زر کړه　　بل به یاد دروگوهر کړه
بل به راغی دولتمند　　زیاته وه ئی چند درچند
چه په دوه کونه ارزان وی　　هغه کله پچا گران وی
چه وینبته ی جهان ارزی　　گران به کله پخان ارزی
زلیخای شوه حریداره　　خزانه ئی وه بی شماره
بیای وه و وعزیز نه　　کوره مه ددنیا څیزته
کل دنیا په یوسف ورکړه　　ځان هم ځار دده تر سر کړه
نظر مه کړه سپین وتورته　　یوسف راوله وکورته
که یوسف ځوز خپل شی　　بخت به یار ځوز تل شی
عزیز وه وزلیخاته　　نشته توان دده هیهات
که هرڅو می دولت دیر دی　　لادده قیمت تر تیر دی
که ی موز څخه قیمت وی　　پیرودل ی سعادت وی
چه نیت کار بخت نیره وی　　اوبس به گران په کثیره وی

زلیخا څخه یو درج وه　　　دك له ستوريو لكه برج وه

يكښي پښي ور (يښي در ؟) كوهر وو　　　چه له ستوريو رخشان تر وو

هريو در مي (ی ؟) پقيمت هوهبره　　　څو خراج دمصر هوهبره

هغه درج ی را بر سير كړ　　　كرسنه عزيزئ سير كړ

عزيز بله بهانه راوړه　　　چه اس انديښني واوړه

ديوسف خريدار بادشاه دی　　　چه پهر څه ی دست كاه دی

كه پدا بهای كړ شم　　　په غضب به ئ كړود شم

دشاهانو غضب اور دی　　　دمغضوب پر سوی كور دی

كه هرڅو دده وزيريم　　　پهر كار دده مشيريم

په قربت تر نور تيريم　　　پهيبت څني لا ديريم

ديوی ورشه دركاه ته　　　التماس وكړه بادشاه ته

چه ای شاه ارجند　　　په تمام عالم څركند

هر دولت دستا له دولت　　　موجود دی بی نهايت

له هرڅه نه بهرمنديم　　　مكر دا چه بی فرزنديم

كه يوسف را عنايت شی　　　لا به زيات ښما عزت شی

په عالم به سرفراز شم　　　دوكړی به ممتاز شم

غمجن زړه به پر خورسند كړم　　　دی به زه لكه فرزند كړم

دا بنده به پر نيكنام وی　　　ښما زوی ستا به غلام وی

وبادشاه نه عزیز لار شه — عرض ی وکړ ور ولاړ شه
عرض دده قبول بادشاه کړ — دده خواست ی ور عطا کړ
دیوسف عزیز خریدار شه — بورمندی پرېدار شه
په یوسف ی کور اباد کړ — زلیخا پر خاطر شاد کړ
په لیدوی شوه خورسنده — خلاصهٔ شوه دغم له بنده
له ښادی به ژړېدله — دا وینا به ی ویله
دوبه زه په اندېښنه یم — چه دا ویښه که اوده یم
دا بخوب کښې وصال وینم — دیار کښلی جمال وینم
که می بخت اوده بیدار شه — پوینس والی می بار یار شه
رب ستا عنایت دیر دی — ستا تر کل مخلوق را تیر دی
چه پر غم شوم تر هره دېره — ماو زه یم دنا هیره
نا امیده لوصال شوم — په آرام دیار په خیال شوم
ولِ زه وم دنا یاده — بوصال دکړم دِل شاده
کرم هر ویښته زبان شی — ستا دشکر په بیان شی
دنا شکر هونبره نه دی — چه ادا دځا په خُله دی
دغم شپه می تا سحر کړه — نا می ساه وصورت ورکړه
رب نا کړم سرفرازه — نا له یار سره همرازه
هجران اور وه زه ماهی وم — هر زمان په آه پهی وم

ستا درحم سیلاب خلاص کړم پدریاب کښې رقاص کړم
شکر شکر بخت می یار شه کم لمانه څرخ آزار شه
تر مالك می سر فدا شه نه یو څله چه بیا بیا شه
چه دا هسې نغدې راکړ بهای وما را کړ
څو کارونه می په لاس شول که می خرڅ دور والماس شول
که پښان موندِه جانان شې خریدې دیر رانه ارزان شې
څان هاله وی چه جانان وی بې جانانه څان تاوان وی

دقصص روایت کړونې دارنك دې حکایت کړونې P. 85.
چه بخوا تر وصالت زلیخا کړه غم لت بت
یوه ورځ اندوه پر دیر شه. غم دَد تر زړه چاپیر شه
شوه بې صبر بې قراره پس چه شوه پزړه بیداره
وصحراته شوه روانه که غم لرِ کا له خانه
کور له غم بانډِ کور شه صحرا لاور بانډ اور شه
کاه بیرون کاه به درون شوه سر تر پایه غرق پخون شوه
ناقراره کرزیدله په سرو وینو څړیدله
پژړاوی مغ سور شه زړه کباب نن (تن) ی تنور شه
څن وکړ دایٔ سوال رانه وه وایه خپل حال

نن دنیا خاطر ملال دی
نپوهیږم دا څه حال دی

بېرون خوښه دخورم
نن ی ول پر الم

بیا کوم غم دربانډ زور شه
چه سپین مخ دلکه سکور شه

ناقراره څبله ښوری
ناموننك وته نه کوری

چه ښکاره کړی فریادونه
غږ دی څی پهوادونه

وو زه هم په فکرت یم
لری کاره پحیرت یم

چه دا هسی خوږ پزړه یم
دا له ځایم دا پر څه یم

چه دا هسی په ماتم یم
دا بچا پسی په تم یم

درد لرم کوره دچا وی
نن څما پزړه پیدا وی

چه آرام یٔ لما بوړ
نه پوهیږم چه چا یوړ

چه یوسف ی همنشین شه
زلیخا سره قرین شه

یوه شپه ناسته زلیخا وه
په بیان دماجرا وه

له تقریب ی ناکهانه
حقیقت وه و لڅانه

دا هر کور پزړه آزار شوه
پیچاپچه لکه مار شوه

هغه دردی دزړه یاد کړ
چه یٔ درست ورغ فریاد کړ

ورغ وشپی یٔ چه پشمار کړ
نه ی کم نه بسیار کړ

هغه غم یٔ چه نیکاه وه
هغه ورغ یوسف بچاه وه

انکار مکړه پدا چاری
زړه وزړه ته لری لاری

القلوب مع القلوب — دمحبوب دنامحبوب
دی تحقیق تشهدا — هرکز شك نشته پدا
خصوصا چه عاشقان دی — په خپل عشق کښی صادقان دی
بظاهر هرکه دوه نمود وی — په باطن کښی یو وجود وی
که په پښه دمعشوق خار شی — دعاشق خاطر افکار شی
که پمخ ی غبار پریوزی — په عاشق باندِ بار پر یوزی
چه ی یاد زلف خوړ کا — دده زړه پارِ پارِ کا
یوه ورځ لیلی مکر — قصد دفصد کړ په نشتر
له لیلی چه روان خون شه — سپین مروندی پرِ کل کون شه
دمجنون له متَ اواره — په بیابان لاړه څو واره
محبت یٔ چه کمال وی — دا عاشق معشوق پر(بو) حال وی
ظاهر دده باطن بوکس شی — غم ی غم هوس هوس شی
اور اوبه چه ځبله ورشی — جدای ځنِ بدر شی
لکه نور په پریو تو شی — دوه وجهه ویغ ی یو شی
هسی رنك آفتاب دمینی — دوه یوکاندِ که ی وینی

زلیخا پرته اسفَ — بی نیازه لیوسف — P. 102.
ولیده په غم شوه پوره — نا امیده شود رنځوره

یوه شپه ی بخلوت کښې | چه شوه ډیره بزحمت کښې
وداځ ته ی زاری کړه | چه می سهله دشواری کړه
زه خسته ته می مرهم ی | زه قالب یم ته می دم ی
که باور کړې به کروهیږی | ته می روح ی که پوهیږی
که هرڅو بدر منیریم | پرورده دتا په شیریم
ته می مورئ دائ نه ی | لانر مور را تیره ته ئ
بیا پرما مهربانی کړه | ترك ته تن اسانی کړه
ته ښکاره دانش وری کړه | عملي کړد نظری کړه
که څه سحر کړې که دم کړې | بوبه اوس چه دما غم کړې
نور کاروانه کل تر شا کړه | مخامخ یوسف لما کړه
کنږ اوس له ننه ځان ځی | نفس بی جانانه کران ځی
په کفتار کښې می زیب نشته | نور می توان دشکیب نشته
که ځما له خونه دار کړې | ته به سعی پدا کار کړې
شوم بهجر کښې رنځوره | زه به څو اوسم صبوره
یار چه هسې بی کانه وی | څه فایده که همخانه وی
که په کټ وی چه یارخت کا | یار په سرولنبو کښې پټ کا
چه پزړه لما نفور دی | یار نژدی مه کنړه دور دی
حسن ستا هر کوره ډیر شته | کله ځوك دتا په څیر شته

که په چین کښی نقاشان دی　　نقش کړونی په شان شان دی
ستا په څېر به صورت نه کا　　که هرڅو نقشون ښه کا
که هوسی دخطا دی　　چه ئ څوك ستائی خطا دی
دوی که ستا سترکی وګوری　　په حیرت به څبله ښوری
بند به ستا دعشق پدام شی　　ستا وسترګو ته به رام شی
که په غره و سیل وشی　　ستا له عشق به اوبه شی
ستا یاوری پسر دروهی　　که دچړ وصال موهی
پصحرا که دګذر شی　　وچه ګیاه به تازه تر شی
که به باغ قدم درون کړ　　سرو چنار بید مجنون کړ
چه دا هسی حسن ستا وی　　غم اندوه بڅه دتا وی
چه پخ زلف خم چم کړی　　دزاهد روزګار برهم کړی
عنبرین کاکل پیچ پیچ کړه　　ورنه زهد تقوب هیڅ کړه
لد نازه له مکیزه　　پرهیزکار کړه بی پرهیزه
ورښکاره که خپل جمال کړ　　دده زهد به پائمال کړ
تر به لار صبر قرار شی　　شیر به ستا آهو شکار شی
که هرڅوی پرهیز ډیر وی　　په لیده به ی ستا هیر وی
ستا په مخ به مبتلا شی　　سر به دی پوا وبلا شی
ستا دوصل به طالب شی　　ستا محبوب به ستا محب شی

ځو چه ده پده ستا مینه ترړ به لاکه پتا مینه
دی و ستا ویل معقول دی همکی ځما قبول دی
کار پدا ځما مشکل دی زار پدا ځما دول دی
زه که هرڅو ښایسته یم په خوبیو آراسته یم
په سپین مخ یم منوره په مخ یوسم لنار له نوره
جوړه شم بڅو ځو شانه په زری نمریو رخشان
پکوشه دسترکو ماتَ نه کوری کوری بل پاتَ
زه که ځان دفلك ماه کړم نګاه نه کا زکه آه کړم
که ځان پست کړم لکه زمکه هم کوی لمانه کرکَ
قدم نه کیږدی راباندِ هونبره کبر لوی کاند
یا پخپل حسن مغرور دی یا بی عشق یا صبور دی
یا لری کبر دمنی ځان منی بل نه منی
یا پشرع کښی دده دی چه حرام مانه کاته دی
زه که هسی سترکی ژغوری هرګز ماوته نه کوری
په نرمی ی دا جواب کړ ښه ځواب ی باصواب کړ
چه بو فکر راځمایٔ شی موافق که ستا درای شی
لغه پس به پرِ کار کړو جوړ به ستا پرِ کاروبار کړو
زلیخا وه و چه وایه هغه فکر را ونمایه

تل پرا ځما يقين وی | چه به ستا فکر مبين وی
له هر څه ی خبر داره | آزموده تجربه کاره
وی و دارنك زه وايم | دزړه رای وتاته نمايم
لزړه لرِ بل وسواس کړه | خزانه ځما پلاس کړه
زه به روغ يو عمارت کړم | پر به خرڅ دنا دولت کړم
ځای په ځای دستا صورت کښی | پنبه زيب وپه زينت کښی
ديوسف ځهره خوشرنك | هم دکښی دنا له څنك
چرته لاس تر لاس نيولی | دچمن پلوری تللی
چرته لب په لب پرانه وی | څبله ينبی خله په خله وی
چرته کلك يوسف اوده وی | ينبی سر ستا پورانه وی
چرته یٔ پکنار کښی | پرته سترکی په خمار کښی
دی به راولو هغه کورته | چه نظرکا وهر لورته
په نظر به ی دا کښوزی | دده زړه به پتا پريوزی
ستا دوصل به جويان شی | پر به ستا مشکل اسان شی
زړه چه مومی افتونه | دنظر دی شامتونه
نظر غشی زهر آلود دی | څو چه بند دی هونبره سود دی
زليخا و که په مال | بهره موم لوصال
مال څه سر به تر قربان کړم | ځان په زار تر خپل جانان کړم

خزانه واړه لکیا کړ　　خو یوسف لما اشنا کړه
چه اختیاري ود ورکړ　　پري وا دمخزن ورکړ
که دچین وو که دروم وو　　اوستازان چه ملك سلوم وو
چه په چین کښې نقاشان وو　　صورت کړوني هرهر شان وو
چه په تصویر به ي صورت کړ　　دوی به عقل به حیرت کړ
چه پروم کښې صیقلي وو　　دجلا په کار جلي وو
دصیقل په کاروبار کښې　　عیان وو په کاروبار کښې
زري دیر وو ورسنولي　　دویٔ ومصرته به للی
پراتلو ي اکرام ورکړ　　دهر یوه ي انعام ورکړ
رضامندي هر استاد کړ　　پریر څه ي خاطر شاد کړ
عمارت ي لویٔ آغاز کړ　　په اوه درئی ساز کړ
فرش ي فرش وه دمرمرو　　پکښې کار کري دزرو
دیوالون ي مرمر وو　　پکښې یښې دز کوهر وو
اوم کوریٔ لا صفا کړ　　نر مرآت لاجلا کړ
چه به څوك ورته ناظر شه　　خپل جمال به ور حاضر شه
بې کینږ کوز پاس هر ځای　　مصفا وه رخ نمایٔ
نقاشونه پکښې وني　　لوړ کم نری پلني
نقش کړ رنکارنك وي　　نه چه لږ څنك په څنك وي

که تاؤس وو که طوطیان وو
نور مرغونه بل بل شان وو

پاس پونو کښې تصویر وو
چه پحسن بې نظیر وو

په حیرت به ی کړ عقل
چه دا اصل دی که نقل

پهر شاخ بلبلې سازی
اما واړه بې اوازی

لهغه پس ی مثال
هم په چت هم په دیوال

دیوسف صورت وه کښلی
هم ددی وه زیبا کښلی

لکه سه معشوق عاشق وی
څبله دواړه موافق وی

ناست به چرته دوش پدوش وو
چرته چرته هم آغوش وو

خوا بخوا سره پراته
چه ځای مشه دوینته

سره پښې لب په لب وو
پهزار رنك طرب وو

پداشان ی عمارت کړ
ښه ی ساز په لږ مدت کړ

پدارنك چه می بیان کړ
ښه ئی ساز هغه مکان کړ P. 106.

ښه فرشونه ی دیبا وو
فرش کړی پکښې دیبا وو

ځای بځای مسندونه
باندِ یښې بالښتونه

په جهان کښې چه څه ښه وو
بې یوسف نور هرڅه وو

بې جانان که بهښت وی
دعاشق تر فهم زښت وی

ځای که هرڅو ډیر عالی وه
له یوسف چه خالی وه

زلیخا نه کور دغم وه　　ددی مرك پکښې هردم وه
شوه پفکر روز وشب　　یوسف څرنك کړم طلب
چه به دی په عمارت کښېنی　　لما کښېنی پخلوت کښی
دی به څرنك دلته کام ژدی　　چه به کام شما په کام ژدی
له اول ئ جوړ ځان کړ　　آراسته ی پښه شان کړ
تور کاکل ی مشك افشان کړه　　پښه شان ی را پریشان کړه
پر آب روی وسم پوړ　　کړه لاشو تر اول توری
چه ی سترکی پرنجو کړی　　منفعل ئ آهو کړی
هم ی زلف معنبری　　کجك کړی پعطر تری
خال ی کښېو عنبرین　　په صفا کښېلی جبین
لاس سره کړه په حنا　　هم ی پوړ کړه په پا
لهغه پس ی زیور وه　　نه دزر ودکوهر وه
چه هریو قیمت بها وه　　لانر ستوریو پر بها وه
هم ی پغوز کړ هم بغاړه　　پری ئ جوړ کړ صورت واړه

بیای شی جامی مهینِ　　چه اودلی وی ریښمینِ　　P. 107.
په اغوست سره سره زر شوه　　منوره لك نمر شوه
نور ئه وایم لد حال　　چه ی غوره وه له مال

هغه ورځ را پر سیر کړ | آراسته ی ځان پر دبر کړ
دا وینا ده مشهوره | سری بو نور زینت دو نوره
دا وه خود بحسن حوره | پزینت شوه بی نظیره
نوری بنه دانا دلال وه | په ویل سحر مقال وه
دیوسف پلور روان کړ | امیدواری پښه شان کړ
چه ته ورشه هونروره | تر یوسف می ثواب وره
چه دا ځای می تری ساز دی | جوړ په نقش وپه طراز دی
ځای که هرڅو دلکشای دی | په کښی تنګ یم بی تا دی
په فلك ځما تارك کړه | په قدم ی مبارك کړه
که قدم پدا ځای کیږدی | برکت به باندی پریږدی
بودم ځان لما همراز کړ | دا مکان می پر اعزاز کړ
بو ځل راشه غم ژدایه | کښلی مخ راته وښایه
چه پټ حال درته عیان کړم | موږو درته بیان کړم
کام ناکام یوسف روان شه | پر زوشن هغه مکان شه
هغه ځایٔ پر منور شه | برج دشمش ودقمر شه
لاس ی وه نیو زلیخا | دا وینای کړه ادا
ستا له لاسَ شوم خرابَ | پرنګ بره تر تراب
پاکی خدای ته ده لایٔق | چه ی کړم پتا عاشق

هر ویښته ی ستا کمند کړ　　پر ځما خاطری بند کړ

دستا مخ ئ لك ماه کړ　　ځما بخت ی پر سیاه کړ

لب دستا لعل وسراب شه　　پر ځما نصیب خراب شه

ستا صورت ی درست ګلزار کړ　　په قسمت ئ ځما خار کړ

پدارنګ ی پر افسون کړ　　تر اول دری درون کړ

هغه دری استوار کړ　　په دویم ذری بیا ساز کړ

ویوسف ته ی خبری　　بیا آغازی کړی نادری

تا بخوب کښی مخ عیان کړ　　بل داور ځما پټان کړ

لاهلك وم خوردسال　　شوم پتا پسی بدحال

زړه پر درد سترګی بی خوب　　شوم دتا له مین توب

ستا په مینَ دیوانه شوم　　له عالم بی کانه شوم

خپل وطن م لاړ له دستَ　　په بلَ شوم ستا په مرستَ

ستا لغم بی چاره شوم　　هم له خپل و آواره شوم

پدا هونبره می زړه بنه کړه　　چه خبر لما ته کړه

یوسف وُو خدمتکار یم　　وخدمت طیاریم

په سپین مخ که تابنده یم　　بیا آخر دتا بنده یم

چه لتا سره همراز شم　　پعالم به بدآواز شم

عنایت وکړه را باندی　　چه زه وه ووزم دباندی

تنها ناست لتا نه نه یم — نفس لرم که هرڅو نه یم
دا ناست بل وی که پوهیږی — ما رخصت کړه که کروهیږی
اور پنبه نژدی نه نه دی — څو چه لری هنبره نه دی
په معنی کښی شهوت اور دی — پر ددیر وسوی کور دی
زلیخای په خبرو — که خوږی و تر شکرو
تر دویم وری درون کړ — فرفته ی پر افسون کړ
وری بند پده محکم کړ — پداشان یٔ مکردم کړ
التفات ی هرګز ده نکړ — خو مرادی دخپل زړه کړ
اوم کور چه منقش وه — هر صورت پکښی دلکش وه
تر مرآت مصفا وه — دلکشا راحت نمای وه
پهغه کوری داخل کړ — مشوش ی دده زړه کړ

پداشان سخن پرداز — اظهار کا دبېت راز — P. 110.
چه داخل په اوم کور شه — دیوسف پرزړه کل شور شه
چه پدام ی کښیوته لم — په کوهی کښی پریوته لم
کم فضل دحق وشی — په نجات می خاطر نه شی
زلیخا شوه ناقراره — محبت کړه بی اختیاره
آه ی وکړ پژړا شوه — لهغه پس ور کویا شوه

چه پتا پسی شوم خواره — شپه او ورځ یم دل انګاره
یو ساعت لما همدم شه — لږ غم خوار ځما دغم شه
را سره ځاستي په تخت کړه — په ځاستی می بیدار بخت کړه
له برقی نه مخ بلبل کړه — ځما اوښیوته نظر کړه
چه په مخ می رابه هیڅزی — یو زمان نه و دریږی
نور می مه پسنده په غم کښی — یم دهجر پتورتم کښی
په ښادی می غم بدل کړه — چراغ دوصل رانه بل کړه
چه یوځله ترِ قربان شم — لغه پس پرِ بریان شم
یوسف کوز پفرش نظر کړ — چه نظری په بستر کړ
دوه صورت مصور وو — ځاست په مینه په بستر وو
زړئ سترکی کړِ ترِ پورته — مخ ی واړه وه بل لورته
په بل لوری خپل صورت وه — چه ی کښلی پر زینت وه
چه ئ کښلی پر دیوار وه — زلیخا سره کناره وه
لهغه ی هسك نظر کړ — وبل ځائ نه ئ ار بر کړ
هورته هم پهسی شان وه — نقش شوی دوه جانان وه
که ئ سقف نه کتل وو — هم ی هورته دا لیدل وو
امیدواره زلیخا شوه — تمنای دزړه دا شوه
چه یوسف په تماشا شه — شاید میل ی را پیدا شه

په فریاد او پژړا شوه ۔ ور کویا پړا وینا شوه
په خپل ذرای دسوګند ستا دی ۔ چه هر سر پر هویدا دی
حال می زار پزړه خسته یم ۔ ستا تر زلف شکسته یم
چه حاصل څما مقصود کړه ۔ په حرمت دخپل معبود کړه
چه یودم لما همدم شه ۔ زړه می خوږ نه می مرهم شه
نوان دهجر نه لرم ۔ څو به دا لنبی زغم
ستا له هجریم بی تابَ ۔ بی ځواراك شوم بی خواب
نه اوبه ی دژوندون ۔ زه تشنه سوی لړمون
درحمت دریاب پجوش کړه ۔ دژوندون اوبه را نوش کړه
ستا پخپل و سترګو تورو ۔ چه بخښی رنړا دګورو
ستا په خپل و ابروانْ ۔ چه هلال دی دخوبانو
ستا په خپل وزْوڅو کښلیو ۔ دقدرت په قلم کښلیو
ستا سوګند په خپل جبین دی ۔ چه تر میاشتی لامبین دی
ستا سوګند په خپل صورت دی ۔ چه لساز شوی پقدرت دَی
په مراد می یو زمان شه ۔ نه څما پرای روان شه
دخاطر غنچن می واکړه ۔ په ناستی می سره خوا کړه
یوسف و که صبر وکړی ۔ پوصال می به زړه شه کړی
په هجرانِ پسی وصال شی ۔ آخر خوش زړونه ملال شی

صبا کیږي لتورتمَ　　خوشحالي زبيږي لغم

نن ورځ زور راباندِ مکړه　　نور چه ستا رضا هغه کړه

که قبول مي نصيحت کړي　　نن مي ورځنِ رخصت کړي

زر به ستا حاصل مراد شي　　غمجن زړه بهِ پر شاد شي

دزړه کام به لا مومِ　　که داخل مي په کام دروني

جوړ کارون تعجيل وران کا　　تاني ى ابادان كا

تاني چه آزموده ده　　پهر كار كښي ستوده ده

که نن ورځ لتا آزار شم　　نور به تل لتا ويزار شم

ځما زړه به لتا تور شي　　دغم سنك بدي پكور شي

زليخا و زه تشنه يم　　دمدت سوِ سينه يم

صبر ځرنك له اوبو كرم　　پزړه سوزم صبر څو كرم

صبا كار به صبا كړو　　را سره نن به سره خوا كړو

نه پوهيږم سبب څه دى　　چه وِ سوړ لما نه وړه دى

چه لر مي په آزار کښي　　څه مانع دي پړا كار كښي

د و يو پدين ځما　　سخت گناه دي دزنا

زناه كار چه به قيامت شي　　تر آزار پروردكار شي

مفتا به ده دا وينا　　الزنا خراب البنا

تل بي برك زناه‌كار وى　　ځواني مرك به زناكار وى

تل وی خوار، پدین دنیا　　لا غنا مع الزنا
دویم دا چه له عزیزه　　بهرمندیم لهر څیزه
پرورده ی دنعمت یم　　له نعمت دده ډك یم
دا چه څوك فلك زده دی　　واړه دوی نمك زده دی
مرتکب چه ددکار شم　　په عالم به شرمسار شم
پدنیا به نفرین شم　　په قیامت به سجین شم
بل عزیز که را خبر شی　　څما سرته به خطر شی
هم له قهر هم له ننك　　ما به پر نږدی تر درنك
پدنیا کښی می دا حال دی　　په عقبا کښی می وبال دی
چه پدین په دنیا بد وی　　هغه کار چه کاند رد وی
دی و ماته دعزیز　　کار هر کوره دی ناڅیز
په شراب کښی به زهر　　ورکړم خلاص به کړم تر دهر
داجل پیاله به نوش کا　　ما او تا به فراموش کا
په خپل کار به گرفتار شی　　هم آغوش به گرفتار شی
دعقبی اندوه هم مکړه　　چه دزړه غواړی هغه کړه
وایی ته چه خدای رحیم دی　　کرم دیر لری کریم دی
که بنده گناه‌کار شی　　چه توبه کا شرمسار شی
پرده پوښی پرحمت شی　　ورته عفو معصیت شی

گناه وکړه توبه کار شه　　لرحمت امیدوار شه

هم می ډیر مال ودولت دی　　په انواع انواع نعمت دی

ورکوه خیر وخیرت کړه　　په فقراءِ صدقات کړه

تر بدی کړه نیکی زیات　　حسنات تر سیآت

چه دزیات تر حسنات شی　　نور به ستا ځن نجات شی

دو کله به زه داکړم　　چه ناحق کشتن دچا کړم

په ناحق چه څوك خون کا　　پدوزخ به ی درون کا

زه به کله هسی کار کړم　　چه عزیز خاطر آزار کړم

دی څما ولی نعمت دی　　حق ی ډیر بی نهایت دی

که می خدای رحیم کریم دی　　عذاب هم دده الیم دی

په امید چه درحمت کا　　گناه څان به فضیحت (هزیمت) کا

وای واړه حماقت وی　　شرمنده به په قیامت وی

دتریاقو لکمانه　　زهر مه نوشه نادانه

که دولت دنا ډیر زور دی　　رب می کله رشوت خور دی

زلیخا وی بهانی ډیری　　تل راوړی تر شمار تیری

لد پس بهانی پریږده　　سر څما په څنگل کیږده

خوا پخوا څمله راځنه　　چه خوا کړم درباند یخه

خواه نخواه څما زره غواړه　　شه لما غاړه پغاړه

ژب بند کړه لگفتاره   پس که دیر دکړم خواره
دا کوم عدل کوم انصاف دی   بی هوده دی دبن لاف دی
زه دغم په لنبو سوځم   ناقراره وبله خوځم
ته می رحم پحال نه کړی   فراغت خواب خواره کړی
چه ئې پسند په خپل ځان کړ   بیای پسندی په بل ځان کړ
لهغه پس به دیندار شی   تر هرچا به نیکوکار شی
یوسف بل بهانه راوړه   چه لما زلیخا واوړه
پا هیڅ نشته ستا مینه   مینه کله هسی وینه
چه خپل عشق اظهار وی   بیا می زړه ازاره وی
ددی مکره شمار نور   که به ځان له خون ځغوری
زر مقصود ځما روا کړه   بی هوده ویل رها کړه
کنړه اوس به کړم تر درنك   بیچا نونړه په وینو رنك
پټ تر ملای یو خنجر وه   چه تر الماس لاتیز تر وه
هغه دم ی را بر سیر کړ   په حیرت ی یوسف دیر کړ
چه به اوس لن خنجره   مړ کړم ځان زر تر زره
چه عزیز پدا آگاه شی   دتا مرك به خواه نخواه شی
دریم نشت پدا میان کښی   چه به پروزی په کمان کښی
تا به دی ځما قاتل کا   ستا په مرك به زړه مائل کا

سر به ستا له تن بیل کا   تا به ما سره دی مل کا
پدنیا کښې که محروم   ستا له وصل شوم زه شوم
پس لمرګ به واصلَ   لتا شم تر دا کاملَ
همیشه تر خاورو لاندی   عشق بازی ریښتیا ی کاندی
نورِ زر خنجر په حلق   کښیښی دی شه حلق دلق
دوِ هی دخدای دپاره   لاس کوتاه کړه لدکاره
ځان به مې ما به رسوا کړِ   شرمند به عزیز لا کړِ
لاس ی تاو دزلیخا کړ   هغه تیغ یٔ تر جدا کړِ
زلیخا خوښه پزړه شوه   چه ی مینه پیا وشوه
چه دا هسی دلسوزی کا   خپل وصال می به روزی کا
شوه بخپل کمان خوشحاله   امیدواره له وصاله
غالب شه پزړه ی شوق   لاس کړ دګردن طوق
په پالنګ باندی پریوست   په منګلوکښی ی کښیوست
که پزور وه که په کید   اوس آهو شه ښما صید
که هوس کړ اوس په ښیزی   ته به نه لما خلاصیږی
وم دکالو آرزومن   تل پتا هسی غمجن
اوس جامی له تن دور کره   برهنَ ښمله سر ورکره
چه په کت احباب ښملی   دقمیص حجاب آخلی

یوسف کړ له نفس جنګ ‌ ‌ ‌ ‌ په آهنګ په نه آهنګ
نفس وروست زړه نه وسواس ‌ ‌ ‌ ‌ ده له حق کړ هراس
حق شکاره ورته برهان کړ ‌ ‌ ‌ ‌ خپل عصمت ی نګاه‌بان کړ
په بهانه ی تر خلاص ځان کړ ‌ ‌ ‌ ‌ تر غور رنګ ی پښه شان کړ
دی هم دو وریسی وکړ ‌ ‌ ‌ ‌ دوی ډیر په سوی زړه کړ
دا دورست و دی دوراند ‌ ‌ ‌ ‌ سره زغاستل مخ دباند
یوسف وه و ځما خدایه ‌ ‌ ‌ ‌ راته بند ورونه وکشایه
یا مفتح الابواب ‌ ‌ ‌ ‌ خلاص کړ ما لره باب
مناجات دده کلین شه ‌ ‌ ‌ ‌ فتح باب ورته پدید شه
بند که هرڅو ډیر محکم وه ‌ ‌ ‌ ‌ ورته وا پښه دم وه
که هر وره نه دی پدر شه ‌ ‌ ‌ ‌ ورته پات څو یو ور شه
پدا مینځ کښی زلیخا ‌ ‌ ‌ ‌ کښو لاس دده په شا
قمیص ورغی دی خلاص شه ‌ ‌ ‌ ‌ په تنها دخاص الخاص شه
پژړلو زلیخا شوه ‌ ‌ ‌ ‌ په فریاد ږوا وبلا شوه
وه ځما ناسازه بخت ‌ ‌ ‌ ‌ چه دخوار کړم یکلخت
خلاص شه باز ځما له دام ‌ ‌ ‌ ‌ پریوت قند ځما له کام
جام می دك پزاری زور کړ ‌ ‌ ‌ ‌ بیا بدبخت لما شکور کړ
که می تل دا هسی بخت وی ‌ ‌ ‌ ‌ ورځ پورځ به می کار سخت وی

سر به ستا له تن بیل کا   تا به ما سره دی مل کا

پدنیا کښی که محروم   ستا له وصل شوم زه شوم

پس لمرګ به واصلَ   لتا شم تر دا کاملَ

همیشه تر خاورو لاندی   عشق بازیٔ رېښتیا ی کاندی

نور زر خنجر په حلق   کښیښی دی شه حلق دلق

دو هی دخدای دپاره   لاس کوتاه کړه لدکاره

ځان به مه ما به رسوا کړ   شرمند به عزیز لا کړ

لاس ی تاو دزلیخا کړ   هغه تیغ یٔ تر جدا کړ

زلیخا خوښه پزړه شوه   چه ی مینه پیا وشوه

چه دا هسی دلسوزی کا   خپل وصال می به‌روزی کا

شوه پخپل کمان خوشحاله   امیدواره له وصاله

غالب شه پزړه ی شوق   لاس کړ دګردن طوق

په پالنګ باندی پریوست   په منګلوکښی ی کښیوست

که پزور وه که په کید   اوس آهو شه ښما صید

که هوس کړ اوس په ښیزی   ته به نه لما خلاصیږی

وم دکالو آرزومن   تل پتا هسی غمجن

اوس جامی له تن دور کړه   برهنَ ښمله سر ورکړه

چه په کت احباب ښملی   دقمیص حجاب آخلی

یوسف کړ له نفس جنك   په آهنك په نه آهنك

نفس وروست زړه ته وسواس   ده له حق کړ هراس

حق ښکاره ورته برهان کړ   خپل عصمت ی نګاه‌بان کړ

په بهانه ی تر خلاص ځان کړ   تر غور رنك ی پښه شان کړ

دی هم دو وړپسی وکړ   دوی ډیر په سوی زړه کړ

دا دوړست و دی دوړاند   سره زغاستل مخ دباند

یوسف وه و ځما خدایه   راته بند ورونه وکشایه

یا مفتح الابواب   خلاص کړ ما لهره باب

مناجات دده کلین شه   فتح باب ورته پدید شه

بند که هرڅو ډیر محکم وه   ورته وا پهغه دم وه

که هر وره نه دی پدر شه   ورته پات ځو بو ور شه

پدا مینځ کښی زلیخا   کښو لاس دده په شا

قمیص ورغی دی خلاص شه   په تنها دخاص الخاص شه

پژړلو زلیخا شوه   په فریاد ږړا وبلا شوه

وه ځما ناسازه بخت   چه دخوار کړم یکلخت

خلاص شه باز ځما له دام   پریوت قند ځما له کام

جام می ډك پزاری زور کړ   بیا بدبخت لما سکور کړ

که می تل دا هسی بخت وی   ورځ پورځ به می کار سخت وی

په خپل بخت شوم خبرداره | لاتر دا به شم زه خواره
چه یوسف لوره بدر شه | له عزیزه برابر شه
بخوا ورغی ناکاه | راته کورته له بادشاه
په یوسف ی آواز وکړ | تر پرسش دراز وکړ
دا څه حال دی چه احوال دی | ستا له چاسره جنجال دی
مشوش چه هسی ته ی | دا لچای دا بڅه یٔ
یوسف پاتو دیر حیران شه | دی خوله پټ یو زمان شه
چه جواب ی بڅه شان کړم | چه ی ورك دزړه کمان کړم
که خپل حال پرینبتیا وایم | حقیقت ورته وغایم
دا چغلی کیږی لمانه | چغل سم دی لشیطانه
مردته بویه چه ستار شی | که هرڅو بخوای خوار شی
نه جواب چه په ادب وه | ورینبتیا وته اقرب وه
وعزیز ته ی آغاز کړ | پوشیده ی هغه راز کړ
عزیز لاس دده پلاس کړ | تری دفع کل هراس کړ
دلاسه ی دیره وکړه | چه هراس لر لزړه کړه
ته می زوی زه د پدریم | لاپتا مهربان تریم
نوری دروست هغه کورته | زلیخا کړ سر ور پورته
چه ی وه لیده دوی دواړه | دا شوه زر ورته ولاړه

درست یقین ی دزره وشه — هیڅ گمان ی پات نشه

چه یوسف دی راز ویلی — عزیز دی قهر نیولی

ما به مړه کاندِ بی درنګ — یا له تیغ یا له سنګ

یا به ما عزیز رهاك — پعالم به می رسوا کا

یا به وه وهی ما ډیره — ما به کا له دله وهیره

زری مکر ور بنیاد کړ — په فریادی طلب داد کړ

له عزیزه داد طلب شوه — پژړا اوبه شغب شوه

چه دا کوم عدل انصاف دی — ستا عبس دمردی لاف دی

زه تنها په تخت پرته وم — فراغت پخوب اوده وم

چه ناکاه دی غلام — ناسپاس نمك حرام

کینبس لاس ڎما پڎای — لب ڎما په زنخدان

بیای ورو ڎما په بند — کټ کینږو بند پسند

زه ناکاه شوم بیداره — په حیرت شوم لدکاره

ده نور زر لما فرار کړ — ما هم دو پسی اختیار کړ

چه نژدی ورسیدلم — ناکاه ودرغیدلم

دی شه خلاص زه پریوتلم — پدا ڎای چه ولیدلم

که دده علاج ونه کړ — تا به ڎه کړم ما به ڎه کړ

اور به پور ستا پکور کړم — ڎان به خپل ڎوندی پکور کړم

اوس بایده دی چه دی بند کړ   په بد پسندی بدپسند کړ
چه له بدو سره ښه شی   دعالم روزګار ښځه شی
چه بدخوی او بدکردار وی   دبدی سزاوار وی
چه دبد بدی تر ښو شی   په معنی بدی له ښو شی
سر دده له تنه دور کړه   په مردی ځان مشهور کړه
چه عبرت دکل عالم شه   بند وبست بد محکم شی
چه بدکاران بداندیشه وی   زیان دخلق هم دخویش وی
عزیز وکړ ده ته قهر   هم ترخه ویل تر زهر
چه ماته لکه فرزند کړ   پدولت می آرجمند کړ
په خپل کور کښی می امین کړ   په آسمان می لزمین کړ
تمامی اختیار می ورکړ   تاج می خپل دتا پسر کړ
غلامان می صد هزار کړ   ستا خدمت ته می تیار کړه
لکه ما دی لتا کړی   کله چا دی له چا کړی
کښیښی تا ناحق شناس   بیا څما پناموس لاس
رسوا تا نمك حرام کړم   یو کړی دی بدنام کړم
که خبر پدا عالم شی   نام وننگ به برهم شی
پیدا شوی چه انسان دی   په احسان دده احسان دی
په نمك می پرورده شو   بیا می مالك پدیده شو

چه یوسف دا هونبره قهر | له عزیز ولید په چهر
وی مه خوځه له ځایه | تجاوز مکړ لرایه
اول وکړه فکر غور | بیا هاله کړه هونبره زور
که تحقیق دکارونه کړی | کرم به شی که قهر وکړی
چه به عقل پوه سپکه وی | په خبرو پس ورك وی
پسرکار کښی که تمیز کړ | ته به هاله ځان عزیز کړ
زلیخا چه څه ویل کا | دخپل جرم پټ ول کا
ویل کاندی پرروغ | دروغ تل دی بی فروغ
ښځی ټول خرخښی دی | دوی پکړ کښی کله ښې دی
گناه وکاند په ښلـ | بیائ وتړی له بله
چه داخل دتا پکوریم | په معنی ژوندی پکوریم
دی داکور بیا سور اور کړ | ځما زړه ی پر سکور کړ
دا می نه پریژدی وکارته | وخپل کار وخپل روزکارته
خپل ځان جوړ کا ښځو شانه | اختلاط غواړی لمانه
کَهْ په ځنك کهی دوړاند | راته کښینی جلوه کاند
په بهانه ی نن دی کورته | راوستم پربوتم اورته
فریفته ی پر افسون کړم | په اوه دری درون کړم
نوای زر تر لاس نیولم | پاس په تخت ی خیژولم

چه په تخت لما څه مله ‌ ‌ ‌ دزړه کام لما آخله
په بهان می تر خلاص ځان کړ ‌ ‌ ‌ حق پت فضل راعیان کړ
زر دوره پلور دوان شوم ‌ ‌ ‌ یا فتاح یا فتاح خوان شوم
دی هم دو راپسی وکړ ‌ ‌ ‌ دوی دیر پسوی زړه کړ
په دودو راپسی تلله ‌ ‌ ‌ عاقبت ورسیدله
څیرِ دی قمیص ځما کړ ‌ ‌ ‌ خدای می تن څن رها کړ
چه قمیص می څیر پس دی ‌ ‌ ‌ کس نه داشارت بس دی
هیڅ شك نشته بی ګناه یم ‌ ‌ ‌ زه نیولی بی اکراه یم
په خپل فضل ځبښتن خاص کړم ‌ ‌ ‌ چه لړ بلای خلاص کړم
هر محنت په ما اسان دی ‌ ‌ ‌ بی عصیان عصیانګران دی
ما و زه به ستاری کړم ‌ ‌ ‌ ددرار به رازداری کړم
اما دی چه راز افشان کړ ‌ ‌ ‌ لوی بار ما بهتان کړ
له ضروره می بیان کړ ‌ ‌ ‌ پت احوال می در عیان کړ
اوس دتا پلاس انصاف دی ‌ ‌ ‌ ځما زړه درسره صاف دی
که دعدل پلار دروهی ‌ ‌ ‌ تلافی به ی بیا مومی
که څه ظلم یا ستم کړ ‌ ‌ ‌ ځان به نه تر هرڅا کرم کړ
زلیخا وی دروغ وائ ‌ ‌ ‌ بند زدن کشتن نه ښائ
پهغه ځما سوګند دی ‌ ‌ ‌ چه هر پت پره څرګند دی

چه لږ گناه یم پاک — نه بې کاره یم بې باک
پهغه بادشاه سوګند کړم — پټ ی نه کوم ژرکند کړم
چه زه څه څو می تیار دی — نه بدخوی نه زناه‌کار دی
چه شاهان دجهان واړه — ژدی دده فرمان ته غاړه
قبلوی ډیر خواری — اما نه زناه‌کاری
هم سوګند دتا په مخ کړم — پلیده ی چه تل سخ کړم
ډیر ذلیل پر غریب کیږی — چه پر ستا مرحمت کیږی
چه هرګز پزړه څما — ګذر نشی دزنا
چه زولی یم له موره — په امان یم لږ توره
چه زنا وشی له ځانه — ورته پاتو شم حیرانه
چه زناه وکاند ښځه — سرې پری کړی پر تر ښځه
چه دا هونبره سوګندونه — بند په بند په پیوندون
زلیخا وکړه څو شان — شوه عزیزته پاکدامان
نوری زر حاضر کوتوال کړ — به پرئ حکم دم در حال کړ
وی پوزه یوسف بند کړه — دروند څاڅیر ورته پسند کړه
تر هغه چه کار ژرکند شی — بهتر دا دی چه دی بند شی

چه یوسف کوتوال روان کړ — شاه پر حکم دزندان کړ P. 119.

هرکور دیر پزره کښې تنګ شه   چه پلاس کښې دسرهنګ شه

لا پیدا خاطر آزار شه   چه بې جرم ګرفتار شه

چه بد وکاند بد مومي   دکردار بیالي وشومي

چه بې جرم په ګزند شي   تر مجرم ی غم دوچند شي

دخپل رب ته ی زار کړه   چه م سهل دشواري کړه

ښکاره تاته ښما حال دی   څه حاجت ښما دقال دی

په هر سر باند داناﺉ   هم داناﺉ هم بیناﺉ

که دروغ دی که رینښتیا دی   واړه تاته هویدا دی

زه دصدق نور لرم   زړه له کذب دور لرم

ګواه ښما پصدق تیر کړه   نه توفیق دګواهي [illegible] کړه

چه ی خواست بخالص نیت وی   زر مقرون په اجابت وی

یوه ښځه هغه ځای وه   چه عاقل روشن رای وه

زلیخا وه پر مین   ورسره به وه دنن

تل ی دا وه مصاحب   پګفتار وه عجایب

دی درلو په غیر نیولی   ددر میاشتو هلك کښلی

پر عزیزی آواز وکړ   په حیرت ی دده زړه کړ

وی کړه عزیز فهم   عمل مکړه په تش وهم

بې ګناه کی آزار کړی   په دوه کونه به ځان خوار کړ

یوسف کله دتغریر دی | تر واقع کله تقصیر دی
دی لأیق دمرحمت دی | نه سزاوار دعقوبت دی
بار پده باند احسان کړ | عنایت پر صد چندان کړه
عزیز پاتو په حیرت شه | غرق پسیند دندامت شه
وی وه وایه کودك | په جواب تر لویو کلك
ستانه حق دی تلقین کړی | ستا کلام ی شیرین کړی
پیدا سن هلکان کله | ویل کا هسی له بله
تا شما پژوه کړه لکه | اندبمنبنه لوی کودك
اوس دا حال راته وه وایه | حق باطل راته وغمایه
کوم یوه م سوی کور دی | لکولی چا دا اور دی
پت احوال را هویدا کړه | بد اندیش راته رسوا کړه
هلك وه وغمام نه یم | چه به خام وایم خام نه یم
غامی لره نه خایم | پرموز به څه وه وایم
خود به پوه شی که داناۍ | که کور دیدنه ی بیناۍ
دا کار پت ندی ښکاره دی | چه قمیص څرنك پاره دی
که قمیص دوړاند چاکه وی | لیوسف به دا باك وی
زلیخا وه دامن پاك | لګناه ده بی باك
که قمیص ورستو پاره وی | خود به هرچا ته ښکاره وی

چه یوسف عصمت لرین   صداقت عفت لرین
دروغ ژن زلیخا وه   ددی کار مفسده دا وه
ځان واقف پحقیقت کړه   لزړه لر خپل شبهت کړه
چه عزیز تماشا وکړه   ننداره ی دشا وکړه
پیرهن دورست چاك وه   لګناه یوسف پاك وه
نوری مخ په زلیخا کړ   چه دا فعل واړه تا کړ
دروغ ژن ی مکاره   بڼ افعال ی بدکاره
ستاسی مکر تل عظیم وی   عاقل بویه چه پ بیم وی
و لتا دا مکر وکید   ما بی جرم کړ دی قید
بی ګناه می آزار کړ   پناحق می دل افکار کړ
ته شو تور له غلام   هم پدرست جهان بدنام
په عالم دزه رسوا کړم   منفعل ذتر هرچا کړم
ستاسی مکر عزیز خوار کړ   په بلای ګرفتار کړ
اوس ور دروم پخپل کار شه   په توبه پاستغفار شه
ددوه سترګو لیارانَ   دا تور لری کړه لځانَ
ورکه وی دسترګو نوری   چه له سترګو اوبه اوری
ویوسف ته ی بیا وه وی   ددروغ تا رښتیا ووی
پاك ی ته لږ ګناه   خلاص ی ته دبند له چاه

اما هونبره کرم وکړه　　که ته لوی نه ی لوی زړه کړه
دا حال مه وایه وچاته　　چه رانشی عیب وماته
ستا دژب چالاکی ده　　هم دا بس ستا پاکی ده
لدی پس ی نور بند کړه　　زړه په خپل عصمت خورسنده کړه
دای وه و نور روان شه　　جوړ پرور چې (؟) دیوان شه
ته هل که هر څو ښه دی　　دعزیز غوند ښه ندی
ده دحلم بخره لوئی　　پهر څای حلم نه بویه
که حلیم څووزه رب دی　　هم ی دیر قهر وغضب دی
هغه څای چه غضب کار کا　　تحمل کله هوښیار کا
هریو مرد چه بی‌غیرت شی　　په جهان کښی فضیحت شی
څن ښځی په خپل سر شی　　دی شی ښځه دای شوهر شی
مرد ته بویه چه صبور وی　　هم صبوری وی هم غیور وی

دا فلك اژدها مار دی　　خو راغلی په مار مار دی　　P. 172.
موزیٔ بند په پیچو خم یو　　څکه هسی رنك په غم یو
څوك دی خلاص ددهٔ لغمَ　　چه به نوی بی المَ
که هزار که صد هزار وی　　زخمی شوی پوار دی
پهر چا باند ظالم دی　　نشته څوك چه تر سالم دی

هر اختری پلیته دی ‎ ‎ ځن داغ دهرچا زړه دی
پهر زړی ینبی داغ دی ‎ ‎ له مرهم ی فراغ دی
پورځ شیر پشپه پلنك شی ‎ ‎ له عالم سره په جنك شی
جهان ځکه په موز تنك شه ‎ ‎ چه موز ته بل مزری پلنك شی
ماته وی څموز هیرونه ‎ ‎ نه کا غم څموز له خونه
نا اشنا سره اشنا کا ‎ ‎ بیای زر ځبله جدا کا
تبایع سره پیوند کا ‎ ‎ بیای وران دپیوند بند کا
چه په مهری څوك بند شی ‎ ‎ عاقبت به په کزند شی
که ی نور جهان افروز شی ‎ ‎ لائ زیات تر اوره سوز شی
په جهان نور انعام کا ‎ ‎ په تماشام ی خون اشام کا
په بوهار کلونه واشی ‎ ‎ عجب ښه ئ تماشا شی
را روان باند سموم کا ‎ ‎ هغه کل واړه معدوم کا
که نسیم ی غنچه واکا ‎ ‎ بیائ زر سرسر فنا کا
چنار سرو سر بلند کا ‎ ‎ په لیده ی زړه خورسند کا
سیلی راشی بنیاد کن ‎ ‎ تن ی کاند بی کردن
هر یو کل دده لغم ‎ ‎ یودم ندی بی الم
بنفشه څهره کبوده ‎ ‎ دلاله سینه پر دود
چه پهر سحر ژړا کا ‎ ‎ نرکس سر سترکی پیدا کا

دگلاب دگل ابدار کا — آب تر بیل پتاو دنار کا
گل لانوی خندا کړی — غنچه نوی سیده سپړی
بادی نوی کاند ږزکه — پریشان دی سنبل څکه
نور سپوږمی واړه غت ستوری — شپه اورغ څبله ته شوری
اور پلاس کوردی ښهرونه — پر سیزی ودان کورونه
دا ده سوبو خونو دود دی — چه اسمان پر تور کبودی
په جهان کښی څوك خورم دی — لاپه غم بنی آدم دی
چه ئ نوم بنی آدم شه — قافیه ئ څکه غم شه
نشته شك پدا دنیا کښی — راحت نشته پدنیا کښی
که د یو زمان زړه خوش کا — لا دزیات تر موشوش کا
دا دنیا دار البلا ده — غم فروش شادی نما ده
له ښاد لوئ زړه خلاص کړه — نامراد اوس ځان خلاص کړه
پدنیا کښی چه نامراد وی — هم هغه سړی دلشاد وی
دا دنیا لکه یوما ده — په خوړل دخپل اشنا ده
ځان ښکاره کا لکه دوست — بیا وکاږی ددوست پوست
هم هغه سړی ځوان مرد وی — چه ی زړه ورځن سرد وی
ورته یو خواږ ترخه شی — لا ترخ تر خوږو سه شی
تعلق نه کا ازاد وی — شاد غمجن وی غمجن شاد وی

بی برکی ودہ‌نه برك وی　　تر ژوندون خوښ په مرك وی
په ظاهر له خلق مل وی　　په باطن ورڅن بیل وی
صاف شراب دنیستی نوش کا　　دهستی څادر ور پوښ کا
وخپل مرك ته‌ی تلوار وی　　خپل صورت وربادن بار وی
کله دانی ورته اغیار شی　　په طلب دباقی یار شی
شپه او ورځ وربسی ژاړی　　بی هجران وصال غواړی
قمیص ځیری دحباب شه　　له دریاب سره دریاب شه
بی هجران وصال دا وی　　خود پوهیږی چه دانا وی
پوه دی خاص پرا نه عام　　قصه تم شوه والسلام

غزل

عبید الله

VII.

زه چه پر خواب کشی تصور کوم سروری وینم

پر معجوزوم قبول کړی پیغامبری وینم

زه چه پر خواب کشی تصور کړم دنیا فنا وینم

چه پدنیا وفا کوی زه ی خطا وینم

عمر دوه نیم ورځ ده اخر فنا وینم

شیطان غلیم درته ولاړ تیار لشکری وینم

زه چه پر خواب کشی تصور کړم آخرین ی وینم

او پر مضی کشی ی چی کورم اولین ی وینم

دی دټوله امت پیشوا ده بهترین ی وینم

دموژه لاس دده کریبان دحق رهبری وینم
ده چه لرب سره راز کړ پورته تللی وه نه
حکم درب وه جبرائیل پرده راغلی وه نه
هغه شپه وه دجمعی چه ورختلی وه نه
چه لغه ځای رخصت شه تاج پر سری وینم
دشریعت پروشنائی کتابون وینم
خدای راستولی نن پر موږ شه نعمتون وینم
سرور خیمه ده چهار یاران ی تناوون وینم
عبید الله چه خواسته کوی ولاړ پدری وینم

من دیوان

رحمان اعنی عبد الرّحمان

VIII.

کوره هسی کردکار دی رب ښما
چه صاحب (1 (دکل) اختیار دی رب ښما

همکی (2 (بزرکواران جهخوك وای)
تر (3 (همهؤ) بزرکوار دی رب ښما

(4 (نی) هیڅ حاجت(5 (پرچا باندی)موقوف(6 (دی)
نهَ دهیچا (7 (منت بار) دی رب ښما

له نیستی دهستی صورت پیدا کا
هسی رنك پروردکار دی رب ښما

هم صانع دی (8 (دجمله و) مصنوعانو
هم سامع دهر کفتار دی رب ښما

(9 (چیٔ هیچری) نه مثل نه (10 (مثال) شته
دهغو عطر(11 (و) عطار دی رب ښما

هر تعمیر چه ددنیا (12 (او) دعقبی دی
دهمه (13 (وارو) معمار دی رب ښما

---

1) om. 2) بزرکوارانو چه خوك وائی 3) همه وو 4) نه ی 5) پچا باند 6) وی 7) منت وار 8) دهمه وو 9) چه ی هیچر 10) مانند 11) د 12) و 13) وارەؤ

1) (د) شرابو هم لاهمبره مستی 2) (نوی) — لکه مست وی خمر خوار ددنیا

هر بیمار لره دارو 3) (شته) په جهان 4) (کښ) — دارو نلری بیمار ددنیا

دهر سوی 5) (دارو) وشی په جهان 6) (کی) — مگر سوی پښرار ددنیا

هرچه 7) (واچوی) واورته واړه سوځی — موړ به نشی طلبکار ددنیا

گرفتاری همیشه پغم کښ 8) (غرق) وی — هیڅوک مشه گرفتار ددنیا

تل به پروت وی پظلمت 9) (و) پتورتم کښ — چه اسیر وی 10) (پکفار) ددنیا

څه 11) (وه) بت وته سجده څه ودنیاته — بت پرست 12) (دی) پرستار ددنیا

په 13) (مسلمُ) کښ خاصه مسلم هغه دی — چیٔ وشلاوه زنار ددنیا

زویٔ لونړه یتیمان که 14) (ځنی) دروهی — بی وفا دی 15) (وفادار) ددنیا

همکی واړه تکان دی تکی 16) (کاندی) — فروشنده وخریدار ددنیا

پدنیا به مینه 17) (کاندی هیڅری) — چه خبر وی په اسرار ددنیا

چه نظر دچا په دین وپه ایمان وی — هغه نکا انتظار ددنیا

چه 18) (ویریږی) لکوهی ولکړنګ — هغه نه دروهی پلار ددنیا

آشنایانی همه واړه مکاران دی — چه ویساه 19) (ده) په مکار ددنیا

---

1) دا 2) نوه 3) om. 4) دی 5) شته 6) علاج 7) کښ 8) اچوی 9) غرقاب 10) om. پکفتار
11) و 12) وی 13) مسلمو 14) ځن 15) موړ وپلار 16) کاند 17) هیڅر 18) نکاند ویریږی
19) دی

لوی ملك ی همه واړه (1 (اغیاران) دی
(2 (چری یار دی) پدیار دددنیا

چه پیدا شی هګکی واړه فنا شی
راشه (3 (وګوره) ناتار دددنیا

هر سړی لره چه ورشی (4 (ځنی) درومی
ما لیدلی دی رفتار دددنیا

پیوه ګړی بهاروی بیا خزان وی
بقا نلری بهار دددنیا

که هزار هزار پشتی ورته کیژدی
بی بنیاد دی هر دیوار دددنیا

کداو سپینی حصار تر ځان چاپیر (5 (ګړی)
بنیمنبه (6 (وکنړه) حصار دددنیا

لك سیوری دآفتاب پیخ کبس (7 (ګرزدی)
نشته هیڅرته قرار دددنیا

هیڅ ګمان دبهتری پرو مکړه
کهتری (8 (ده وار) پوار دددنیا

بی (9 (مقرازه) غو ځوی دسړی عمر
هم (10 (دالیل و) هم نهار دددنیا

پس لمرك به حساب لسری (11 (غوښت) شی
په (12 (اندازه) په مقدار دددنیا

عاقبت خوبه یو (13 (موتی) شی (14 (دخاورو)
ګلعذار وګلرخسار دددنیا

برابر (15 (به ګدایه) سره پاځی
شاه زاده وشهریار دددنیا

پاس به داغ وی دلیم په سینه باند
هر درم وهر دنیار دددنیا

دقانع تر قناعت (16 (به) صدقه (17 (شی)
هم دنیا وهم (18 (دینار) دددنیا

پښ لمرك به همه واړه مظلوم وی
ظالمان (19 (او) ستمکار دددنیا

---

1) اغیار 2) یار دی چر 3) وګور 4) ځن 5) کړ 6) وکړ 7) ګرزی 8) دوار 9) مقراض 10) والیل و 11) غښته 12) اندازو 13) مټی 14) دخاور 15) لك ګدای 16) om. 17) شه 18) دنیادار 19) و

تر قیامت 1) (به) دغه شل 2) (و) دغه لس وی   پوره 3) (نکړ چا حساب) ددنیا
چه ایام پرده کفن دغسل ورشی   بی 4) (پردی) شی پرده دار ددنیا
په 5) (تخته) باند بیرون شی له حجاب   6) (شرمناك) وشرمسار ددنیا
تر هرچا به پیغمبر څخه وه ډیره   که څه قرب 7) (وای) یا وقار ددنیا

یو فساد بی په رحمان نشی
فسادون دی بسیار ددنیا.

هغو بیاموند سعادت پدا دنیا   چی بیاموند قناعت پدا دنیا
نه ملکون دسلیمان پهزار 8) (کاله)   نه یوه کړی طاعت پدا دنیا
یو نفس دخدای 9) (پیاد کښی اولی تر) وی   نه ددرست جهان دولت پدا دنیا
که نعمت دی خو طاعت 10) (وعبادة) دی   کنړه نشته بل نعمت پدا دنیا
پدنیا 11) (کښی) لوټ هغو عالم و وکړ   چی وکړ عبادت پدا دنیا
که محنت که مشقت دی خود دین دی   پکار ندی بل محنت پدا دنیا
بی له خدای هرچه دی واړه فانی دی   که لذت دی که زینت پدا دنیا
که بادشاه 12) (دی) آخر 13) (خاورلره) دروممی   څه عزت دی څه حرمت پدا دنیا

---

1) om. 2) د 3) نکړه هیڅا شمار 4) وا 5) تخت 6) شرمنده 7) وی 8) کال 9) په یاد اولیتر 10) او عبادت 11) کښں 12) وی 13) خاورولره

تر هغه (1 (به بل نادان) پجهان نوی   هرچه غواړی فراغت پدا دنیا
(2 (تچه چند ګڼاهی فرصت پدنیا غواړی   چا موندلی دی فرصت پدا دنیا)
(دا فلك ئې پسر دريك روان کا   هرچه کاندی عمارت پدا دنیا)
دمسنانو تر لغزش څه ګم ندی   دسړی استقامت پدا دنیا
هر ژوندی چه دمرده پقبر 3) (راشی)   (4 (بس) که هنمبره اشارت پدا دنیا
په (5 (روانو ابو) راشه عمر ګوره   دیر دی هُمبره اشارت پدا دنیا
دا پاڅه (6 (پاڅه) سرایون محلون   (7 (خوب) وران شی عاقبت پدا دنیا
وژی (8 (سترګی) داسمان څه هسی ندی   چه څوك پریږدی سلامت پدا دنیا
هرچه راشی همه واړه (9 (څنی) درومی   مسافر دی هر صورت پدا دنیا
ریاضت پقیامت نشی مردهغه دی   چې وکړ ریاضت پدا دنیا
هم پدا (10 (خویو) خصلت به صبا پاڅی   خدای څوك مکړه بدخصلت پدا دنیا
هم هغه (11 (بی) خرمن وی پس لړك   هرچه (12 (کاندی) زراعت پدا دنیا
که هغه جهان پدا کښی لیده نشی   زه ی وینم علامت پدا دنیا
پقیامت کښی (13 (به) توښه څبله (13 (و) نشی   ما (14 (لیدهلی دی) قیامت پدا دنیا
امانت به دلحد په میان کښی پروت (13 (وی)   هرچه اوسی امانت پدا دنیا

---

1) به بل نادان (2 om. (3 ورشی (4 پس (5 روان اوبو (6 پاڅه پاڅه (7 خوبه (8 استرك
9) څن (10 خوی (11 به ی (12 کاند (13 om. (14 لیدلی

نیك عمل حضور جنت دی طالع بویه — چه حاصل ك ځوك جنت پدا دنیا
نیك کردار نیك (1 (عملون) نیك (2 (خوبون) — هم جنت دی هم راحت پدا دنیا
(3 (زرّیت) دسړی عمر پعزاب کا — پکار ندی (3 (زرّیت) پدا دنیا
لاس پسر پر سینه یږدی وهرچاته — هم دغه دی شرافت پدا دنیا
که (4 (بلنده) مرتبه دچا پکار ده — لوی مقام دی عدالت پدا دنیا
بل ارمان به لجهان یوور نشی — مګر مهر ومحبت پدا دنیا
که طالع دسړی نوی چاروتلی — هیڅ پت ندی حقیقت پدا دنیا
نیك له نیكو سره (5 (بویه) بد لبدو — که ځوك غواړی ولایت پدا دنیا
ولایت دی خدای ځغوله ودکړی — (6 (چیٔ وکړ) سکونت پدا دنیا
که څه مرد دی خو هغه دی پدنیا کښ — هرچه نلری حاجت پدا دنیا
(7 چه رغبت ی دجله خطاؤ سر دی — ځوك به څه کاند رغبت پدا دنیا

(8 (پر) رحمان باند دا عمر هسی تیر (9 (شو)
لك تیر شی یو ساعت پدا دنیا

---

1) عمل (2 خوبونه (3 ذریت (4 بلند (5 بوی (6 ورکړ 7) چه add.

اعتماد په ګفتګوی دهغو مکړه — چه ی نوی صداقت پدا دنیا
لنور چا سره وکړوندی بی ځان — دشکو بعض خصومت پدا دنیا
لدوزخ ی لاس پسروی پس لمرك — دمظلومو حمایت پدا دنیا

8) په (9 شه

ښه (1 (ده) ښه (1 (ده) دا دنیا — چه توښه (1 (ده) دعُقبا

مذّمت ددنیا مکړه — (2 (واروه) پنځ (3 (کړه) دا (4 (وینا)

ددنیا په بازار کیږی — دعغه جهان سودا

پردنیا کښ ډیر حکمت دی — ورشه وپوښته حکما

که غلیم لره ی ورکړی — غلیم دوست (5 (کا) په هوا

که تر سړی صدقه کړی — رفع رفع (5 (کا) بلا

که پاور باندی کیږدی — بوی دعود (6 (وکا) پیدا

که یٔ (7 (توئی کړی) پصحرا کښ — ښائیسته (6 (کاندی) صحرا

کیٔ (8 (نذر) کړی (9 (وپیرته) — خوشحال درومی پخندا

ځو ژوندی وی پجهان کښ — یاد وی (1 (دی) پدعا

دحاتم په ځیر (10 (دستاسیٔ) — خطاب (11 (درك) دسخا

سخی هریو دخدای دوست دی — ولوکان فاسقا

هر بخیل دخدای (12 (غایم) دی — ولوکان (13 (ذا هدا)

دنیا کښت دآخرت دی — دا (14 (خبره ده) رښتیا

ددنیا طالبان ډیر دی — کیٔ مومی څوك لیا

---

1) د (2 واوره (3 کړ (4 دنیا (5 که (6 کاند (7 توښه (8 نظر (9 وبیرته (10 دستا

11) وی (12 ورکا (13 دښمن (14 زاهدا (خبر د

ولی مرد پکښ هغه دی — چه سخی وی هم پارسا .

پهٔ دنیا کښ (1 (بدی) نشته — که (2 (بدی نوی لتا)

نی (3 (ویره) شی لخدایَ — (4 (نی) شرم نه حیا

دیوی (5 (کیږی) دپاره — هزار خونی که بیدیا

همیشه ی له ستم — خلقه وی پغوغا

کوش (6 (او) هوش ی هرګز (7 (نوی) — دمظلومو پژړا

دفرعون پخبر ناست وی — (8 (بی) پروا او کبریا

(9 (بتخانه) وته ی مخ وی — ومسجد (10 (و) ته ی (11 (ستا)

اختلاط که لبدانو — له نیکانو وی (12 (جدا)

هیڅ ی نوی پخاطر کښ — تولا (12a وهتبرا

ورحمان ته (13 (پیښنه) مکړی
خدای داهسی رنګ بلا

راشه مکوه لپا سره جفا — لژ ژوندون دی ضایع کیږی بیوفا

پهٔ دنیا کښ هیڅوک ندی پاتو (14 (شوی) — واړه تلونی (15 (وی) که نن وی که صبا

---

1) خطا 2) لتا نوی خطا 3) ویر 4) نه ی 5) کیږی 6) om. 7) نوه 8) بیا 9) بت خانی 10) om.
11) وی شا 12) بلا 12a) و 13) پښن 14) شیونی 15) دی

دا یاران چه نن وناوته جلوه (1 (کا) پروه (2 (روڅی به پس واړه) شی فنا
که دبدن ددچا خوښ وی ورته ګوره چه فنا شی بیا به کله شی پیدا
دخزان (3 (پانړی چه بیلی) شی لشاخ پحکمت بیٔ پیوند نکا (4 (ند) حکما
چه پزمکه ځاڅکی پریوزی لاسمان بیا لزمکی ختی نشی پسما
ګمان مکړه چه (5 (بیا سترګو لره ورشی هغه اوښی چه له سترګو شی جدا
دا (6 (پهره روغ) چه خیژی بل بل نمر دی هرچه پریوزی هغه نشی ختی بیا
که جنت په زهد ندی بی کرم (7 (هر) سړی (8 (دخپله غاړه کا) ادا
که دنفس دپاره سل محنت (9 (وکړی) یو محنت بد پکار (10 (نشی) فردا
که تمام جهان پخپل ګیډه وخوری یاد به نشی پدرود وپدعا
که یوه دانه دوڅی پلاس (11 (کیږدی) هم دغه (12 (بدی) توښه شی دبقا
که یو ځاڅکی اوبه (13 (تږي لوه ورکړی) ددوزخ دستا تر میان به شی دریا
که یو ځله سر دخدای پلوری تیت (14 (کړی) پقیامت به سربلند (15 (شی) تر هرچا
